# ۱۰۱

# غوره کړی شوی قیصی

## د مقدس کتاب نه

اره مطر

# ۱۰۱

# غوره کړی شوی قیصی

# د مقدس کتاب نه

# فهرست


د خدائ پاک ښکلی خلقت ........................ ۹
حضرت آدم او بی‌بی حوا ........................ ۱۳
د عدن باغ ........................................ ۱۷
کورنئ ............................................ ۲۱
نوح د کشتئ جوړونکے .......................... ۲۵
د بابل برج ........................................ ۲۹
وفادار حضرت ابراهیم .......................... ۳۳
حضرت ابراهیم حضرت اسحاق قربانوی ............ ۳۸
د حضرت اسحاق د پاره ښځه ...................... ۴۲
حضرت یعقوب او عیسو .......................... ۴۶
حضرت یعقوب د کور نه لاړو ...................... ۵۰
حضرت یعقوب فرښتی سره کشتی کوی .............. ۵۴
خوبونه د خاص پیغامونو سره .................... ۵۸
یوسف د فرعون د خوب تعبیر کوی ................ ۶۲
د یوسف وروڼه مصر ته راغلل .................... ۶۶
موسیٰ د نیل په دریاب کښی ...................... ۷۰

سوزیدونکے بوټے .............................. ۷۴
حضرت موسیٰ او هارون فرعون ته خبری کوی........ ۷۹
آفتونه .......................................... ۸۳
د فسح اختر..................................... ۸۷
د قلزم د سمندر جدا کیدل ..................... ۹۱
خدائ پاک په بیابان کښی خوراک تیار کړو .......... ۹۵
لس حکمونه ...................................... ۱۰۰
د سروزرو سخے.................................. ۱۰۵
د هارون او مریم سرکشی .......................... ۱۱۰
د بلاګانو نه ویره................................ ۱۱۴
د پیتلو مار ......................................... ۱۱۹
هغه خر چی خبری یی وکړی.......................... ۱۲۳
راحب او جاسوسان ............................... ۱۲۷
یریحو ............................................ ۱۳۲
جدعون .............................................. ۱۳۶
د جدعون فوځ.................................... ۱۴۰
سمسون ........................................... ۱۴۴
روت............................................. ۱۴۹
د روت د پاره اجر.............................. ۱۵۳

سمووئیل.............................................. ۱۵۷
اسرائیل یو نوی بادشاه غواړی .................. ۱۶۱
سمووئیل ساؤل مسح کړو ........................ ۱۶۵
داؤد شپونکی هلک ................................. ۱۶۹
حضرت داؤد او جولیت ............................. ۱۷۴
د حضرت داؤد د حکمت رویه .................... ۱۷۹
یونتن او حضرت داؤد ............................. ۱۸۳
حضرت سلیمان بادشاه ............................. ۱۸۸
نوے هیکل د خدائ پاک د پاره.................. ۱۹۳
حضرت ایلیاه ........................................ ۱۹۷
مالک خدائ پاک یا بعل ........................... ۲۰۲
حضرت ایلیاه آسمان ته ځی ...................... ۲۰۷
یوه وړه غلامه ایمانداره جینئ .................. ۲۱۲
څلور جذامیان د سامریی نه ...................... ۲۱۷
د یهوسفط سندره ویونکے فوج.................. ۲۲۲
آستر یهودنړه........................................ ۲۲۷
د سوسن په محل کښی............................ ۲۳۲
حضرت یشعیاه- ته د خدائ پاک بلنه ............ ۲۳۷
د خدائ پاک یرمیاه ته بلنه ...................... ۲۴۲

څلور ربنتيني هلکان .............................. ۲۴۷
د بيلشضر بادشاه جشن ........................ ۲۵۲
دانيال د ازمرو په غار کښې ..................... ۲۵۷
حضرت يونس او غټ کب ........................ ۲۶۳
حضرت زکريا او اليشبع .......................... ۲۶۸
حضرت جبرائيل فرښته مريم ته ورغله ............. ۲۷۳
عيسیٰ مسيح په بيت الحم کښې پيدا شو............ ۲۷۸
شپونکی او هوښيار علم لرونکی سړی ............. ۲۸۳
وړوکے عيسیٰ د خُدائ په کور کښې ............... ۲۸۸
د آسمان نه آواز ................................ ۲۹۳
عيسیٰ خپل خدمت شروع کړو..................... ۲۹۸
عيسیٰ او سامری ښځه ........................... ۳۰۳
عيسیٰ جنازه ايساره کړه.......................... ۳۰۸
د کبانو رانيولو معجزه ........................... ۳۱۳
د يائير لور ...................................... ۳۱۷
برتيمائ چغی وهی ................................ ۳۲۲
يو شل سړی ته شفا ملاو شوه ..................... ۳۲۶
پنځه زره کسانو ته روټئ ورکړے شوه ............. ۳۳۱
په اوبو ګرځيدل ................................. ۳۳۶

زکائ  -یو وړوکی قد والا سړے.................. ۳۴۱
د طوفان اودرول ................................ ۳۴۶
عیسیٰ او واړه ماشومان .......................... ۳۵۰
د غرۀ په سر واقعه ........................... ۳۵۵
عیسیٰ دخدائ کور پاکوی ....................... ۳۶۰
نیک سامری.................................... ۳۶۵
عیسیٰ د مثالونو په زریعه تعلیم ورکوی............. ۳۷۰
فضول خرچه زوی............................... ۳۷۶
عیسیٰ ژاړی ..................................... ۳۸۱
عیسیٰ په خر سور دے............................ ۳۸۶
آخری مابنام..................................... ۳۹۱
په آسمان کښې کورونه .......................... ۳۹۶
د ګتسمنی په باغ کښې شپه ...................... ۴۰۱
عیسیٰ ګرفتار کړے شو........................... ۴۰۶
عیسیٰ مسیح په سولئ شو ......................... ۴۱۱
عیسیٰ بیا ژوندے شو ........................... ۴۱۶
شکی توما ...................................... ۴۲۲
د اماؤس په لاره باندی........................... ۴۲۷
لوئی خدمت...................................... ۴۳۲

د عیسیٰ آخری ملاقات او آسمان ته ختل.......... ۴۳۷
د پینټیکاسټ په ورځ.......................... ۴۴۳
ستفانوس - اولنے شهید ....................... ۴۴۸
فیلیپوس او حبشی خواجه ...................... ۴۵۳
د ساول بدلیدل .............................. ۴۵۸
د پطروس رویا ............................... ۴۶۳
پطروس په جیل کښې .......................... ۴۶۹
پولوس او سیلاس په جیل کښې.................. ۴۷۴
نوے یروشلم - زمکه او آسمان ................. ۴۸۰

# د خدایٔ پاک ښکلی خلقت

# په ابتداء کښې

مقدس کتاب د خدایٔ پاک سره شروع کیږی. هغهٔ پاس آسمانونه او لاندی زمکه زمونږ د اوسیدو د پاره پیدا کړل.

داسی وخت وو چی هر خوا ډیره تیاره وه. نهٔ مرغئ، نهٔ ځناور، نهٔ د وړو ماشومانو د خندا آوازونه وو او نهٔ داسی څهٔ مخلوق وو چی څهٔ آوازونه یی کول.

نو بیا یو آواز وشو : "رڼا دی شی" نو رڼا شوه! خدایٔ پاک تیارهٔ او رڼا بیله کړه او یو ته یئ ورځ او بل ته یئ شپه نوم ورکړو. دا هر څهٔ په اوله ورځ باندی وشول.

په دویمه ورځ خدائ پاک د ښکلی دنیا تیارول شروع کړل. هغۀ اوبۀ د هوا نه جدا کړې. بیا شین آسمان ښکاره شو.

په دریمه ورځ خدائ پاک ټولی اوبۀ یو ځائے کړلی او وچه زمکه یئ جوړه کړله. هغه میدانونه، غونډئ، او غرونه په شنو ګیاګانو، ګلونو، انګورو او ونو بوټو باندی پټ کړل. زیتون، سیوان، ګلاس، ناشپاتئ، او توتان به د دی اونو په څانګو کښی کیدل.

په څلورمه ورځ خدائ پاک په آسمان کښی یو سور او نارنجی ګول څیز کیښودو. دا نمر وو. په ماښام کښی یو ځلیدونکی سپوږمئ ښکاره شوه او ډیر ستوری هم په آسمان کښی پرکیدل.

په پنځمه ورځ اخوا دیخوا عجیبه آوازونه وو. خدائ پاک په دی ورځ څۀ پیدا کړل؟ هغه مرغئ

پیدا کړلي چې په هوا کښې الوزي او میان (کبان) یې پیدا کړل چې په اوبو کښې لامبي. په هغوی کښې هر قسم سائزونه، شکلونه او رنګونه وو. خدائ پاک ډیر مخلوق پیدا کړی دی په هغې کښې نهنګ، سره کبان، مرغۍ، بطې او شتر مرغ یو څو قسمونه دي.

په شپږمه ورځ څاروی، په زمکه خویدونکي او نور ځناور ښکاره شول. خدائ پاک غواګانې، اسونه، ګډورې، سپي، پشوګانې او ورسره شیران، ازمریان، میلوګان او سوئ او نور ډیر ځناور پیدا کړل. دا د اول بنیادم د پیدایښت د ورځ د پاره یوه ښکلې تحفه وه.

آیا تاسو ته معلومه ده چې د اول انسان نوم څهٔ وو؟ په راتلونکې قیصه کښې به تاسو د هغهٔ په باره کښې ولولئ.

په اوومه ورځ خدائ پـاک آرام وکـړو. او دا
ورځ يئ پاکه وګرځوله ځکـه چـې پـه دی
ورځ يئ ټول ښۀ کارونه سر ته ورسول.
پيدايښت ۱

والدين:- مونږ ته د ايمان په وسيله دا معلومه ده
چې عالمونه د خدائ په کلام جوړ شوی
دی، داسی نۀ ده چی څۀ چی په نظر
راځی هغه د ظاهری څيزونو نه جوړ
شوی دی. (عبرانيان ۱۱ : ۳)

ماشومان:-۱. خدائ پاک چرته اوسيږی؟
۲. ټول ژوندی څيزونه چا پيدا کړی دی؟
۳. آيا تاسو ته د يو څو څيزونو نومونه درځی کوم
چې خدائ پاک پيدا کړی دی؟

# حضرت آدم او بی بی حوا

## اول انسان او د ټولو انسانانو مور

د پیدایښت په شپږمه ورځ د خدائ پاک جوړه کړے شوی دنیا په حقیقت کښې ډیره ښکلې وه. پټې ټول شنه وو، ګلونه غوړیدلی وو، او په ځنګلونو کښې هر طرف ته د مرغو آوازونه او د ځناورو غورا وه.

خو په زمکه خلق، کورونه، پټې او هیڅ قسم ښارونه نه وو. ماشومانو د ونو لاندې لوبې نه کولې. دنیا د ښځې او سړی د خوشحالئ د پاره تیاره وه.

بیا خدائ پاک د زمکې نه خاوره واخیسته او انسان یئ ترې نه جوړ کړو. خدائ پاک په هغۀ کښې خپله ساه واچوله او هغه یئ ژوندی کړو.

خدائ پاک د دی اول انسان نـوم حضـرت آدم کیښودو.

خدائ پاک وفرمائیل، "چی زۀ به انسان د نـورو ځنـاورو نـه مختلـف جـوړ کـړم. هغـه بـه اودریدے شی، په هغۀ کښی به روح وی او زمـا پـه شان به وی. هغه به د هغه هر څـۀ مالـک وی کـوم چی په دی زمکه کښی دی."

انسان ته د کور ورکولو د پاره خدائ پاک پـه عـدن کښی یو باغ جوړ کړلو او په هغه بـاغ کښـی یـئ د ونو اوبو یو دریاب هم تیر کړو. حضـرت آدم د دی باغ ساتونکے وو. بیـا خـدائ پـاک حضـرت آدم تـه هغه ټول ځنارو راوستل کوم چی هغۀ پیدا کړی وو. هغۀ حضرت آدم پریښودو چی په هر یو خپـل نـوم کیږدی.

خو حضرت آدم په دی پوره او مکمل باغ
کښی یوازی وو. خدائ پاک وفرمائیل،
"چی دابښهٔ نهٔ ده چی سړے دی یوازی
وی. زهٔ به داسی څوک پیدا کړم چی حضرت آدم
سره به وی او د هغهٔ مدد به هم کوی." نو دی د
پاره خدائ پاک حضرت آدم په درووند خوب باندی
ودهٔ کړو او د هغهٔ نه یئ یوه پوښتئ راوښکله. او د
هغی پوښتئ نه خدائ پاک یوه ښځه پیدا کړه. او
حضرت آدم د هغی نوم حوا کیښودو. حضرت آدم
او حوا د یو بل سره مینه کوله. هغوی په هغه
ښائسته باغ کښی ډیر خوشحاله وو کوم چی هغوی
ته خدائ پاک ورکړے وو.

پیدایښت ۲

والدین:- زۀ به ستا شکر کومه ځکه چی
زۀ په یو عجیبه ډول جوړ شوے یم.
(زبور ۱۳۹ : ۱۴)

ماشومان:- ۱. حضرت آدم او بی بیحوا چا پیدا کړل؟
۲. په هغه ځناورو چا نومونه کیښودل کوم چی خدائ پاک پیدا کړی وو؟
۳. حضرت آدم اول په کوم باغ کښی اوسیدو؟

# د عدن باغ

## اوله ګناه

تر څۀ وخته پورې حضرت آدم او بی‌بی حوا په هغه ښکلي باغ کښې په امن او مینه اوسیدل خو مونږ نه پوهیږو چې څومره وخته پورې داسې وو. هغوی خدائ پاک سره داسې خبرې کولې لکه چې څوک دوست سره کوی. هغوی هغه هر څۀ کول کوم چې خدائ پاک هغوی ته ووئیل او هغوی د هیڅ قسمه شیطانی یا غلطو کارونو نه خبر نۀ وو.

اوس حضرت آدم او بی‌بی حوا ته دا زده کول پکار وو چې هغوی به همیشه د خدائ پاک د حکمونو فرمانبرداری کوی. خدائ پاک حضرت آدم او بی‌بی حوا ته وفرمائیل، "چې تاسو د دې باغ د یوې ونې نه بغیر د نورو ټولو ونو میوه خوړلې

شئ. ځکه کۀ تاسو د دی ونی میوه
وخورئ نو تاسو به مړه شئ."

اوس د دی ځناورو په مینځ کښی یوه اژدها یا یو مار وو. یعنی شیطان، هغه بد روح دی څوک چی مونږ د ګناهونو په آزمیښت کښی اچوی، او هغه په هغه مارکښی دی د پاره ورننوتو چی ښځه د ګناه په آزمائښت کښی واچوی.

هغه مار بی‌بی حوا ته ووئیل، "چی تۀ به هیڅ کله نۀ مری. خدائ پاک ته معلومه ده چی کله تۀ دا میوه وخوری نو ته به ډیره هوښیاره شی او په دی به پوهه شی چی څۀ ښۀ دی او څۀ بد دی."
بی‌بی حوا د مار خبره واؤریدله. هغی هغه میوی ته وکتل او په دی سوچ کښی پریوتله چی د دی میوی په خوړو خلق هوښیاریږی نو د دی خوند (ذائقه) به څومره ښۀ وی. هغی هغه میوه واخسته

او وئي خوړله او د خدائ پاک حکم يي مات کړلو. نو بيا بي‌بي حوا حضرت آدم ته هم ورکړله او هغهٔ هم اوخوړه.

د دی د خوړلو نه وروستو هغوی يو آواز واوريدلو. اګرکهٔ هغوی ته پته هم وه چی دا د خدائ پاک آواز دے خو بيا هم هغوی د هغه په وړاندی لکه د مخکښی په شان رانهٔ غلل. په ويره هغوی دا کوشش کولو چی خپل ځانونه پټ کړی.

د هغوی د نافرمانئ په وجه خدائ پاک بي‌بي حوا ته وفرمائيل، "چی تهٔ به ډير دردونه او تکليفونه وزغمی، او هميشه به ستا شوق د خپل خاوند طرف ته وی." حضرت آدم ته خدائ پاک وفرمائيل، "چی تا د خپلی ښځی خبره ومنله او هغه غلط کار دی وکړو کوم چی ښځی تا ته

ووئیل، نو ته به هم ټول عمر په ازغو او
غنو کښې محنت او مشقت کوی."
د دی په وجه اوس خدائ پاک حضرت
آدم او بی‌بی حوا د هغه ښائسته او مکمل باغ نه
بهر وویستل.
پیدایښت ۳

والدین:- څکه چې د یو سړی په نافرمانئ ډیر
ګناه ګار شول نو هم دغه شان د یو سړی
په فرمانبردارئ به ډیر صادق کړے شي.
(رومیان ۵ : ۱۹)

ماشومان:- ۱. حضرت آدم اوبی‌بی حوا ولی د
خدائ پاک نه پټ شول؟
۲. چا حضرت آدم او بی‌بی حوا دی ته جوړ کړل
چې د باغ نه وځی؟
۳. هغوی ولی په باغ کښې نه شو ایساریدلی؟

## ګوروئ

# حضرت آدم او بي‌بي حوا، قائن، عابل، او سيت

کله چي حضرت آدم او بي‌بي حوا د عدن د باغ نه وتل نو هغوی دنيا ته لاړل چي کار وکړی. څهٔ وخت پس خدائ پاک هغوی ته اولاد ورکړو، چي د دنيا اولنی ماشوم وو. هغوی د هغهٔ نوم قائن کيښودو. نو بيا د هغوی بل ماشوم هم پيدا شو او د هغه نوم يئ هابل کيښودو.

د قائن زميندارى خوښه وه او غوښتل يي چي غله او ميوه وکری. هابل شپون شو او په خوشحالئ يئ ګډی ساتلی.

کله چي حضرت آدم او بي‌بي حوا په باغ کښی وو نو هغوی خدائ پاک سره داسی خبری کولی لکه

ښنګه چې مونږ خپل دوست سره خبرې
کوو. خو اوس چې هغوی په دې دنيا
کښې وو نو هغوی د خدائ پاک سره د
مخکښې په شان آزادې خبرې نهٔ شوې کولې. کله
چې هغوی خپله شکرانه خدائ پاک له راوړه نو
اول هغوی د قربانۍ ځائې جوړ کړو. او بيا هغوی
هغه تحفه وسوځوله د دې ظاهرولو د پاره چې د
دې نور د هغوی سره تعلق نشته. د دې تعلق اوس
هغه خدائ پاک سره دې کوم چې هغوی اوس نه
شي کتلې. او هغوی د قربانۍ د ځائې په وړاندې
دعا هم وکړه. يوه ورځ قائن او هابل د قربانۍ په
ځائې باندې بيلې بيلې قربانۍ پيش کړې. قائن
ميوه او غله راوړله او هابل د خپلې رمې نه ګډورې
راوستو. کوم ګډورې چې هابل قربانۍ ته راوستې

وو هغه د خدائ پاک د وعده کړے شوی بچکوونکی په شان : شریف، صابر، او معصوم وو. نو په دی وجه خدائ پاک د هابل په عبادت خوشحاله شو.

خو خدائ پاک د قائن په قربانئ خوشحاله نه شو. د خپلی گناه د معافئ غوښتو په ځائے قائن ډیر غصه شو. هغه خدائ پاک ته ونه ووئیل چی ما معاف کړه.

یوه ورځ چی هغوی په پټی کښی یو ځائے وو نو قائن راپاڅیدو او هابل یی مړ کړو! او داسی د دنیا اولنی ماشوم د قتل کیدو د پاره غټ شو. هغه خپل ورور مړ کړلو.

د دی نه وروسته د حضرت آدم او بی‌بی حوا بل زوی پیدا شو نو د هغهٔ نوم یی سیت کیښودو. او د

سیت یو زوی پیدا شو چی نوم یې انوس
وو. او د دی نه پس خلقو د خدائ پاک
عبادت او نوم اخیستل شروع کړل.

پیدایښت ۴

والدین:- نو خدائ پاک هغوی ته برکت ورکړلو او
ورته یې وفرمائیل، "چې ډیر او زیات
شئ او زمکه ډکه کړئ."
(پیدایښت ۱ : ۲۸)

ماشومان:- ۱. د قائن څۀ قسم کار کول خوښ وو؟
۲. څۀ قسم څناور د هابل خوښ وو؟
۳. څوک ډیر غصه شو او خپل ورور یې مړ کړو؟

# نوح د کشتئ جوړونکے

## د تاريخ اولنئ کشتئ

ډير وخت پس په زمکه خلق ډير شول.

افسوس په دی ووئيلو، چې هغوی ډير خراب وو. او ځنګه چې خدائ پاک د آسمان نه لاندی زمکی ته وکتل نو يو ډير ښۀ انسان حضرت نوح يی وليدو. خدائ پاک حضرت نوح سره مينه وکړه. ځکه چې حضرت نوح د خدائ پاک دوست وو، خدائ پاک هغۀ ته د هغه سيلاب په باره کښی ووئيل کوم چې هغه په زمکه راوستونکے وو. خدائ پاک حضرت نوح ته حکم وکړو چې يوه کشتئ جوړه کړه. خدائ پاک هغه ته د کشتئ جوړولو ټوله طريقه وښودله.

کله چې حضرت نوح هغه لويه کشتئ جوړوله نو بغير د څۀ شک نه هغه خرابو خلقو په حضرت

نوح پوری خندل ځکه اخوا دیخوا هیڅ
اوبۀ نۀ وی. خو حضرت نوح کشتئ هم
هغه شان جوړوله څنګه چی ورته خدائ
پاک حکم کړے وو. د هغۀ د خدائ پاک په کلام
ایمان وو. حضرت نوح هغه تعلیم ورکونکے وو چا
چی خلقو ته د خدائ پاک په باره کښی او د هغه
راتلونکی سزا په باره کښی تعلیم ورکړو.

د سل کالو نه هم ډیر وخت پس کشتئ تیاره شوه.
خدائ پاک حضرت نوح ته ووئیل چی د خپلی
کورنئ اتو کسانو سره کشتئ ته ورننوزه. خدائ
پاک څۀ ځناور، مرغئ، او په خیټه تلونکی
ځیزونه هم کشتئ ته وردننه کړل دی د پاره چی
په دنیا کښی د دوی نسلونه ژوندی پاتی شی. کله
چی دوی ټول کشتئ ته په حفاظت وروختل نو
خدائ پاک دروازه بنده کړله.

اووۀ ورځی پس باران شروع شو. دا باران ځلویښت ورځی او ځلویښت شپی په یو مخه وریدو. باران داسی ووریدو لکه چی د آسمان دروازی کولاؤ شوی وی. اوبو ټوله دنیا داسی پټه کړه چی نه وچه زمکه وه او نۀ څۀ ژوندی څیزونه پاتی وو.

څۀ ډیری ورځی پس زمکه بیا وچه شوه. خدائ پاک حضرت نوح او د هغۀ کورنئ ته ووئیل چی د کشتئ نه بهر راوځئ. حضرت نوح د خدائ پاک ډیر شکرګزار وو چی د هغوی ژوند یی بچ کړو او هغوی د خدائ پاک د عبادت د پاره یو د قربانئ ځائے جوړ کړو. بیا خدائ پاک هلته یو ښکلے د بوډئ ټال جوړ کړو. او خدائ پاک حضرت نوح ته وفرمائیل چی د بوډئ ټال زما د وعدی نښه ده.

چی زۀ به بیا هیڅکله دنیا په سیلاب تباه
نۀ کړم.
پیدایښت ٦-٩

والدین:- ځکه چی تۀ داسی خدائ پاک نه یئ
چی په خراب کار خوشحاله شی او بدی
تا سره نۀ شی پاتی کیدی.
(زبور ۵ : ۴)

ماشومان:- ۱. چا حضرت نوح ته وفرمائیل چی
کشتئ جوړه کړه؟
۲. په کشتئ کښی د حضرت نوح او د هغه کورنئ
سره نور څۀ وو؟
۳. خدائ پاک په آسمان کښی د بوډئ ټال ولی
جوړ کړو؟

# د بابل برج

## د مختلفو ژبو شروع کیدل

کوم لوئ سیلاب چی خدائ پاک راوستے وو د حضرت نوح بچو هغه ډیر زر هیر کړلو. د هغوی کورنئ تر هغه پوری زیاتیدله تر څو پوری چی په دنیا کښی ډیر خلق پیدا شوی وو. خو د هغوی د زړونو خیالونه بیا خرابیدل شروع شول.

د خدائ پاک منصوبه د هغه خلقو د پاره څۀ وه چا چی غوښتل چی د هغۀ خدمت او صداقت وکړی؟ خدائ پاک نه غوښتل چی هغوی هغه خلقو سره نزدی اوسیږی چی هغه سره مینه نۀ کوی، او هغوی یی په زمکه خوارۀ وارۀ کړل. چی دوی خپل بچی د صداقت د لاری د پاره زیات کړی.

دغه شان خلقو د مشرق طرف ته سفر وکړو او میدانی زمکه یی پیدا کړله. او دوی خپلو کښی یو بل ته ووئیل، "راځئ چی ښختی جوړی کړو او په اور کښی به یی سختی کړو. او بیا به یو ښار جوړ کړو چی په کښی به یو اوچت برج وی. او داسی به مونږ خپل نومونه مشهور کړو او مونږ به هیڅ کله هم خوارۀ وارۀ نۀ شو."

نو هغوی د ښار او د برج جوړول شروع کړل. په هغه وخت کښی هغوی ټولو په یوه ژبه کښی خبری کولی. خو خدائ پاک د آسمان نه ښکته راغلو او دا څیزونه یی ولیدل او په دی هغه ډیر خفه شو. دا د هغۀ رضا نه وه چی اوس د دوی ټول په یو ځائے کښی اوسیږی.

نو بیا خدائ پاک د هغوی ژبی بدلی کړلی او هغوی داسی ژبی ووئیلی چی د دی نه مخکښی هیڅ کله نهٔ وی ووئیلی شوی. او د هغه ورځی نه وروسته په زمکه ډیری ژبی ووئیل شروع شول. رومانیان په انګلش او سپینش باندی نهٔ پوهیدل. جرمنیانو به تر هغه پوری روسیانو یا حیتیانو سره خبری نهٔ شوی کولی تر څو چی به یی د هغوی ژبه نهٔ وه زده کړی.

هغه کاریګرانو هغه ښار او برج مکمل نهٔ کړو ځکه چی دوی نور هیڅ هم د یو بل په خبره نه پوهیدل. هغوی کار بندکړلو او د یو بل نه په جدا کیدو شروع شول. په هغوی کښی ډیر نور ځایونو ته لاړل او مختلف قسمه خبری به یی کولی. او د

هغۀ نامکمل ښار نوم يی بابل کيښودو چی
مطلب يی ګډوډی ده.
پيدايښت ۱۱

والدين:- او هغه کارونه چی د هغۀ لاس کړی دی،
د هغۀ قوت څرګندوی. د زړۀ اؤ روح
کبرژن يی خوارۀ وارۀ کړی دی.
(لوقا ۱ : ۵۱)

ماشومان:- ۱. هغه خلقو چی کوم برج جوړ کړو
دهغه برج نوم څۀ وو؟
۲. آيا خدائ پاک د هغه خلقو نه خوشحاله وو؟
۳. خدائ پاک د هغه کار د بندولو د پاره څۀ
وکړل؟

# وفادار حضرت ابراهیم

## د خدائ پاک دوست

څنګه چی وخت تیریدو نو ډیرو خلقو د هغه شکلونو عبادت کولو کوم چی د لرګی او کاڼو نه جوړ شوی وو چی ورته بتان هم وائی. هغوی دا سوچ کولو چی دا بتان خدایان دی او دوی زمونږ دعاګانی آوری او زمونږ مدد کوی. دی خلقو د ربښتینی خدائ پاک نه غوښتنه نه کوله او نه هغوی د خدائ پاک د مرضئ نه خبر وو. او هغوی ډیر بد کارونه کول.

خو خدائ پاک د عر په ښار کښی یو مختلف قسم سړے ولیدو. دی سړی حضرت ابراهیم خدائ پاک ته دعا وکړه. کۀ د هغۀ نه ګیرچاپیره خراب خلق وو خو بیا هم هغۀ همیشه دا کوشش کولو چی

خپله مرضی وکړی. نو خدائ پاک حضرت ابراهیم ته وفرمائیل "چی دا ځائے پریږده. د خپل پلار کور پریږده او هغه ځائے ته لاړ شه کوم چی زهٔ تا ته ښایم. او زهٔ به تا ته برکت درکړم او د نورو د پاره به دی هم د برکت سبب وګرځوم." حضرت ابراهیم د خدائ پاک فرمانبرداری وکړه باوجود د دی چی هغه نهٔ پوهیدو.

حضرت ابراهیم خپله کورنئ، خیمی، د ګډو رمه، او څاوری ځان سره روان کړل او عُمر یی پریښودو. هغوی دریابونه سر کړل او په غرونو ترهغه وخته پوری وختل تر څو چی ملک کنعان ته ورسیدل. دا هغه زمکه وه چی خدائ پاک حضرت ابراهیم ته ښودلی وه. هغوی په هغه ذرخیزه زمکه کښی په

خیمو کښې اوسیدل. بیا خدائ پاک حضرت ابراهیم ته راغلو او ورته یې وفرمایيل چې، "زه به دا زمکه ستا بچو، او د هغوی بچو ته ورکړم، او دا به د همیشه د پاره د هغوی وی."

بیا حضرت ابراهیم یو د قربانګاه ځائے جوړ کړو او خدائ پاک ته یې قربانی وکړه. هغۀ د خدائ پاک عبادت وکړو ځکه چې هغۀ خدائ پاک سره مینه کوله، د هغه خدمت یې کولو، او د خدائ پاک په وعدو یې یقین وو.

یوه شپه خدائ پاک حضرت ابراهیم ته وفرمائیل، "کۀ تۀ دا ستوری شمارلی شې نو ویې شماره او ستا اولاد به هم داسې وی." نو د حضرت ابراهیم بچې نۀ وو خو بیا هم د حضرت ابراهیم په دې

یقین وو چی خدائ پاک بـه هغـۀ تـه ډیـر
لوئ نسل ورکړی.

بیا خدائ پاک د هغۀ نوم د حضرت ابـرام نه بدل کړو او حضرت ابراهیم یی پـری کیښـودلو. او خدائ پاک وعـده وکـړه چـی هغـه بـه حضـرت ابـراهیم او د هغـۀ ښـځی بی‌بـی سـاره تـه زوئ، خلق، او زمکه ورکړی. حضرت ابراهیم وعده وکـړه چی هغه به په وفادارئ او ایماندارئ سره د خدائ پاک خدمت کوی.

پیدایښت ۱۲ — ۱۷

والدین:- د ایمان په سبب هر کله چی حضرت
ابراهیم وبللے شو اؤ حکم یی ومنلو نو هغه
ځائ ته لاړو کوم چی یی په میراث

آخستونکے وو، اؤ سره د دِ چی دا ورته
معلومه نۀ وه چی چرته روان دے خو بیا
هم له خپل وطن نه روان شو.

(عبرانیان ۱۱ : ۸)

ماشومان:- ۱. چا حضرت ابراهیم ته ووئیل چی
خپل کور پریږده او بل چرته لاړ شه؟
۲. آیا حضرت ابراهیم د خدائ پاک سره مینه
کوله؟
۳. یو شپه خدائ پاک حضرت ابراهیم ته د څۀ
شمارلو د پاره ووئیل؟

# حضرت ابراهیم حضرت اسحاق قربانوی

## د مینې لوئ آزمېښت

یوه ورځ خدائ پاک حضرت ابراهیم ته یو ځل بیا ووئیل، "مۀ ویرېږه ابراهیمه. زۀ به تا د خپلو ټولو دښمنانو نه بچ کړم، او تا ته به د خپل خدمت لوئ اجر درکړم."

بیا حضرت ابراهیم خدائ پاک ته ووئیل، " تۀ چې ما ته هرڅۀ ښۀ راکړې خو زما خو اولاد هم نیشته چې زۀ یې هغوی ته ورکړم. "خو حضرت ابراهیم نۀ پوهیدو چې خدائ پاک به څنګه هغه ته د زوی ورکولو وعده پوره کړی، خو د هغۀ د خدائ پاک په کلام ایمان وو.

آخر، کله چې حضرت ابراهیم د سل کالو شو او بی‌بی ساره د لس کم سلو کالو شوه نو هغه وعده

کړے شوے ماشوم پيدا شو. هغوی د هغه نوم حضرت اسحاق کيښودو ځنګه چې هغوی ته خدائ پاک فرمائيلی وو. حضرت ابراهيم او بی‌بی ساره د دی ورکوټی ماشوم په کيدو ډير خوشحاله وو.

يوه ورځ خدائ پاک حضرت ابراهيم ته وفرمائيل، "ته خپل يک يو زوی واخله، چا سره چې تهٔ مينه کوی، او هغه غر ته لاړ شه کوم چې به زهٔ تا ته وښايم. او هغه دسوزيدلی قربانئ په طور قربان کړه."

د خدائ پاک په دی حکم د حضرت ابراهيم زړهٔ خفه شو، خو بيا هم هغهٔ د خدائ پاک تابعداری کول شروع کړل. حضرت ابراهيم د خپل زوی حضرت اسحاق او دوه نوکرانو او يو خر سره د شمال طرف ته روان شو.

په دریمه ورځ حضرت ابراهیم او ځوان
حضرت اسحاق په خپله هغه غرۀ ته
وختل. هلته حضرت ابراهیم یو د قربانئ
ځائے جوړ کړو. هغۀ لرګی په هغه ځائے په ترتیب
سره کیښودل، حضرت اسحاق یی وتړلو او د
قربانئ په ځائے یی سملولو. او آخر هغۀ خپله
چاړۀ اوچته کړه چی خپل زوی قربان کړی. او په
دی وخت کښی ورته د خدائ پاک فرښتی آواز
وکړو، "حضرت ابراهیمه خپل زوی حضرت
اسحاق قربان نۀ کړی. اوس ما ته معلومه ده چی
ته خپل خدائ پاک سره د خپل زوی نه هم ډیره
مینه کوی." حضرت ابراهیم د پاره دا ډیره د
خوشحالئ خبره وه!

بیا حضرت ابراهیم وکتل چی د یو ګډوری ښکر په
ځانګو کښی اِنښتی دی. حضرت ابراهیم ډیره

خوشحاله وو چی هغه ګډورے یی د خپل
زوی په ځائے قربانی کړو.
پیدایښت ۱۵ : ۱ — ۲ ؛ ۲۱ — ۲۲

والدین:- هغه سړے هم زما لائق نۀ دے څوک چی
زما نه زیاته مینه د خپل زوئ اؤ لور سره
کوی. (متی ۱۰ : ۳۷)

ماشومان:- ۱. کله چی حضرت اسحاق پیدا شو نو
د حضرت ابراهیم عمر څومره وو؟
۲. حضرت ابراهیم چا سره زیاته مینه کوله، د
خدائ پاک سره یا د خپل زوی سره؟
۳. د حضرت اسحاق په ځائے کوم ځناور قربانی
کړے شو؟

## د حضرت اسحاق د پاره ښځه

# خدائ پاك د اليعزر دعا واوريده او قبوله يې کړه

د بي‌بي ساره د مرګ نه وروسته حضرت اسحاق يوازې وو. حضرت ابراهيم غوښتل چې د حضرت اسحاق وادهٔ وکړي، خو هغه نه غوښتل چې حضرت اسحاق په هغه خلقو کښې وادهٔ وکړي څوک چې د هغوی نه ګيرچاپيره وسيدل. ځکه چې داسې ښځې به د بتانو عبادت کوی، او خپلو بچو ته به د خدائ پاک صحيح لار نهٔ ښائي.

نو حضرت ابراهيم خپل د ټولو نه زيات باوری نوکر اليعزر راوغوښتو، چا چې د هغهٔ د سپينو زرو او سرو زرو، د هغهٔ د رمو او د هغهٔ د څارويو حفاظت کولو. هغهٔ اليعزر حاران ته وليږلو. او غوښتل يې چې اليعزر د هغه د زوی حضرت

اسحاق د پاره د حاران په هغه خلقوکښې ښځه وګوري څوک چې د رښتینې خدائ پاک عبادت کوي.

لس اوښانو او ډالو (تحفو) سره الیعزر په لوئ سفر روان شو. الیعزر په اطمینان (تسلئ) سره په سفر روان شو ځکه چې هغۀ ته خپل مالک حضرت ابراهیم ووئیلي وو چې خدائ پاک به د هغۀ نه وړاندې خپله فرښته هلته لیږلې وي.

آخر الیعزر د حاران ښار ته نزدې شو. په ماښام کښې الیعزر د ښار نه بهر کوهي سره اودریدو چې دعا وکړي. هغۀ ته پته وه چې جینکئ به اوس اوبو وړلو له رازي. خو هغۀ ته دا پته نۀ وه چې کومه جینئ ښۀ ده؟ هغۀ دا فیصله وکړه چې په دوي کښې به یوې ته ووایي چې ما ته د خپل منګي نه اوبۀ راکړه. کۀ هغې په نرمئ سره جواب راکړو او ویې ووئیل چې، "اوځکه او زۀ به ستا

اوښانو ته هم اوبۀ ورکړم،" نو زۀ به پوهه شم چې کومه چې خدائ پاک غوره کړې ده.

اليعزر دعا کوله چې يوه ښائسته او ځوانه جينئ چې منګے يې په اوږو وو کوهی ته راغله. ځنګه چې هغۀ د هغې نه اوبۀ وغوښتې نو د هغې جواب په هغه الفاظو کښې وو د څۀ اوريدو د پاره چې هغۀ دعا کړې وه. ټولو ته د اوبو ورکولو نه وروستو هغې ځوانې ښځې هغه ته ووئيل چې، "زما نوم ربقه دے. ته زمونږ کور ته راشه. مونږ کره ستا او ستا د اوښانو د پاره ځائے شته دی." بيا هغه خادم خپل سر ټيټ کړو او خدائ پاک ته يې د هغه د وفادارئ د پاره سجده او شکرګزاری وکړه.

په بله ورځ بی‌بی ربقه رضا شوله چې هغه به د اليعزر سره د حضرت اسحاق د ښځې کيدو د پاره لاړه شی. کله چې حضرت اسحاق هغه وليدله، نو

د هغهٔ ربقه خوښه شوه او هغـه د حضـرت اسحاق ښځه شوه. او هغوی د یو بـل سـره تر هغه وفادار وو تر څو چی هغوی ژوندی وو.

پیدایښت ۲۴

والدین:-خدائ پاک هغو ټولو خلقو ته نزدی دی څوک چی هغهٔ ته په صداقت سره دعا کوی. (زبور ۱۴۵ : ۱۸)

ماشومان:- ۱. حضرت ابراهیم ولی نهٔ غوښتل چی حضرت اسحاق دی د خپلی زمکی په خلقو کښی ښځه وکړی؟

۲. خدائ پاک څنګه د الیعزر د دعا جواب ورکړو؟

۳. آیا ربقه الیعزر سره په تلو رضا وه؟

# حضرت يعقوب او عيسو

## د خاص جوړه ماشومانو پيدا کيدل

کله چې حضرت ابراهيم مړ شو نو خدائ پاک په حضرت اسحاق مهربانه شو او هغهٔ ته يې برکت ورکړو. د حضرت اسحاق د ښځې د ربقې ماشومان تر نولسو (۱۹) کالو پورې نه وو. حضرت اسحاق د زړهٔ د اخلاصه دعا وکړه او خدائ پاک د هغهٔ دعا قبوله کړه.

د حضرت اسحاق نه د ربقې دوه جوړه زامن عيسو او يعقوب پيدا شول. عيسو لوی شو او ښکاری شو. هغه شډل او ويښتو نه ډک وو. حضرت يعقوب خاموشه او فکر کونکې انسان وو، او په خپل کور کښې به وو او د خپل پلار د رمو حفاظت به يې کولو. حضرت اسحاق د عيسو سره د حضرت يعقوب نه زياته مينه کوله ځکه چې عيسو به

خپل پلار ته د څوی غوښه راوړه او دا
غوښه د حضرت یعقوب ډیره خوښه وه.
خو ربقی حضرت یعقوب سره مینه کوله
ځکه چی هغی ولیدل چی حضرت یعقوب ډیر هوښیار وو او خپل کار به یی په ډیر خیال سره کولو.

په هغه ورځو کښی به د مشر زوی په کورنۍ کښی د اول پیدا کیدو په وجه ډیر حق وو. د اول پیدا کیدو په وجه به هغه د ټولو ماشومانو مشر هم وو. نو دغه شان د اول پیدا کیدو په وجه د عیسو هم د حضرت اسحاق په وراثت کښی د حضرت یعقوب نه زیات حق وو.

یوه ورځ چی عیسو د ښکار نه ډیر ستړے او وږی راغلو نو د حضرت یعقوب نه یی ترکاری وغوښته. حضرت یعقوب ورته ووئیل، "چی زۀ به تا ته دا درکړم خو کۀ ته ما ته د خپل اول پیدا کیدو

(مشرئ) حق راکړی." عیسو جواب ورکړو، "چی د اول پیدا کیدو (مشرئ) په حق باندی څۀ؟ چی زۀ د لوږی مرمه." او داسی هغۀ دا حق په حضرت یعقوب باندی په یو کاسه ترکارئ خرڅ کړلو.

اوس حضرت اسحاق تقریباً ضعیف، او ړوند وو. یو ورځ هغۀ عیسو ته ووئیل "چی باهر لاړ شه او څوه ښکار کړه. او ما د پاره د دی غوښه پخه کړه ځکه چی دا زما خوښه ده او ما له یی راوړه. نو بیا به زۀ تا ته برکت درکړم."

اوس ربقی دا خبری واوریدی خو هغی غوښتل چی برکت حضرت یعقوب ته ورکړے شی! هغی حضرت یعقوب ته د عیسو جامی واغوستی، او د هغۀ په څټ او لاسونو یی د بیزی څرمن واچوله، چی حضرت اسحاق دا خیال وکړی چی دا عیسو دی. نو بیا هغی حضرت یعقوب د حضرت اسحاق

خیمی ته هغه غوښی سره واستولو کومه
چی هغی تیاره کړی وه. حضرت اسحاق
دا وخوړه او حضرت یعقوب ته یی د
عیسو په ځائے برکت ورکړو. داسی د ربقی سازش
کامیاب شو.

پیدایښت ۲۵ — ۲۸ : ۹

والدین:- هم د ایمان په سبب حضرت اسحاق د
راتلونکو خبرو په باب کښی ذکر کولو اؤ
حضرت یعقوب اؤ عیساؤ دواړو له برکت
ورکړو. (عبرانیان ۱۱ : ۲۰)

ماشومان:- ۱. د عیسو څهٔ کول خوښ وو؟
۲. په هغوی دواړو کښی کوم یو ربقی ته ګران وو؟
۳. د څهٔ څیز غوښه د حضرت اسحاق ډیره خوښه
وه؟

# حضرت یعقوب د کور نه لاړو
## خدائ پاک هغه په خوب کښې مطمئن کړو

کله چې عیسو ته پته ولګیده چې برکت د هغهٔ نه لاړو، نو هغه ډیر غصه وو. هغهٔ ووئیل، "چې زما پلار به زر مړ شي او زهٔ به بیا حضرت یعقوب مړ کړم."

کله چې ربقې دا واوریدل، نو هغې حضرت یعقوب ته ووئیل، "د کور نه لاړ شه او د عیسو د سترګو نه پټ شه. ځکه چې هغه کله تا د خپلو سترګو وړاندې نه ګورې نو د هغهٔ غصه به سړه شي."

نو حضرت یعقوب کور پریښودو او حاران ته یې یوازې سفر شروع کړو. یو ماښام هغه په لاره د آرام

د پاره او د شپی د پاره ایسار شو. هغۀ څۀ کانړی د بالښت جوړولو د پاره جمع کړل، او په هغی د آرام د پاره اودۀ شو. په هغه شپه هغۀ یو عجیبه خوب ولیدو. په خوب کښی هغۀ یوه پوړئ ولیده چې د زمکی نه آسمان ته ختلی وه، او په دغه پوړو څۀ فرښتی زمکی ته راکوزیدی او څۀ آسمان ته ختلی. پاس د پوړو په آخر سر کښی هغۀ خدائ پاک ولاړ ولیدو. خدائ پاک حضرت یعقوب ته وفرمائیل، "چې په کومه زمکه کښی چې تۀ یی دا به ستا نه وروستو ستا او ستا د بچو وی. زۀ به ستا حفاظت کوم، او تا به بیا دی زمکی له راولم."

په سحر کښی حضرت یعقوب راپاسیدو او وئی ووئیل، "چې په دی ځائے کښی خدائ پاک موجود

دے خو ما تـه معلومـه نـۀ وه! او مـا فکـر کولو چی زۀ یوازی یم. دا ځـائے د خـدائ پاک کور؛ او د آسمان دروازه ده." حضـرت یعقوب په هغه ځائے یوه غونډئ جـوړه کـړه کومـه چی هغۀ د خپل بالښت د پاره جوړه کړی وه. هغۀ هلته تیل واچول او د خدائ پاک شکر ګـزارئ یـی وکړه.

بیا حضرت یعقوب سفر شروع کـړو او آخـر هغـه د حاران ښار کښی یو کوهی ته راورسیدو. کلـه چـی هغۀ د کوهی په غاړه انتظـار کولـو نـو هغـۀ راخـل سره ملاو شو چی د هغـۀ د مامـا لـور وه. نـو هغـه دومره خوشحاله شو چی د خوشحالئ نه یی ژړل.

حضرت یعقوب هم په هغه وخت راخِل سره مینه کول شروع کړل. هغهٔ غوښتل چې راخِل د هغهٔ ښځه شي.

پیدایښت ۲۷ : ۴۶ — ۲۹ : ۱۴

والدین:- څوک چې د خدائ پاک نه ویریږی د هغوی څلور واړو طرفونو ته د خدائ پاک فرښتې وی او د هغوی حفاظت کوی.

(زبور ۳۴ : ۷)

ماشومان:- ۱. حضرت یعقوب کور ولی پریښودو؟

۲. د حضرت یعقوب په خوب کښې څوک ښکته او پاس کوزیدل او ښتل؟

۳. د پوړو په آخری سر کښې څوک ولاړ وو؟

۴. حضرت یعقوب د بالښت د پاره څهٔ استعمال کړل؟

# حضرت یعقوب فرښتې سره کشتي کوي

## یو دیرلوی سبق

کله چې حضرت یعقوب په حاران کښې وو، نو هغۀ غوښتل چې د لابان لور راخل خپله ښځه کړي. حضرت یعقوب لابان ته ووئیل، "چې زۀ به اووۀ کاله تاسره کار وکړم خو کۀ ته ما ته راخل راکړې." لابان په دې خبره راضي شو.

د وادۀ په ورځ یې ناوې حضرت یعقوب ته راوستله. او د هغه وخت د رواج په مطابق د هغې مخ په ډبلې پرده کښې پټ وو چې مخ یې ښکاره نۀ شي. د هغوی وادۀ وشو، خو وروستو چې کله حضرت یعقوب د هغې د مخ نه پرده لرې کړه نو هغه راخل نه وه د چا سره چې هغۀ مینه کوله. دا

د هغی مشره خور لیاء وه چا سره چی هغۀ
مینه نۀ کوله!

حضرت یعقوب په دی ډیر خفه وو خو هغه پخپله هم خپل پلار ته هم داسی دهوکه ورکړی وه. خو لابان ووئیل، "چی زمونږ په رواج کښی کشره خور د مشری نه مخکښی نۀ وادۀ کیږی. زۀ به تا ته راخل هم درکړم خو کۀ تۀ نور اووۀ کاله ما د پاره کار وکړی." حضرت یعقوب په دی رضا شو.

د خپل ماما د شل کالو خدمت کولو نه وروستو حضرت یعقوب خپله کورنۍ او ملکیت سره د حاران نه لاړو. کنعان د تللو په وخت هغه یو آواز واوریدو هغه ډیر ویریدو. هغۀ واوریدل چی د هغۀ ورور عیسو څلور سوو کسانو سره راروان دی. حضرت یعقوب ته رایاد شو چی عیسو د حضرت

یعقوب د کنعان پرېښودو نه مخکښې څهٔ
ووئيلی وو.
په هغه شپه حضرت یعقوب خپله کورنئ
تقسیم کړه او وئي لیږل. او هغه د هغوی نه یوازی
د دعا د پاره پاتی شو.
کله چې حضرت یعقوب یوازی وو نو هغهٔ
محسوس کړل چې یو سړے هغهٔ قابو کړے دے.
حضرت یعقوب دی سړی سره تر سحره پوری
کشتی وکړه. هغه سړے د خدائ پاک فرښته وه.
هغهٔ حضرت یعقوب له برکت ورکړو او د هغهٔ نوم
یی اسرائیل کړو.
کله چې اسرائیل خپل ورور عیسو سره ملاؤ شو نو
خپلو کښی یی صلح وکړه.
پیدایښت ۲۹ : ۱۵ — ۳۳ : ۱٦

والدین:- د خدائ پاک نظر په صادقانو دے او د هغهٔ غوږونه د هغوی فریادونه اوری.

(زبور ۳۴ : ۱۵)

ماشومان:- ۱. د هغه جینئ نوم څهٔ وو چې حضرت یعقوب ورسره مینه کوله؟

۲. حضرت یعقوب د چا سره کشتی وکړه؟

۳. څوک د څلورو سوؤ کسانو سره راغلو؟

## خوبونه د خاص پیغامونو

### سره

# یوسف خرڅ کړی شو

کله چی حضرت یعقوب خپل ملک کنعان ته واپس راغلو او د هغهٔ کشرے زوئ بنیامین پیدا شو. اوس د حضرت یعقوب دولس زامن وو.

حضرت یعقوب ته په خپلو ټولو بچو کښی یوسف ډیر ګران وو. هغهٔ یوسف سره په دِ وجه مینه کوله ځکه چی هغه د راخل زوی وو او هغه د حضرت یعقوب په بوډا توب کښی پیدا شوی وو. یوسف یو ډیر ښهٔ، ایماندار، او فکر کوونکے هلک وو. نو حضرت یعقوب د یوسف د پاره رنګداره چُغه جوړه کړه. دا د حضرت یعقوب د یوسف سره د مینی خاص نښه وه. په دی وجه د هغه مشرانو وروڼو د هغه سره ډیر حسد کولو.

يوه ورځ يوسف هغوی ته ووئيل، "دی
خوب ته غوږ ونيسئ. ما خوب وليدلو چې
مونږ ټول په پټی کښې ګيډئ تړو چې
ناڅاپه زما ګيډئ ودريدله او ستاسو د ټولو ګيډو
زما ګيډئ ته سجده وکړه." د هغۀ ورونړو هغۀ ته په
حقارت سره جواب ورکړو، "ستا څۀ خيال دے
چې تۀ به په مونږ باندی حکومت وکړی او مونږ
به تا ته ټيټ شو څۀ؟" بيا يو څو ورځې وروستو
يوسف ووئيل، "ما بيا خوب ليدلے دے. دا ځل ما
وکتل چې نمر او سپوږمۍ او يولس ستوری راغلل
او ما ته يی سجده وکړه."
اوس د يوسف د ورونړو نفرت د هغی نه هم زيات
شو. هغوی به هغۀ سره صحيح خبری نۀ کولی.
خو د هغۀ پلار په هغی ډير فکر کولو څۀ چې
يوسف ووئيلی وو.

یوه ورځ د یوسف ورونو د کور نه لرې د خپلو رمو حفاظت کولو چې حضرت یعقوب یوسف ته ووئیل چې لاړ شه او وګوره چې هر څۀ ټهیک دی.

کله چې د یوسف ورونو هغه وکتلو نو وئې ووئیل، "وګورئ د خوبونو لیدونکے دلته راغلو. رازئ چې مړ یې کړو." خو د روبن په یوسف باندې زړۀ خوږ شو او هغۀ نورو ته ووئیل چې د دې په ځائے به یې کوهې کښې وغورځوو. د هغه دا منصوبه وه چې وروستو به یې پلار ته واپس کړم.

کله چې هغوی د ماښام روټئ خوړله نو هغوی د سوداګرو یوه کافله ولیده چې په سړک رارَوانه وه. هغوی ورونو خپلو کښې صلاح وکړه چې یوسف به په هغه سوداګرو خرڅ کړو. نو هغوی خپل ورور د سپینوزرو په شل روپو خرڅ کړو.

سوداګرو یوسف مصر ته بوتلو. هغه ډېر خفه وو. د هغهٔ پلار په کور کښې ژړل، او نه پوهېدو چې یوسف باندې څهٔ چل وشو.

پیدایښت ۳۷

والدین:- ځکه چې هر چرته چې کینه اؤ خودغرضي وی، هلته فساد اؤ هر قسم بدکار هم کیږی. (یعقوب ۳ : ١٦)

ماشومان:- ١. رنګداره چُغه د چا وه؟

٢. د یوسف وروڼو د هغهٔ نه ولې نفرت کولو؟

٣. د سپینوزرو په څو روپو یوسف خرڅ شو؟

# يوسف د فرعون د خوب تعبير کوي

## د قيد نه محل ته

د يوسف مصر ته د راتلو نه ډير وخت وروستو. دا د هغهٔ د پاره ځومره عجيبه وه چې کله هغه د نيل درياب او دا لوی ښار د خلقو نه ډک وليدلو.

سوداګرو هغه په فوطيفار نومی سړی خرڅ کړو. چې د مصر د حاکم د فرعون د لښکر سردار وو يوسف ډير ښکلے او ښائسته هلک وو. د هغهٔ مالک فوطيفار ډير زر هغه په خپل کور کښې د هر څهٔ مشر کړو.

په شروع کښې د فوطيفار ښځه د هغهٔ سره ډيره ښهٔ وه. خو کله چې يوسف د هغې سره د غلط کار کولو نه انکار وکړو نو هغه د يوسف دښمنه شوه. او

هغې فوطیفار ته په دروغو ووئیل چې یوسف هغې سره د غلط کار کولو کوشش کړے دے. فوطیفار په هغې یقین وکړو او هغه یې په جیل کښې واچولو.

یوسف په خدائ پاک ایمان لرلو او په جیل کښې هغه خوشحاله، مهربانه، او مددګار ثابت شو. ډیر زر د هغه د ایماندارئ په وجه د جیل ساتونکو هغه د ټولو قیدیانو مشر کړو.

کله چې یوسف د دیرشو کالو شو نو فرعون یو خوب وکتلو د هغې په وجه فرعون په ډیر تکلیف کښې وو. د هغۀ یو خادم هغۀ ته د یوسف په باره کښې ووئیل.

ډیر زر فرعون هغه راوغوښتو او یوسف ته یې ووئیل، "چې زۀ پوهیږم چې تۀ به زما د خوب

تعبير بيان کړی." يوسف جواب ورکړو، "چې زۀ پخپله د دی قابل نه يم، خو خدائ پاک به فرعون ته ښۀ جواب ورکړی."

فرعون ووئيل چې د هغۀ په خوب کښې اووۀ ښکلی او ځربې غواګانې د درياب نه راغلی. او بيا نوری اووۀ کمزوروی او ډنګری غواګانې راغلی او هغه ښکلی او ځربې غواګانې يې وخوړلی خو دا غواګانې اوس هم کمزوری او ډنګری او په خراب حالت کښې وی.

بيا يوسف بادشاه ته ووئيل، "چې ستا د خوب مطلب دا دی چې په دی ملک کښې به اووۀ کاله ښۀ فصلونه وشی او ورپسی اووۀ کاله به قحط وی او فصلونه به نۀ کيږی او د خوراک کمے به راشی.

او هغهٔ بادشاه ته ووئیل چی داسی ځوک
پیدا کړی چی په دی اؤو ښو کالو کښی
غله جمع کړی."

بادشاه هم یوسف خوښ کړو او هغه یی د مصر دویم طاقتور حاکم جوړ کړو. خدائ پاک خپل دوست یوسف هیر نه کړو.

پیدایښت ۳۹ — ۴۱

والدین:- بختور دی هغه ځوک چه د خدائ پاک
نه ویریږی او د خدائ پاک په لارو باندی
ځی. (زبور ۱۲۸ : ۱)

ماشومان:- ۱. ولی خلقو یوسف ډیر خوښولو؟

۲. آیا یوسف د فرعون د خوب د تعبیر کولو قابل وو؟

۳. یوسف ته د هغه خوب مطلب چا ووئیلو؟

# د یوسف وروڼه مصر ته راغلل

# د هغه خوب ربښتیا شو

کله چې یوسف د مصر په زمکه حکمران شو نو هغۀ په ایمانداریٔ او غور سره خپل کار کولو.

اووۀ زرخیزه کالونه زر تیر شول، او بیا د قحط کالونه شروع شول. د کنعان په زمکه کښې هم خوراک کم شو. خو حضرت یعقوب اوریدلی وو چې په مصر کښې غله شته.

بیا د یوسف لس وروڼه مصر ته یوسف ته لاړل خو هغوی هغه ونۀ پیژندو چې هغه څوک دی. کله چې هغوی خپل سرونه هغۀ ته په زمکه ټیټ کړل نو یوسف ته بغیر د څۀ شک نه خپل خوبونه وریاد شول. هغۀ هغوی سره د سختیٔ کولو فیصله وکړه چې وګوری چې هغوی هم هغه شان

خودغرضـه او ظالمـان دی څنګـه چـی
مخکښې وو. نو يوسف هغـوی سـره لکـه د
پردوخلقو پـه سـختو الفـاظو کښـی خبـری
وکړی. هغه هغوی د جاسوسئ په الزام کښـی دری
ورځی په جيل کښی بند کړل. او بيا يـی د هغـوی
نه شمعون ايسار کړلو کله چی هغوی کور ته واپس
تلل. يوسف هغوی ته ووئيل چی تـر هغـی بيـا مـهٔ
رازئ چی تر څو خپل کشر ورور بنيامين ځان سره
رانهٔ ولئ.

غله زر ختمه شوه او هغوی سره مصر ته د بيا تللـو
نه بغير بله لار نهٔ وه. يو ځل بيـا لسـو واړو وروڼـو
يوسف ته سرونه ټيټ کړل.

د هغوی د پاره د ماښام روټئ تياره شوه او يوسـف
خپل وروڼه په ترتيب سره کيښنول. يوسـف هغـوی
د مشر نه تر کشره پوری ټول په يـو ترتيـب کښـی

کيښنول. هغوی ټول حيران شول. چې يو پردی حاکم ته څنګه د هغوی د عمرونو ترتيب معلوم دی؟

په دی وخت کښې د يوسف زړۀ راډک شو او خپلی اوښکی يی نۀ شوی قابو کولې. نو هغه زر خپلی کمری ته لاړو چی وژاړی.

يوسف ته د خپلو ورونړو د يو ځل بيا آزميښت نه وروستو معلومه شوه چې د هغۀ ورونړه نور خود غرضه او ظالمان نۀ دی. هغۀ خپل نوکران د کمری نه بهر وليږل. او هغۀ په چغو وژړل او هغوی ته يی ووئيل، "چې زۀ يوسف ستاسو ورور يم څوک چې تاسو په مصر کښې خرڅ کړے وو." يوسف په مينی او د خوشحالئ په ژړا خپل ټول ورونړه ښکل کړل.

د دی نه وروستو یوسف خپلو ورونـو سـره
ګاډی او ډیر خوراک کور ته ولیږل. یوسف
هغوی ته ووئیل چی د هغهٔ پـلار حضـرت
یعقوب او خپل ټول خاندان مصـر تـه د اوسـیدو د
پاره راولئ.

پیدایښت ۴۲ — ۴٦

والدین : دا زما حکم دے، د یو بل سره مینه کوئ
لکه چی ما تاسو سره مینه کړی ده.
(یوحنا ۱۵ : ۱۲)

ماشومان:- ۱. آیا د یوسف خوبونه رښتیا شول؟
۲. یوسف ولی خپلو ورونو سره ډیر سخت وو؟
۳. آیا یوسف د دی بد سلوکئ په باوجود د نه
بغیر هم خپلو ورونو سره مینه کوی؟

# موسیٰ د نیل په دریاب کښې

## ټوکرۍ په لوښه کښې

د یوسف په ژوندانهٔ د مصر خلق د اسرائیلو سره ډیر نرم وو او ښهٔ سلوک یې ورسره کولو. د یوسف د مرګ نه څهٔ وخت وروستو یو نوی بادشاه راغلو چې د یوسف یې هیڅ پرواه نهٔ لرله.

هغه بادشاه خپل قوم ته ووئیل، "چې راځئ چې په دې اسرائیلیانو سخت حکومت وکړو او د دوی نه د مصر د پاره سخت کار واخلو." هغه د دې نه ویریدو چې اسرائیلیان به ډیر زیات او طاقتور شي. نو هغه حکم وکړو چې د اسرائیلو ټول نوی هلکان ماشومان چې کیږي نو مړهٔ یې کړئ.

په دې سخت وخت کښې د اسرائیلو په یوې کورنۍ کښې یو ښکلے ماشوم پیدا شو. څهٔ وخته

پوری هغه مور پټ کړے وو، خو زر هغې د خپل ماشوم د ژوندی پاتې کیدو د پاره نوری منصوبې جوړولې. چې هغه څنګه خپل ماشوم د مصریانو نه بچ کړی؟ یقیناً خدائ پاک د هغې د پاره څۀ لاره جوړه کړه. نو هغې یوه وړه "کشتئ"، یا ټوکرئ د دریاب په غاړه د ولاړو لُوخو نه جوړه کړله. بیا هغې په ټوکرئ کښې ماشوم واچولو او د دریاب په غاړه یې د بوټو سره نزدې په اوبو کښې پریښودو. هغې خپله دولس کلنه لور مریم ورپسې ولیږله چې دی ته ګوری.

ډیر زر د فرعون لور او د هغې ملګرې دریاب ته د غسل د پاره راغلې او هغوی هغه ټوکرئ ولیدله. شهزادګئ خپله ملګرې ورولیږله چې دا ټوکرئ راونیسی. کله چې دوی دا کولاؤ کړه نو وړوکی ماشوم په کښې په ژړا شروع وکړه. نو شهزادګئ

ووئيل چې دا د اسرائيلو ماشوم دی. او د
هغې هغۀ سره مينه پيدا شوه.

بيا مريم چې دا يې کتل نو هغې شهزادګۍ
ته ووئيل چې زۀ به يوه عبرانۍ ښځه د دې ماشوم
د ساتلو د پاره پيدا کړم. شهزادګۍ په دې رضا
شوه او مريم زر خپلې مور پسې لاړه. کله چې د
هغې مور راغله، نو د فرعون لور هغې ته ووئيل،
"چې دا ماشوم واخله او دې لوی کړه زۀ به تا ته
د دې مزدوري درکړم." نو مور په خوشحالۍ سره
خپل ماشوم کور ته بيا بوتلو. هلته هغې هغۀ ته د
خدائ پاک ټولې لارې وښودلې.
کله چې ماشوم لوی شو نو شهزادګۍ هغه محل
کښې خپل کور ته راوستو. او هغې د هغۀ نوم
موسیٰ کيښودو.
خروج ۱ — ۲ : ۱۰

والدین:- د ایمان په سبب چی حضرت
موسیٰ لوئ شو نو د فرعون د لور د زوی
بللو نه یی انکار وکړو. ځکه چی هغۀ د
ګناه د ژوندون د یو څو ورځو د خوند
آخستو په نسبت د خدائ د امت سره د
بد سلوک زغمل زیات خوښ کړل.
(عبرانیان ۱۱ : ۲۴ — ۲۵)

ماشومان:- ۱. د هغه ماشوم نوم څۀ وو چی په
ټوکرئ کښی پروت وو؟
۲. د هغه مور ولی هغه په ټوکرئ کښی واچولو؟
۳. هغه وړوکے ماشوم چا پیدا کړلو؟

# سوزیدونکې بوټی
## په بیابان کښې آواز

حضرت موسیٰ په مصریانو کښې لوئ شو او د هغوی نه یی ډیر حکمت زده کړو. خو په خپل زړۀ کښې هغه خپلو خلقو سره مینه کوله. اسرائیلیان اوس غریبانان او داسی غلامان وو چې نفرت به تری نه کیدو. خو دوی د خدائ پاک خدمت او عبادت کولو او مصریانو د بتانو او ځناورو عبادت کولو.

حضرت موسیٰ د خدائ پاک آواز واوریدو چې د اسرائیلو مدد وکړه. کله چې فرعون د مصر بادشاه وو د هغوی د غلامئ نه د آزادئ د کوششونو نه خبر شو نو ډیر غصه شو. کله چې فرعون د

حضرت موسیٰ د مړ کولو کوشش کولو نو هغه بل ملک ته لاړو. هغه هلته شپونکے شو.

یوه ورځ حضرت موسیٰ یوه عجیبه ننداره ولیدله. چې په غر کښې په یوه اونه اور بلیدو. د دې نه لمبې ختلې خو دا بوټے نهٔ سوزیدو.

کله چې حضرت موسیٰ هغه بوټی ته نزدې شو نو د خدائ پاک فرښته هغهٔ ته د اور نه ښکاره شوه. او آواز یې وکړو، "چې حضرت موسیٰ نزدې مهٔ راځه او خپلې څپلئ (پیزار) اوباسه ځکه چې ته چرته ولاړ یې دا مقدسه زمکه ده."

بیا خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئیل، "چې اوس راشه، زهٔ به تا فرعون ته ولیږم او تهٔ به زما خلق د مصر نه راوباسې." حضرت موسیٰ جواب

ورکړو، کۀ خلقو تپوس وکړو چې خدائ پاک څوک دے؟ او د هغۀ نوم څۀ دے؟

نو خدائ پاک حضرت موسیٰ ته وفرمائيل، "چې هغوی ته ووايه چې زۀ هغه خدائ پاک راليږلے يم څوک چې واحد او هميشه ژوندئ پاتې کيدونکے دے." خو حضرت موسیٰ غوښتل چې يو خاص نښه وګوری، نو خدائ پاک دوه معجزې وکړې. اوله دا چې خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئيل چې خپله امسا په زمکه وغورزوه. کله چې حضرت موسیٰ ومنله، هغه امسا نه لوئ مار جوړ شو. بله دا چې خدائ پاک په حضرت موسیٰ د جذام بيمارى ولګوله. بيا خدائ پاک هغه مار واپس په امسا بدل کړو او د هغۀ لاس ته يې شفا ورکړه.

اوس هم حضرت موسیٰ نۀ غوښتل چې لاړ شي ځکه چې هغۀ سمې خبرې نـۀ شـوې کولې. خدائ پاک هغۀ تـه ووئيـل، "آيـا زۀ هغه خدائ پاک نۀ يم چا چې د انسان خوله جوړه کړه؟"

آخر حضرت موسیٰ د خدائ پاک خبره ومنله. هغه مصر ته لاړو. په لاره هغـۀ خپـل ورور هـارون سـره ملاؤ شـو. دواړه ورونـه پـه مصر کښـې د اسـرائيل مشرانو ته راغلل.

خروج ۲ : ۱۱- ۴

والدين:- خو خدائ پاک ما ته داسې وفرمائيل چې داسې مۀ وايه چې زۀ ماشوم يم ځکه چې زۀ تا چا ته ليږم ته به ځې او هغه هر

څهٔ به وايې کوم چې زهٔ درته وايم. او تهٔ د
هغوی نه مهٔ ویرېږه ځکه چې خدائ پاک
فرمائی چې زهٔ تا سره ستا د ساتلو د پاره
يم.

(يرمياه ۱ : ۷ – ۸)

ماشومان:- ۱. خدائ پاک حضرت موسیٰ ته څهٔ
ووئيل کله چې حضرت موسیٰ هغهٔ بوټی ته نزدې
ورغلو؟
۲. ولې خدائ پاک غوښتل چې حضرت موسیٰ دې
مصر ته واپس لاړ شي؟
۳. د حضرت موسیٰ د امسا سره څهٔ معجزه وشوه؟

# حضرت موسیٰ او هارون فرعون ته خبری کوی

## د خدائ پاک او د انسان ترمینځه جنګ

د بنی اسرائیلو سره د خبرو کولو نه پس حضرت موسیٰ او هارون د مصر بادشاه سره د ملاویدو د پاره لاړل. هغوی ووئیل چی، "زمونږ خدائ پاک، چی د اسرائیلو خدائ پاک دے هغه غواړی چی مونږ د هغۀ عبادت وکړو. د دی کولو د پاره به مونږ او زمونږ خلق دری ورځو د پاره بیابان ته ځو."

فرعون ډیر غصه شو. هغۀ ووئیل، اے "حضرت موسیٰ او هارونه تاسو ولی خپل خلق د کارونو نه اوکاږئ تاسو دلته نه لاړ شئ او دا خلق په خپلو

کارونو کښې پرېږدئ. ما ته پته ده چې ولې اسرائيليان بيابان ته د تللو خبرې کوي. ځکه چې د هغوی کارونه ختميدونکي دي نو زۀ به دوئ له نور کارونه ورکړم."

په هغه ورځو کښې اسرائيليانو د مصري حاکمانو د کورونو د پاره ښختې تيارولې. هغوی به خښتې د ختې او بوسو نه جوړولې. نو په دې وجه به مصريانو هغوی ته د خښتو جوړولو د پاره بوس ورکول. اوس فرعون ووئيل، "چې دوی پرېږدئ چې د مخکښې په شان ډيرې خښتې جوړې کړي خو د بوسو نه بغير." يقيناً دا د اسرائيلو د پاره ملاماتوونکي او د برداشت نه بهر کار وو. هغوی

به څنګه دومره بوس جمع کول او د مخکښې هومره خښتې به یې جوړولې؟

اسرائیلیان حضرت موسیٰ او هارون ته غصه شول. هغوی ووئیل چې "مونږ فکر کولو چې تاسو به مونږ آزاد کړئ خو اوس مونږ د مخکښې نه زیات تکلیف کښې شو."

حضرت موسیٰ خدائ پاک له لاړو، او خدائ پاک هغهٔ ته ووئیل، "چې لاړ شه او فرعون سره بیا خبرې وکړه او هغه ته هغه نښې وښایه کومې چې ما تا ته درکړې دی." فرعون وخاندل، او وئې ووئیل چې خدائ پاک څوک دے؟ او زهٔ به د هغهٔ حکم ولې منم؟"

بیا هارون خپله امسا لاندې وغورزوله او د هغې نه مار جوړ شو. فرعون خپل جادوګران راوغوښتل.

هغوی هم خپلو امسا ګانو نه ماران جوړ
کړل. خدائ پاک هغوی داسی کولو ته
پریښودل خو د هارون امسا نه یی داسی
مار جوړ کړلو چی هغه نور ټول یی وخوړل. اوس
هم فرعون نهٔ غوښتل چی د اسرائیلو ماشومان لاړ
شی.

خروج ۵ — ۷ : ۱۳

والدین:- زهٔ پوهیږم چی خدائ پاک به د مصیبت
زده په معامله کښی او د محتاج په حق
کښی وی. (زبور ۱۴۰ : ۱۲)

ماشومان:- ۱. اسرائیلو به د ختی نه څهٔ جوړول؟
۲. د هغوی کار ولی سخت شو؟
۳. حضرت موسیٰ د چا نه مدد وغوښتو؟

## آفتونه

# په مصر کښې لس معجزې

خـدائ پـاک حضـرت موسـیٰ تـه ووئیـل،

"چی فرعون خپل زړۀ نور هم سخت کړو او هغۀ زما د آواز اوریدلو نه هم انکار وکړو. هغه به زما خلق پری نۀږدی. په سحر کښې لاړ شه او دریاب سره نزدی اودریږه. کله چې فرعون راشی خپله امسا د مصر په ټولو اوبو وخوزوه."

حضرت موسیٰ او هارون د خدائ پاک ومنل. کله چی هارون اوبۀ په امسا وهلی نو هغه په وینی بدلی شوی. او ټول کبان مړۀ شول او په هغه ملک کښې یو عجیبه بدبوئی خوره شوه.

ووه ورځی پس خدائ پاک د وینی آفت ختم کړو، خو بیا هم فرعون توبه وونۀ ویستله. بیا د

چیندخانو آفت راغلو او ټول ملک تری ډک شو. چیندخانو به په هر کور او هر ځائے کښې ټوپونه وهل. خو د فرعون زړۀ نور هم سخت شو.

بیا هارون خپله امسا په خاوره ووهله او د ملک د ټولی خاوری نه سپږی جوړی شوی. او سپږی ټولو انسانانو او ځناورو ته وختلی.

بیا خدائ پاک ډیر مچان راولیږل او د هغی نه ټول کورونه او آسمان ډک شو. خو چرته چی اسرائیلیان اوسیدل هلته نۀ سپږی وی او نۀ مچان وو.

بیا یوه وبا د مصر په ټولو څاروو راغله او په زرګاؤ اسونه، اوښان، ګډوری، د دی بیماری په وجه مړۀ شول. خو د اسرائیلو په څاروو هیڅ قسم بیماری نۀ وه.

د دې نه وروستو حضرت موسیٰ او هـارون
د بهتئ نه ايره واخسته او بهر يې په هـوا
کښې لکه د وريځـې وويشـتله. او پـه هغـو
ټولو خلقو باندې دانې راوختلې. د دې نـه وروسـتو
مصر کښې د ږلئ داسې طوفـان راغلـو چـې داسـې
مخکښې کله نۀ وو راغلے. حضرت موسیٰ او هارون
د فرعون منت او زارۍ وکړه خو هغه اسرائيليان تلو
ته پرې نښودل.

د ږلئ د طوفان نه وروستو د مشرق نه يـو تيـز بـاد
راوالوتو او ځان سـره يـې ډيـر مُلخـان راوړل. هغـه
ملخانو هغه ټول شينکے وخوړلو کوم چې د ږلئ نـه
روغ پاتې شوې وو. او آخره کښې په مُلک کښې يـو
تورتم خور شو کوم چـې دريـو ورځـو پـورې وو. او
مصريانو نمر، سپوږمۍ، يا ستورې نۀ شو ليدلې.

نو بیا فرعون حضرت موسیٰ ته په چغه ووئیل، "چی د سترګو نه می لر شه او ما ته خپل مخ بیا ونهٔ ښائی!" حضرت موسیٰ جواب ورکړو، "چی هم دغسی به وی."

خروج ٧ : ١٤ — ١٠ : ٢٨

والدین:- ځکه چی د غلط کار د سزا حکم زر نه ورکولی کیږی نو په دی وجه د بنی آدم زړهٔ نور هم د غلطو کارونو طرف ته اوړی.

(وعظ ٨ : ١١)

ماشومان:- ١. د مصر اوبهٔ په څهٔ شی بدلی شوی؟

٢. تر ځو ورځو پوری تیاره وه؟

٣. فرعون په آخره کښی حضرت موسیٰ ته د څهٔ کولو ووئیل؟

# د فسح اختر

## په آخره کښې آزادي

اسرائيليان د خدائ پاک په حفاظت کښې وو خو مصريان د آفتونو په وجه ډير وځوريدل. خو اوس ډير مصريان د اسرائيلو د خدائ پاک نه او د هغه د خادم حضرت موسیٰ نه وويريدل. بيا حضرت موسیٰ خلقو ته ووئيل، "چې خدائ پاک به په مصريانو باندې يو بل آفت راوليږى نو بيا به هغوى تاسو پريږدى. خپل ځانونه او کورنئ په ترتيب سره يوځائے کړئ او د مصر نه د تللو د پاره تيار اوسئ. په نيمه شپه کښې به د خدائ پاک فرښته دغه زمکې ته لاړه شي او په هر کور کښې به مشران زامن مړهٔ کړى. خو ستاسو کورنئ به بچ

وی خو کۀ تاسو بالکل هم هغه وکړئ کوم
چې زۀ تاسو ته وایم."

هر یوی کورنئ ته ووئیلے شو چې یو یو ګډورے حلال کړئ. او بیا د ګډوری وینه د خپلو کورونو په چوکاټونو او نورو طرفونو باندی واچوئ. په هغه شپه هیڅوک هم د کور نه بهر مۀ ووځئ ځکه چې دا د خدائ پاک فسح ده.

په هغه شپه د مصر د زمکی نه یوه لویه چغه اوخته. په هر کور کښې مشر زوئ مړ شو. فرعون د مصر بادشاه وکتلو چې د هغۀ زوی هم مړ پروت دی او پوهه شو چې دا د خدائ پاک لاس دی. د مصر ټول خلق ډیر ویریدل کله چې هغوی خپل بچې په کورونو کښې مړۀ وکتل.

بیا بادشاه یو پیغام رسوونکی حضرت موسیٰ ته ولیږلو. هغهٔ ته یی ووئیل، "چی زر کوه د دی ملک نه وځه. خپل هر څهٔ یوسه او هیڅ پری نهٔ ږدی. او خپل خدائ پاک ته دعا وکړه چی په مونږ رحم وکړی."

نو سحر وختی اسرائیلیانو مصر د څلور سوو کالو نه پس پریښودو.

خدائ پاک د خلقو د ډلی نه مخکښی روان وو. د ورځی په وخت کښی خدائ پاک د هغوی د پاره لویه وریځ جوړه کړه او دی وریځ به د ورځی د هغوی د پاره د چهت کار کولو. او په شپه کښی به یی د دوی د پاره د اور کار کولو. دی وریځی به د ورځی د دوی رهنمائی کوله او د شپی به یی د دوی حفاظت کولو. خروج ۱۲ — ۱۳

والدین:- زمونږ د فسح ګډوری، یعنی د مسیح قربانی وشوه.

(اول کورنتیان ۵ : ۷)

ماشومان:- ۱. اسرائیلو په خپلو ورونو او درشولو باندی څۀ واچول؟

۲. هغوی داسی ولی وکړل؟

۳. په نیمه شپه کښی څوک تیریدل؟

# د قلزم د سمندر جدا کېدل

## د ورېځې او د اور د څټ په رهنمائۍ کښې

اسرائیلیان د نیل د دریاب په طرف د ورېځې او د اور د څټ د لاندې لاړل. په یو څو ورځو کښې هغوی د دریاب غاړې ته راورسیدل، د دوی مخې ته اوبۀ او نور هر خوا ته اوچت غرونه وو.

په دې دوران کښې د مصر فوج هم په دوی پسې وو. ولې چې فرعون غوښتل چې دوی د هغه ځائے د تللو نه مخکښې زرترزره واپس راولي. نو هغۀ خپل لښکر د اسرائیلو پسې راروان کړو. ډیر زر د مصر لښکر اسرائیلو پسې رانزدې شو او خلق ډیرې ویرې واخیستل.

او هغوی حضرت موسیٰ ته چغې کړې او ورته یې ووئیل چې، "تا ولې مونږ دې ویران ځائې ته راوستو؟ په دې دشته کښې د مړۀ کیدو نه دا ښۀ وه چې مونږ د مصریانو خدمت کولو!"

حضرت موسیٰ جواب ورکړو، "چې تاسو مۀ ویریږئ" اودریږئ، او ګورئ چې خدائ پاک تاسو څنګه بچ کوی. خدائ پاک به ستاسو د پاره جنګ وکړی او تاسو به بیا هیڅکله مصریان ونۀ ګورئ."

بیا هغه وریځه دوی نه وروسته پاتې شوه او د مصریانو او اسرائیلو په مینځ کښې اودریده. د اسرائیلو د پاره دا د خدائ پاک جلال وو خو د مصریانو د پاره دا خطرناکه تیارۀ وه. په هغه شپه د مشرق نه په دریاب باندې ډیره هوا وچلیده. چې

سحر شو نو په دریاب کښې وچه لار وه
چې دواړو طرفونو ته یې د اوبو دیوالونه
وو. بیا وریځه د هغوی نه مخکښې لاړه.

ټول اسرائیلیان په حفاظت سره د دریاب بل اړخ بیابان ته لاړل.

مصریانو هم وریسی خپل اسونه او ټانګې رارواني کړې وی. خو زمکه خټه شوه او ټول اسونه او ټانګې پکښې اُنښتې.

اوس ټول اسرائیلیان هلته نه تیر شول. نو بیا حضرت موسیٰ خپل لاس اوچت کړو، او اوبهٔ خپلو کښې بیا ملاؤ شوې. او د اسرائیلیانو د سترګو وړاندې د فرعون ټول لښکر په دریاب کښې ډوب شو.

بیا حضرت موسیٰ د فتح یو نظم ولیکلو،
او ټولو خلقو په یو ځائے دا ووئیلو.
خروج ۱۴ — ۱۵

والدین:- اؤ د ایمان په سبب بنی اسرائیل په بحر
قلزم داسی پوری وتل لکه چی په وچی
مزکه، خو کله چی مصریانو د پوری وتو
کوشش وکړو نو غرق شول.
(عبرانیان ۱۱ : ۲۹)

ماشومان:- ۱. خلقو ته څنګه معلومه وه چی هغوی
چرته ځی؟
۲. چا د هغوی نه وریځی لری کړی؟
۳. د فرعون په لښکر باندی څهٔ چل وشو؟

# خدایٔ پاک په بیابان کښې خوراک تیار کړو

## من او مړزان

د مصر پریښودو نه دری ورځې وروستو، اسرائیلیان د اوبو چینې ته راغلل. هغوی ډیر تږی وو، خو اوبهٔ ترخې وې او هغوی نهٔ شوی څښلی. خلقو خپلو کښې غوریدل شروع کړل. حضرت موسیٰ د خدایٔ پاک نه مدد وغوښتو او خدایٔ پاک هغهٔ ته یوه اونه وښودله. بیا حضرت موسیٰ هغه اونه په اوبو کښې وغورځوله او اوبهٔ خوږې شوی. خدایٔ پاک هر وخت د خپلو خلقو د مدد کولو د پاره تیار وو کهٔ چرې هغوی مدد غوښتو.

د دې نه وروستو هغوی یو سرسبز ځائې ته راغلل او هلته اویاه (۷۰) د کهجورو اونې او دیرې اوبهٔ

وی. هغوی هلته ډیری ورځی پاتی شول؛
د مصر د پریښودو نه وروستو دا د هغوی
اول ځل آرام وو.

اسرائیل په مخکښی روان وو او هغوی به هر وخت شکایتونه کول. هغوی حضرت موسیٰ ته دا هم ووئیل، "چی په مصر کښی مونږ د خوراک د پاره ډیر څۀ لرل. خو اوس تا او هارون مونږ دی بیابان ته راوستو چی د لوږی مړۀ شو." یقیناً خدائ پاک د هغوی دکم عقلتیا خبری اوریدی. نو خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئیل چی دی خلقو ته ووایه چی زۀ به تاسو ته د خوراک د پاره غوښه او روټئ تیاره کړم.

خدائ پاک هم هغسی وکړل څنګه چی یی وعده کړی وه. په ماښام کښی ډیر مړزان د هغوی خیمه ګاه ته راوالوتل. خلقو مړزان ونیول او وئي خوړل.

په سحر کښی خلقو په زمکه واړۀ، سپین او ګول څیزونه وکتل چی د پرخی په شان ښکاره کیدل. هغوی د دی نه مخکښی داسی څۀ نه وو کتلی. او هغوی د یو بل نه تپوسونه کول چی دا څۀ دی؟ حضرت موسیٰ هغوی ته ووئیل، "چی دا د آسمانی پلار له طرفه ستاسو د پاره ډوډئ ده. نن دومره جمع کړئ څومره چی ستاسو ضرورت وی، او خدائ پاک به صبا تاسو ته نور درکړی." خدائ پاک غوښتل چی اسرائیلیان په هغۀ باندی د خپل ورځنی روټئ د ورکولو باور ولری کوم چی من دی.

خو څهٔ خلقو نافرماني وکړه او من يي د
بلې ورځې د پاره هم جمع کړل. خو کوم
من چې پاتې شو هغه سخا شو او چنجي
په کښې وشول. خو بيا په شپږمه ورځ هغوی ته
ووئيلے شول چې د دوو ورځو د پاره چې ستاسو
څومره ضرورت دی هغه هومره جمع کړئ ځکه
چې بله ورځ به نه وی. او دا د سبت ورځ وه. دا د
آرام او د خدائ پاک د عبادت کولو ورځ وه.
تر څلويښتو کالو پورې خدائ پاک هغه خلقو ته من
هره ورځ ورکول.
خروج ۱۵ : ۲۲ — ۱۶ : ۳۵

والدین:- انسان د فرښتو روټئ وخوړله او
خدائ پاک هغوی ته رزق راواستولو او
هغوی یی ماړه کړل. (زبور ۷۸ : ۲۵)

ماشومان:- ۱. آیا د اسرائیلیانو ماشومان همیشه
خوشحاله وو؟
۲. حضرت موسیٰ د اوبو خوړولو د پاره په اوبو
کښې څۀ وغورزول؟
۳. خلقو آسمانی خوراک ته څۀ نوم ورکړو؟

# لس حکمونه

## د خدائ پاک شریعت

اسرائیلیان هغه اوچت غر ته راورسیدل چې نوم یې سینا دی. او خدائ پاک حضرت موسیٰ ته وفرمائیل، "چې لاړ شه او خلقو ته ووایه چې ځانونه پاک کړئ او تیار شئ او زۀ به د سینا غرۀ ته راکوز شم او هغوی سره به خبری وکړم." په دریمه ورځ سحر د غرۀ د پاسه توره وریځ د تندر او بریښنا سره راغله او غر یې پټ کړو. خدائ پاک غرۀ ته راښکته شو او د موسیٰ په زریعه یې ټولو خلقو ته لس حکمونه بیان کړل:

۱. زما نه بغیر په نورو خدایانو ایمان مۀ لرئ.

د دی مطلب دا دی چې مونږ د هر څۀ نه زیاته مینه خدائ پاک سره ولرو.

۲. تاسو به ځان له تراشلي بتان نۀ جوړوئ، نۀ به ورته سجده کوئ او نۀ به يې عبادت کوئ.

تراشلي شوی څيزونه کۀ د سروزرو، کۀ د سپينوزرو، کۀ د لرګی وی او کۀ د کاڼی وی څوک نه شی بچکولے.

۳. تاسو به د خپل خدائ پاک نوم (قسم) بی مقصده نۀ اخلئ.

د خدائ پاک نوم مقدس دی، په دی وجه چی کله خدائ پاک يا انسان سره خبری کوی نو د خدائ پاک نوم په درناوی اخلئ.

۴. د سبت ورځ ياد لرئ او دا مقدسه ګڼئ.

د خدائ پاک په باره کښې فکر کوئ، نورو سره ښهٔ کوئ، او په دې ورځ د ټولو ضروري کارونو نه آرام کوئ.

۵. د خپل پلار او مور قدر او عزت کوئ.

د خپل پلار او مور فرمانبرداري کوئ او هغوی سره د زړهٔ نه مينه کوئ.

۶. تاسو قتل مهٔ کوئ.

خلق مهٔ تباه کوئ ځکه چې ښځه، سړے، هلک او جينئ ټول د خدائ پاک په صورت جوړ شوی دی.

۷. تاسو زنا مهٔ کوئ.

يو سړے به هم خپله ښځه نهٔ پرېږدی او بلې ښځې سره به نهٔ اوسيږی. هم داسې به يو ښځه هم

خپل خاوند نۀ پرېږدى او د بل سړى سره
به نۀ اوسيږى. خپل ځان پاک وساتئ.

۸. تاسو غلا مۀ کوئ.

که چرى تاسو د چا نه څۀ پټ کړى وى، نو هغه
واپس کړئ يا يى قيمت ورکړئ.

۹. تاسو په خپل ګاونډى د دروغو ګواهى مۀ
ورکوئ.

هيڅکله هم دروغ مۀ وايى صرف رښتيا وايى.

۱۰. تاسو هيڅکله هم د خپل ګاونډى د کور يا د
څۀ لالچ مۀ کوئ.

مونږ ته هيڅکله هم د هغه شى خواهش نه دى
کول پکار کوم چى د بل چا وى.

خروج ۱۹ — ۲۰ : ۱۷

والدين:- خو د شريعت ورکوونکے اؤ قاضی
خو يکی يو دے چی د بچ کولو اؤ د
هلاکولو توان لری، خو تهٔ څوک ۓ چی
په خپل ګاونډی الزام لګوی؟

(حضرت يعقوب ۴ : ۱۲)

ماشومان:- ۱. خدائ پاک چرته وو کله چی هغهٔ
خلقو سره خبری کولی؟
۲. لس اصولو ته څهٔ وايی؟
۳. مونږ ته د چا سره ډيره مينه کول پکار دی؟

## د سروزرو سخې

# په خیمه ګاه کښې ګډوډي

خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئیل چې د سینا غرۀ ته بیا راشه. هغۀ حضرت موسیٰ ته د کاڼي هغه دوه تختې ورکړې په کوم چې خدائ پاک په خپلو ګوتو پخپله هغه لس د شریعت حکمونه لیکلي وو.

خدائ پاک حضرت موسیٰ ته د عبادت ځائے یعنی د جماعت د جوړولو نقشه هم وښودله. د اسرائیلو بچې به دا د سفر په دوران کښې د عبادت د پاره استعمالوی.

کله چې حضرت موسیٰ په غرۀ کښې وو نو اسرائیلو د هارون نه ډیر مکار او عجیبه څیزونه وغوښتل. هغوی ووئیل، "چې راشه او مونږ ته

خدائ پاک جوړ کړه چې مونږ یې عبادت وکړو. او وئې ویل چې حضرت موسیٰ نه مونږ نه یو خبر چې څهٔ چل پرې شوے دی."

هارون په ایمان کښې دومره مضبوط نه وو څومره چې حضرت موسیٰ وو. نو ځکه هغهٔ خلقو ته ووئیل، "چې خپلې والئ د غوږونو نه اوباسئ او ما ته یې راوړئ." هارون هغه سرهٔ زر ویلې کړل او د یو سخي شکل یې ترې جوړ کړو. هارون هغه سخي هغوی ته بهر راویستلو. او بیا هغه په چغه ووئیل، "ائ اسرائیلو دا ستاسو هغه خدائ پاک دی چا چې تاسو د مصر نه راویستلئ." بیا د دې نه پس هارون د قربانئ ځائے جوړ کړلو او وئې

ووئيل، "چې صبا به د خدائ پاک د پاره
د اختر ورځ وى!"

په بله ورځ سحر وختى هغوى راپاڅيدل او
هغه سخى ته يى سوزيدونکى قربانئ پيش کړى.
هغوى د هغه بت په وړاندى هر څۀ وخوړل،
وڅښل، او خوشحالى يى وکړه.

خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئيل چې زر خيمه
ګاه ته لاړ شه ځکه چې هغه خلق ګمراه شوى دى.
حضرت موسیٰ د خدائ پاک منت وکړو چې د هغۀ
خلق تباه نۀ کړى. نو خدائ پاک اسرائيليان معاف
کړل او حضرت موسیٰ يى هغوى ته د کاڼو تختښتو
سره لاندى وليږلو.

حضرت موسیٰ ډير خفه شو چې کله يى هغه خلق
د سروزرو سخى نه ګير چاپيره په خرابو کارونو

وکتـل. او حضـرت موسـیٰ هغـه د کـاڼی تختبتی په زمکه راویشتلی او ټوټی ټوټی یی کړی.

حضـرت موسـیٰ هغـه د سـروزرو سـخے لانـدی راوغورزولو، وئي سوزولو، او میده میـده یـی کـړو. بیا یی هغه په اوبو کښی واچولـو. او خلقـو بانـدی یی هغه ترخی اوبهٔ اوڅښلی کومو کښی چی یی د سروزرو د سخی میده اچولی وه.

خروج ٣١ : ١٨ — ٣٢ : ٣٥

ین:- اؤ تاسو بت پرست مهٔ جوړیږئ لکه چی په هغوئ کښی چې ځنی جوړ شوی وو، لکه څنګه چی لیکلی دی چی : ((خلق

خوراک ښناک ته ګښیناستل، بیا مستئ

کولو ته پورته شول.))

(اول کورنتیان ۱۰ : ۷)

ماشومان:- ۱. چا لس حکمونه په کاڼی باندی ولیکل؟

۲. کوم څناور ته به خلقو دعا کوله؟

۳. حضرت موسیٰ په اوبو کښی څۀ واچول چی بیا یی په خلقو وڅښل؟

# د هارون او مريم سرکشی
# په خاندان کښی کېدوډی

اسرائيليان تقريباً تر يو کال پوری د سيناه غرۀ سره اوسيدۀ. په دی دوران کښی هغوی عبادت خانه، يا کليسا جوړوله او ورسره يی د خدائ پاک هغه شريعت زده کولو کوم چی د حضرت موسیٰ په وسيله هغوی ته ورکړے شوے وو.
حضرت موسیٰ د اسرائيلو مشر وو ځکه چی خدائ پاک هغه غوره کړے وو. او هغه دومره عاجز او حليم وو چی د زمکی په مخ داسی بل څوک نۀ وو. يوه ورځ د حضرت موسیٰ خور مريم او ورور هارون په حضرت موسیٰ پسی خبری وکړی. د هغوی دا شکايت وو چی حضرت موسیٰ يو داسی ښځی سره وادۀ وکړو چی هغه اسرائيلئ نۀ ده. هغوی دا دعوه هم وکړه چی خدائ پاک خو صرف هغۀ سره

خبرى نۀ کوى بلکه مونږ سره هم خبرى کوى. او مونږ دى ولى د خلقو مشران نۀ شو؟

ولى مريم هغه وخت حضرت موسىٰ ته نۀ کتل کله چې هغه ورکوټے ماشوم وو او په ټوکرۍ کښې وو؟ ولى هارون او مريم د خلقو خبرى نۀ وى اوريدلى؟ ولى هغوى د خدائ پاک معجزى نه وى کتلى؟ خو د دى په باوجود هم هغوى داسى وکړل لکه څنګه چې وارۀ ماشومان د يو بل سره حسد کوى.

خدائ پاک هغه ټولى خبرى واوريدى کومى چې هارون او مريم وکړى. خدائ پاک په وريځ کښې لاندى راغلو او هغوى دواړو سره يې د عبادت خانې په دروازه کښې خبرى وکړى. خدائ پاک هغوى ته وفرمائيل چې، "حضرت موسىٰ زما فرمانبرداره خادم دے او هغه ټول زما د رضا

کارونه کوی. زۀ هغۀ سره ښکاره خبری کووم. تاسو د حضرت موسیٰ خلاف خبرو کولو باندی ولی ونۀ یریدلئ؟ بیا هغه وریځ د عبادت خانی نه لری شوه ځکه چی خدائ پاک هغوی ته ډیر غصه وو. د وریځی تلو نه وروستو هارون ولیده چی مریم لکه د واوری سپینه شوی ده او په یوه داسی خرابه بیمارئ اخته شوی ده چی ورته جذام وائي. خدائ پاک دا بیماری د سزا په طور په هغی باندی د هغی د مکارئ په وجه ولږوله.

بیا هارون په ډیر خفګان سره ووئیل، "مونږ ګناه کړی ده." هغۀ حضرت موسیٰ ته ووئیل چی مونږ معاف کړه او د مریم د شفا د پاره یی د هغۀ منت وکړو. بیا حضرت موسیٰ د هغی د شفا د پاره خدائ پاک ته دعا وکړه او خدائ پاک د هغۀ دعا

واوریده. خدائ پاک مریم ته د جذام نه
شفا ورکړه کله چې هغه اووۀ ورځې د
خیمه ګاه نه بهر وه.

بیا خلقو د کنعان طرف ته سفر شروع کړو.

شماره ۱۲

والدین:- ګورئ! د خدائ پاک نظر په هغه خلقو
دی څوک چې د هغۀ نه ویریږی، او
څوک چې د هغۀ د رحم امیدوار دی.
(زبور ۳۳ : ۱۸)

ماشومان:- ۱. آیا خدائ پاک د هارون او د مریم
شکایت واوریدو؟

۲. آیا خدائ پاک اوس هم آوری کله چې خلق
شکایت کوی؟

۳. هغه وخت خدائ پاک چرته وو کله چې هغه
هارون او مریم سره خبری وکړې؟

## د بلاګانو نه ویره

# په اکادس او په برنیا کښې د خلقو ګوریدل

اسرائیلیان د کنعان زمکی ته نزدی یو ځائے ته راغلل چې ورته اکادس او برنیا ووئیل کیدل. هغوی دا امید لرلو چې هغوی به زر خپل هغه ملک ته لاړ شی چرته چې به د هغوی کورونه وی. خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووفرمائیل چې دولس کسان مخکښې اولیږه چې هغوی وګوری چې هغه زمکه ښنګه ده. په یو ځائے کښې هغوی د انګورو غونچې پریکړی. دا دومره غټې او درنې وې چې دوٌو کسانو په اوږو به یو لرګی باندی اوړلے شوی. څلویښت ورځې پس هغه کسان خیمه ګاه ته واپس راغلل څوک چې د هغه زمکی د حالاتو معلوملو د

پاره تللی وو. هغوی ووئیل چی، "هغه
زمکه به زمونږ د ښاروو د پاره ډیره ښهٔ
وی ځکه چی هلته ډیره ګیاه او ډیری
اوبهٔ دی. مونږ وکتل چی پټی ښهٔ غله پیدا کوی،
او په کښی ډیر د میوو بوټی دی. خو د هغه ځائے
خلق ډیر مضبوط دی. د هغوی ښارونو نه
ګیرچاپیره غټ غټ دیوالونه دی. څهٔ خلق یی د
دیوانو په شان غټ دی او مونږ د هغوی په وړاندی
د ملخانو په شان ښکارو."

په لیږلو شوو کسانو کښی یو چی نوم یی کالب وو
ووئیل، "چی دا هر څهٔ رښتیا دی خو اوس رازئ
چی بغیر د څهٔ ویری په هغه زمکه قبضه وکړو.
ځکه چی خدائ پاک زمونږ په طرف دے او هغه
به مونږ ته په دی خلقو باندی فتح راکړی."

خو د یشوع نه بغیر نورو ټولو کسانو ووئیل چې، "نه مونږ په هغوی حمله نۀ شو کولے. او مونږ هیڅکه هغه ښارونه نۀ شو قبضه کولے او هغه زورآورو خلقو باندی نۀ شو غالب کیدلے."

هغوی دا هیر کړی وو چې خدائ پاک هغوی د مصر نه راخلاص کړل. هغوی دا هم هیر کړی وو چې خدائ پاک هغوی په بیابان کښې د خطرو نه وساتل. خدائ پاک هغوی ته د کاڼی نه اوبۀ، د آسمان نه روټۍ، او د غرۀ نه شریعت ورکړو.

په هغه شپه خلقو خوب ونۀ کړو. هغوی ټولو په حضرت موسیٰ او هارون باندی الزامونه لګول او ووئیل یی، "چې خدائ پاک دی مونږ پریږدی چې په مصر کښې مړۀ شو." او بیا هغوی خپلو کښې

ووئيل چې، "رازئ خپل يو سردار جوړ کړو او واپس مصر ته لاړ شو!"

خو خدائ پاک حضرت موسیٰ ته ووئيل چې، "تر کومه پورې به دوی زما نه نفرت کوی او زما سپکاوی به کوی! په دې ګوريدونکو خلقو کښې به يو کس هم هغه وعده کړې شوې زمکې ته لاړ نۀ شی. په هغوی کښې به هيڅوک هم لاړ نۀ شی چې عُمر يې شل کاله يا د دې نه زيات وی د يشوع او کالب نه بغير ځکه چې هغوی هميشه زما فرمانبرداری کړې ده."

شماره ۱۳ — ۱۴

والدين:- خو د خدائ پاک لاره کامله ده. د خدائ پاک کلام خالص دې. او خدائ پاک د

هغوی ټولو ډال دی څوک چی په هغه باندی ایمان لری. (زبور ۱۸ : ۳۰)

ماشومان:- ۱. لیږلې شوو کسانو د ځان سره د کنعان نه څۀ راوړل؟

۲. اسرائیلیان ولی کنعان ته د تلو نه ویریدل؟

۳. په لیږلی شوو کسانو کښی کوم دوه وفادار وو؟

## د پيتلو مار

# د ايمان اهميت د ليدلو د نظره

څو کاله وروستو اسرائيليانو بيا کوشش وکړو چې د کنعان زمکې ته لاړ شي او هغوی په ادوم نومې ملک کښې د هلته تلو د پاره لاره پيدا کړله.

حضرت موسیٰ خپل کسان د ادوم بادشاه ته واستول. هغوی بادشاه ته ووئيل، " مهرباني وکړه مونږ ته په خپل ملک کښې د تيريدو اجازت راکړه. مونږ به ستاسو زمکې ته او خلقو ته هيڅ نقصان نۀ رسوو. مونږ به په لاره سيده ځو او نۀ به ګس طرف ته او نۀ به ښی طرف ته تاويږو. مونږ به ستاسو د کوهيانو اوبۀ تر هغې نۀ څښو تر څو چې مونږ د هغې پيسې ور نۀ کړو." خو د ادوم بادشاه

انکار وکړو. نو بیا هغوی به د ادوم نه په بله لار تلل.

خو په دی لوئ سفر کښی خلقو بیا د حضرت موسیٰ شکایت شروع کړو. هغوی ووئیل، "تا ولی مونږ دلته راوستو؟ دلته خو نۀ اوبۀ او نۀ روټی شته د دی من نه بغیر او د دی نه هم زمونږ زړونه ماړۀ دی! زمونږ خواهش دے چی مونږ ټول مصر ته واپس شو!"

نو خدائ پاک په هغه خلقو کښی زهریلا ماران راولیږل. دی مارانو ته به یی "سوزیدونکی ماران ووئیل،" ځکه چی دی به چاته ټک ورکړو نو د هغۀ هغه ځائے به ګرم شو، وبه پړسیدو او هم به تږی کیدو. ډیر خلق د دی مارانو په ټکونو مړۀ شول.

اوس خلقو وکتل چی هغوی باندی دا هر څۀ د خدائ پاک او د حضرت موسیٰ خلاف د خبرو په

وجه وشول. نو په دی وجه هغوی بیا د
خپلی گناه اقرار وکړو او حضرت موسیٰ ته
یی ووئیل چی د هغوی د پاره دعا وکړی.
نو حضرت موسیٰ د هغوی د پاره هم هغسی دعا وکړه لکه څنگه چی یی ورته مخکښی کړی وه. خدائ پاک د حضرت موسیٰ دعا واوریده او ورته یی ووفرمائیل، "چی د پیتلو نه د دی سوځیدونکی مار په شکل یو مار جوړ کړه. او په لرگی یی یو داسی ځائے کښی ځوړند کړه چی خلقو ته ښکاری. او چا ته چی مار ټک ورکړی نو هغوی دی دی مار ته وگوری نو هغوی به ژوندی پاتی شی."
حضرت موسیٰ هم هغسی وکړل څنگه چی ورته خدائ پاک حکم کړے وو. د دی نه وروستو چی به څوک مار وخوړل نو هغوی به هغه مار ته وکتل

او شفا به ورته ملاؤ شوه.

شمير ٢٠ : ١٤ — ٢١ : ٩

والدين:- لکه څنګه چې حضرت موسیٰ په بيابان کښې مار په لوړه خيژولے وو دغسې به ابن آدم هم وخيژولے شی، د پاره د دِ چې هر څوک چې په هغهٔ ايمان راؤړی نو هغه به هم په هغهٔ کښې د تل ژوند ومومی.

(يوحنا ٣ : ١٤- ١٥)

ماشومان:- ١. خدائ پاک هغه ګوريدونکو خلقو ته څنګه سزا ورکړه؟

٢. حضرت موسیٰ په لرګی څهٔ ولګول؟

٣. هغه خلقو به د شفا حاصلولو د پاره څهٔ کول؟

# هغه خر چې خبرې يې وکړې

## بلعام يوې فرښتې ايسار کړو

اسرائيليان د مواب زمکې ته لاړل. موآبيان او د هغوی بادشاه، چې نوم يئ بلک وو هلته اوسيدل. بلک د اسرائيلو نه ويريدو، نو دی د پاره هغه يو پيغمبر چې نوم يی بلعام وو هغوی باندی د لعنت راوستلو د پاره وليږلو. هغۀ غوښتل چې بلعام خدائ پاک ته ووائي چې په اسرائيلو باندی لوئ آفتونه رانازل کړی.

نو خدائ پاک بلعام ته ووئيل چې، "ته به دی خلقو ته خيری نۀ کوی، ځکه چې دوی ته برکت ورکړے شوے دے." خو د بلعام مالداری او لوئ والے خوښ وو. هغۀ د هغه سپينو او سرو زرو په وجه په اسرائيلو د لعنت کولو د پاره په آزميښت

کښی شو کوم چی هغۀ ته د بادشاه له طرفه ملاویدل. نو هغه د دی د پاره سحر وختی په خپل خر روان شو.

خدائ پاک خپله فرښته هغه ته راولیږله چی هغۀ سره په لاره ملاو شی. بلعام ته فرښته نه ښکاریده خو د هغۀ خر ته ښکاره شوه. او خر د لاری نه پټی ته کوز شو او بلعام هغه په چوکه وهلو.

زر فرښته بیا هغوی ته په لاره یو داسی ځائے کښی ښکاره شوه چی دواړه طرف ته یی د کاڼو دیوالونه وو. خر بیا فرښته ولیده او د لاری نه تاو شو او د بلعام ښپی یی په دیوال پوری ومږلی او خوږ یی کړلو. نو بلعام په غصی سره خر بیا وهلو.

یو ځل بیا د خدائ پاک فرښته خر ته ښکاره شوه. فرښتی په یو تنګ ځائے کښی لاره بنده کړه چرته

چی خر نۀ شو تیریدلی. کله چی خر راوغورځیدلو نو بلعام نور هم غصه شو او خر یی بیا په خپله چوکه وهلو.

بیا خدائ پاک هغه خر په خبرو کړو او خر ووئیل، "چی ما څۀ کړی دی چی زۀ تا دری ځله وهلم؟"

په دغه وخت بلعام نور هم غصه شو ځکه د هغۀ په خیال کښی د یو ځناور خبری کول څومره عجیبه وه. هغۀ جواب ورکړو، "ما ځکه وهلی چی تۀ هلته نۀ ځی چرته چی تاته تلل پکار دی. کۀ ما سره توره وه نو ما به تۀ مړ کړے وی!"

خر بیا خبری وکړی. "آیا مخکښی ما ستا نافرمانی کړی ده؟ ولی تۀ ما باندی ظلم کوی؟"

نو بیا خدائ پاک د بلعام سترګی کولاؤ کړی چی هغه توره په لاس فرښته وګوری. او بلعام چی کله هغه فرښته وکتله نو پړمخ پریوتو او د خپلی ګناه اقرار یی وکړو.

شماره ۲۲

والدین:- هغوی نیغه لاره پریښودله ، بی لاری شوی دی اؤ د بعور د زوئ بلعام په لار روان دی چی یی د ناراستئ مزدوری غوره وګڼله. (دویم پطروس ۲ : ۱۵)

ماشومان:- ۱. چا خر په خبرو کړو؟
۲. خر څۀ ووئیل؟
۳. بلعام ولی غصه شو؟

# راحب او جاسوسان

## هغه سرا رسئ چې بچ شوه

کله چې حضرت موسیٰ کار ختم کړو، نو خدائ پاک هغه د نبو غرۀ ته راوغوښتو چې ورته وعده کړے شوے، ملک وښائی. هلته حضرت موسیٰ مړ شو او خدائ پاک هغه ښخ کړو. او چا د هغه قبر پیدا نه کړو.

خدائ پاک یشوع راوغوښتو او د حضرت موسیٰ په ځائے یی هغه مشر کړو. هغۀ خپلو افسرانو ته حکم وکړو، "چې لاړ شئ او خلقو ته ووایی چې د ځان د پاره خوراک تیار کړی ځکه چې په دریو ورځو کښې به مونږ د اُردن دریاب نه پورې وځو."

د دریاب په بله غاړه د یریحو ښار چې ګیرچاپیره ترې نه اوچت دیوالونه وو آباد وو. د نور ملک د

فتح کولو نه مخکښې د دې ښار فتح کـول ضروري وو.

یشوع دوه جاسوسان د یریحو ښـار د کتلـو د پاره ولیږل. او هغوی د راحب نومې ښـځې کـور ته لاړل. هغې جاسوسان پټ کړل چې څـوک ورتـه نقصان ونهٔ رسوی.

د یریحو بادشاه ته پته ولګیدله چې دا دواړه پردی سړی د راحب کور ته لاړل. نو هغهٔ خپـل افسـران ولیږل چې هغوی ونیسی. خو هغوی هغه اسـرائیلی سړی پیدا نه کړل ځکه چې راحب هغوی د خپلی کوټې په سر د خشاک لاندی پټ کړل.

کله چې افسران لاړل، نو راحب هغـه جاسوسـانو له راغله او ورته یی ووئیـل، "چـی مـونږ تـه او د دی ملـک ټولـو خلقـو تـه معلومـه ده چـی ستاسـو

خدائ پاک ډير لوئ او قدرت والا دی، او هغۀ تاسو ته دا ملک درکړے دے. مونږ ته معلومه ده چې هغۀ څنګه د درياب اوبۀ وچې کړې، او په بيابان کښې يې ستاسو رهنمائي وکړه، او تاسو ته يې ستاسو په دښمنانو باندې فتح درکړه. او په دې وجه زمونږ خلق ستاسو نه ډير ويرېږي. "

اوس راحب هغوی ته ووئيل، "چې ماسره د خدائ پاک په نوم وعده وکړئ چې کله تاسو دا ښار نيسئ نو ما ته او زما ټول خاندان ته به هيڅ نۀ وايئ."

جاسوسانو هغې ته جواب ورکړو، "مونږ به خپل ځانونه ستاسو د پاره پيش کړو او تاسو ته به هيڅ

نقصان ونۀ رسی، ځکه چی تا زمونږ ژوند
بچ کړلو."

د راحب کور د ښار په دیوال باندی تعمیر
وو. هغی د کور د کړکئ نه د سور رنګ رسئ ښکته
کړه. بیا جاسوسانو هغی ته ووئیل، "چی کله
زمونږ سړی راشی نو تۀ ضرور دا سره رسئ د خپل
کور د کړکئ نه ځوړنده کړه. نو بیا به هغوی تاسو
ته هیڅ نقصان ونۀ رسوی."

په هغه شپه هغه دواړه جاسوسان په رسئ ښکته
شول. او د یشوع طرف ته روان شول او هغه هر څۀ
یی ورته ووئیل څۀ چی هغوی کتلی وو.

استثنه ۳۴؛ یشوع ۱ — ۲

والدین:- په دے حالت کښې چې د کوم امید چې مونږ اقرار کوو هغه امید به ټینګ ونیسو ځکه چې خدائ په خپل لوظ پوره کولو کښې وفادار دے.

(عبرانیان ۱۰ : ۲۳)

ماشومان:- ۱. چا حضرت موسیٰ بښخ کړو کله چې هغه مړ شو؟

۲. د حضرت موسیٰ نه وروستو د اسرائیلیانو مشر څوک وو؟

۳. په کوم ښار کښې راحب اوسیدله؟

## يريحو

# د يريحو ښار باندې د جنګ نه بغير قبضه

د جاسوسانو د راتلو نه پس، يشوع خلقو تـه حکـم وکړو چې خپلې خيمې لـرې کـړئ او غونـډې يـې کړئ. هغهٔ هغوی ته ووئيل چې، "خپل څـاروی او رمې رايوځائې کړئ او بيا سفر ته تيار شئ."

کله چې يشوع حکم وکړو، نو اول کاهنـان، او بيـا نـور خلـق د اردن طـرف تـه پـه سـفر بانـدې روان شول. د کال په دې ورځو کښې اوبهٔ ډيرې اوچتـې او تيزې وې.

يشوع کاهنانو ته ووئيل، "چې اوس په اوبـو کښـې قدم کيږدئ." نو بيا عجيبه کارونه او واقعې وشوې. څنګه چې کاهنانو په اوبو کښـې قدمونـه کيښـودل

نو د دریاب اوبهٔ اودریدی. د یو طرف
اوبهٔ اودریدی او د بل طرف اوبهٔ وبهیدلی
او د خلقو د تللو د پاره پکښی وچه لار
جوړه شوه.

آخر اسرائیلیان هغه ملک ته په حفاظت ورسیدل د کوم چی خدائ پاک هغوی ته د ورکولو پنځه سوه کاله مخکښی وعده کړی وه.

بیا خدائ پاک یشوع ته ووئیل چی څنګه په هغه ښار قبضه وکړی. او د هغه ښار نه ګیرچاپیره لوئ او ډبل دیوالونه وو. اسرائیلی فوجیان د یریحو د دیوالونو نه هره ورځ ګیر چاپیره شپږ ورځو پوری وګرځیدل.

په اوومه ورځ هغوی سحر وختی پاڅیدل. او په دی ورځ دوی د ښار نه اووهٔ ځله تاؤ راتاؤ شول.

څنګه چې هغوی یوی کړکئ نه تیریدل نو یو سره رسئ یی د هغه کړکئ نـه څوړنـده ولیده. هغوی ته پتـه وه چـی دا د راحـب کور دے چا چې د هغه دوو جاسوسانو ژونـد بـچ کړے وو. کله چې ووم چکر ختم شو نو هغوی ټول اودریدل. هلته خاموشی شوه تر هغـه وختـه پـوری تر څو چې کاهنانو خپلی سورناکی سندری نـۀ وی غږولی. بیا یشوع آواز وکړو، "چې چغی کړئ چـی خدائ پاک تاسو ته دا ښار درکړے دے!"

کله چې اسرائیلیانو د تندر په شان چغی کـړی نـو هغوی وکتل چې د ښار دیوالونه په رپیدو، رجیـدو او غورزیدو شول!

په داسی خدائ پاک هغوی ته د یریحو
ښار ورکړو. او راحب خپلی کورنئ سره بچ
شوه ځکه چی هغی د اسرائیلو په خدائ
پاک ایمان لرلو.

یشوع ۳ — ٦

والدین:- هم د ایمان په سبب د یریحو ښار
دیوالونه د بنی اسرائیلو تر اوو ورځو
پورې ګیر چاپیره تاویدلو سره راونړیدل.
(عبرانیان ۱۱ : ۳۰)

ماشومان:- ۱. اسرائیلیان څنګه د اردن د دریاب
نه پوری وتل؟

۲. یشوع ته چا ووئیل چی داسی وکړه؟

۳. اسرائیلیانو ته څنګه پته وه چی راحب چرته
اُوسیږی؟

# جدعون د خپل قوم د خلاصون د پاره خواست وکړو

خدائ پاک اسرائیلو د پاره د هر څۀ کولو نه پس او د اسرائیلو د ایمان سره د خدمت کولو د وعدی نه پس، به یقیناً اسرائیلیان د بتانو طرف ته نۀ ګرځی؟ خو خلقو اوس بیا خپل خدائ پاک هیر کړو. او هغوی د کنعان د هغو خدایانو عبادت شروع کړو کوم چی د خپلو خلقو د بچ کولو هم قابل نۀ وو.

البته د بتانو عبادت کول د دی هر څۀ نه پس دومره عجیبه نۀ وو. ځکه چی تر څو پوری چی مونږ پوهیږو، نو په هغه وخت کښی اسرائیلیان

واحد خلق وو چې د لرګی یا د کاڼو د بتانو عبادت یی نۀ کولو.

څنګه چې خلقو د بتانو عبادت او د خدائ پاک هیرول شروع کړل نو خدائ پاک هم هغوی په تکلیفونو اخته کړل. او هغۀ مدیانیان پریښودل چې په اسرائیلیانو په سخته حکومت وکړی.

یو ورځ جدعون نومی سړی په پټ ځائے کښی غنم میده کول چې مدیانیان یی تری پټ نۀ کړی. او هغۀ ناڅاپه یوه فرښته د څیړۍ د اونی لاندی وکتله. فرښتی هغۀ ته ووئیل چې، "تۀ یو بهادر سړے یی، جدعونه، او خدائ پاک تا سره دی. ځه په آزادئ سره لاړ شه او خپل خلق د مدیانیانو د قبضی نه خلاص کړه."

جدعون فرښتې ته جواب ورکړو، "اے مالکه، زۀ څنګه اسرائیلیان بچ کړم؟ زما کورنۍ غریبه ده او زۀ د خپل پلار په کور کښې ټولو نه وړوکے یم."

جدعون فکر کولو چې دا ضرور مالک دے خو د فرښتې په صورت ماسره خبرې کوی. نو هغه هدیه راوړه او په کاڼی یې کیښوده. فرښتې هغه هدیې ته خپله امسا وروړه. او ناڅاپه هلته نه اور اوچت شو او هغه هدیه یې وسوځوله. او بیا د هغۀ د نظر نه غائبه شوه، خو خدائ پاک هغۀ ته ووئیل، "په تا دې سلامتی وی، جدعونه. هیڅ ونۀ ویرېږې زۀ تاسره یم."

خدائ پاک جدعون ته دا ووئيل چې خپل
خلق اول د بت پرستۍ نه او بيا يې د
مديانيانو نه آزاد کړه.

په هغه شپه جدعون د خپلو لسو کسانو سره لاړو
او د بعل مجسمه يې تباه کړه. او په هغه ځائے يې
د اسرائيلو د خدائ پاک د قربانئ ځائے جوړ کړو.
قاضيان ٦ : ١ — ٣٢

والدين:- او د مصيبت په ورځ ما ته فرياد وکړئ؛
زۀ به تاسو خلاصومه او تاسو به زما
تمجيد (لوئ) کوئ. (زبور ٥٠ : ١٥)

ماشومان:- ١. خلقو د بتانو جوړولو د پاره څۀ استعمالول؟
٢. فرښتې د جدعون هديې سره څۀ وکړل؟
٣. آيا جدعون يو بهادر سړے وو؟

# د جدعون نوځ

## درې سوه غوره کړے شوی فتح کونکی

جدعون ډېر ايمانداره سړے وو. هغۀ غوښتل چې د خدائ پاک د رهنمائ نه مطمئن شي نو دی د پاره هغۀ خدائ پاک ته دعا وکړه چې د مديانيانو سره په جنګ کښې خدائ پاک د هغوی خاص مدد وکړی.

مالک جدعون ته ووئيل، "ستا فوج ډېر لوئ دے. هغوی کورونو ته وليږه څوک چې ويرېږی." کله چې جدعون اسرائيليانو ته دا ووئيل، نو دوه ويش زره کسان لاړل، او صرف لس زره کسان پاتې شول.

خو خدائ پاک جدعون ته ووئيل چی، "دا اوس هم ډير خلق دی. او تۀ فوجيان د اوبو څښلو د پاره لاندی راوله نو زۀ به تا ته وښايم چی تا ته د څنګه کسانو ضرورت دے."
کله چی هغوی اوبۀ څښلی نو جدعون هغوی ته کتل چی دوی څنګه اوبۀ څښی. څنګه چی هغوی اوبو ته راغلل، نو ډير په ګښی د اوبو څښلو د پاره په ګوډو شول، او خپل ډالونه او غشی يی يو طرف ته کيښودل. خو يو څو سړی پکښی د اوبو څښلو د پاره ډير ونۀ دريدل. او خپل ډالونه او غشی يی په لاسونو کښی نيولی وو او لاسونه يی بند وو نو هغوی د اوبو څښلو د پاره پريوتل او په اوبو يی خُله کيښوده او وی څښلی.

خدائ پاک جدعون ته ووئيل، "هغه کسان جدا کړه چا چی اوبهٔ پـه څټلـو اوڅښـلی. ما دا دری سوه کسان د اسرائيلو د آزادولـو د پاره غوره کړی دی. دا غوره کړے شوی کسان د دښمنانو سره د ملاويدو د پاره تيار دی."

جدعون وکتل چی مديانيان په هغـه وادئ کښـی د ملخانو په شان خوارهٔ وارهٔ دی. هغه تر شپی کيـدو پوری انتظار وکړو. بيا هغهٔ هر يو سړی ته يو بيګل او يو منګی چی پکښی دننه يو ډيوه بله وه ورکړل. جدعون ټولو سړو ته ووئيل چی دا چغه به وهـئ، "د خدائ پاک او د جـدعون تـوره." هغـوی بيګلـی وغږولی او چغی يی کړی او هغه منګی يی په خپلو لاسونو کښی مات کړل.

مدیانیان پاڅیدل چې د ځان نه ګیرچاپیره رڼا پیدا کړی. او د ډیری ویری نه یې اخوادیخوا منډی شروع کړی او وتښتیدل.

او جدعون خپلو دری سوو کسانو سره معجزانه فتح حاصله کړه.

قاضیان ۷

والدین:- په خدائ پاک باندی توکل کول په انسان باندی د باور کولو نه غوره دی.

(زبور ۱۱۸ : ۸)

ماشومان:- ۱. آیا جدعون ته د فتح حاصلولو د پاره د زیات یا د یو څو سړو ضرورت وو؟

۲. جدعون څنګه د هغه خلقو نه کسان غوره کړل؟

۳. آیا جدعون ایمانداره سړے وو؟

## سمسون

# يو مضبوط او طاقتور سړے چې په زمکه يې ژوند تير کړې دے

د جدعون د وخت نه ډيره موده پس يو ځل بيا د اسرائيل خلقو د بتانو عبادت کول شروع کړل. د دوی د صحيح کولو د پاره خدائ پاک د دوی دښمنان فلسطنيان پريښودل چې په دوی باندی حکومت وکړی. خو يو اسرائيلی سړے منوحه او د هغهٔ ښځه صرف د خدائ پاک نه ويريدل. په هغه وخت کښی د هغوی ماشومان نهٔ وو. خو يو ورځ يوه فرښته د منوح ښځی ته راغله او ورته يی ووئيل چی، "ستا به يو زوی وشی. او کله چی هغه غټ شی نو هغه به اسرائيليان د فلسطنيانو نه آزاد کړی."

ماشوم پیدا شو او نوم یی ورته سمسون
کیښودو. هغه غټ شو او یو مضبوط او
طاقتور سړے تری جوړ شو. هغه تر هغه
پوری طاقتور او مضبوط وو تر څو پوری چی هغه د
خدائ پاک د دی حکمونو فرمانبردار وو چی شراب
به نۀ څښی او نۀ به خپل ویښتۀ پری کوی.

یو ورځ یو طاقتور ازمرے هغۀ ته په غصه
وغوریدو، خو سمسون تری ونۀ ویریدو. هغۀ
ازمرے ونیولو او په خپلو لاسونو یی مړ کړو.

په بل ځل کله چی سمسون په فلسطین ښار کښی
وو، او لویه دروازه بنده شوه. هغوی ووئیل چی،
"اوس مونږ هغه ګیر کړو. خو په هغه شپه سمسون
هغه لویه دروازه اوچته کړه او د غرۀ سر ته یی
یوړه."

څۀ وخت وروسته سمسون يـوى فلسـطينئ ښـځې سره چې نـوم يـې دليلـه وه مينـه شروع کړه. فلسطنيانو هغې ته ووئيـل چـې مونږ به تاته پيسی درکړو کۀ تۀ مونږ تـه د هغـۀ د مضبوط والی راز معلوم کړې. ډيرى ورځـې هغـې د راز معلومولو د پاره د هغۀ منت وکړو. آخر يـو ورځ سمسون د هر څۀ په باره کښې هغه مکـارى ښـځې ته ووئيل: "کۀ چړى زما ويښتۀ پرى کړے شى، نو خدائ پاک به ما نه ټول طاقت واخلی." نو بيا کله چې هغه اودۀ وو نو فلسطنيانو د هغۀ ويښـتۀ پـرى کړل او په جيل کښـې يـې واچولـو او سترګې يـې ترى وويستلی!

څۀ وخت وروستو فلسطنيان ټول راجمع شول چـې خپـل معبـود تـه يـوه لويـه قربـانى وکـړى. هغـوى

سمسون هم د جيل نه راوستو چې هغۀ پورى هغوى تـوقى وکړى. سمسون خپل لاسونه په دوو ستنو باندى کيښودل او د خدائ پاک نه يې د طاقت د پاره دعا وکړه. څنګه چې هغۀ دعا وکړه نو په هغه وخت يې دواړه ستنې ماتې کړې او د هغوى عبادت ګاه په زمکه راوغورزيده. په دې کښې د دريو زرو نه زيات سړى او ښځې مړۀ شول. او سمسون هم په کښې مړ شو.

او سمسون آخرى کار د خدائ پاک د پاره وکړو. تر شلو کالو پورى هغۀ د خدائ پاک د خلقو دښمنان کمول.

قاضيان ۱۳ — ۱٦

والدين:- حکمت د زور نه غوره دے.

(وعظ ۹ : ۱٦)

ماشومان:- ۱. سمسون ته څۀ نه وو ښکل پکار؟

۲. کوم ځنګلی ځناور سمسون په لاسونو باندی مړ کړو؟

۳. په څۀ وجه سمسون نه طاقت ختم شو؟

# ستا خدائ پاک به زما خدائ پاک وی

په دی قیصو کښی مونږ د یشوع فرمانبرداری، د جدعون حوصله، او د سمسون طاقت ولیدو. خو اوس د قاضیانو په اسرائیلو باندی د حکومت کولو په دوران کښی یوه ډیره ښکلی قیصه ده. دا قیصه د یوی جینئ چی نوم یی روت وو د هغی په باره کښی ده. روت د موآب په ملک کښی اوسیدله د هغه ځائې خلقو به د بتانو عبادت کولو.

په هغه وخت کښی د یهوداه په بیت الحم کښی الیملک نومی یو سړے اوسیدو. د هغۀ د ښځی نوم نعومی او د هغۀ د دواړو زامنو نومونه محلون او کلیون وو. خو کاله فصل کم وشو نو خوراک هم کم

شو. نو په دی وجه الیملک خپله کورنۍ
موآب ته بوتله.

د الیملک اراده دا وه چی څۀ وخت پس
به بیا یهوداه ته راشی خو هغه په موآب کښې مړه
شوه. د هغۀ زامنو د موآب ښځو سره ودونه وکړل
چی د یو نوم عرفه او د بلی روت وو. نو هغه دواړه
ځوانان سړی هم مړۀ شول او نعومی او د هغی
دواړه انګوریانی کونډی پاتی شوی.

په موآب کښې د لس کالو تیرولو نه پس نعومی
واوریدل چی خدائ پاک بیا په اسرائیلو کښې فصل
ډیر کړے دی. نو په دی وجه هغی تیارے شروع
کړلو چی بیت الحم ته لاړه شی. د هغی دواړو
انګوریانو هغی سره مینه کوله او غوښتل یی چی
هغی سره لاړی شی.

نعومی هغوی ته ووئیل، "چی ځئ تاسو د خپلو میاندو کورونو ته بیا لاړی شئ او خدائ پاک دی په تاسو داسی مهربانه شی لکه څنګه چی تاسو مونږ باندی مهربانه وئ." بیا نعومی هغوی ښکلی کړلی او هغوی دری واړو ژړل. دواړو ځوانو کونډو نعومی ته ووئیل، "چی تهٔ زمونږ د پاره یوه ښهٔ مور یی؛ مونږ تاسره ستاسو په خلقو کښی د اوسیدو د پاره ځو." نعومی هغوی ته ووئیل نه، "ځکه چی زهٔ بوډئ یم او تاسو ځوانانی یی. تاسو لاړی شئ او په خپل خلقو کښی په خوشحالئ اوسیږئ."

نو بیا عرفه نعومی ښکله کړه او خپلو خلقو ته لاړه. خو روت هغه پری نهٔ ښوده. هغی نعومی ته ووئیل، "چی ماته بیا د تللو د پاره وونهٔ وایی زهٔ به تا هیڅله پري نهٔ ږدم. تهٔ چی چرته ځی زهٔ به

هم تاسره هلته ځم. ستا خلق به زما خلق
او ستا خدائ پاک به زما خدائ پاک وی.
بل هیڅ نه خو مرګ به مونږ جدا کړی."

کله چې نعومی ته پته ولګیدله چې روت زما نه نۀ جدا کیږی نو هغې نور په روت باندې د تللو د پاره زور ونۀ کړو. او هغوی دواړه بیت الحم ته یوځائے لاړې.

روت ۱ : ۱ — ۱۸

والدین:- خو اوس پاتې شوه زۀ او زما کورنئ نو
مونږ خو د خدائ پاک عبادت کوو.
(یشوع ۲۴ : ۱۵)

ماشومان:- ۱. د نعومی د ښکلولو نه پس عرفه چرته لاړه؟

۲. روت نعومی ته څۀ ووئیل؟

۳. کوم ښار ته نعومی او روت لاړل؟

## د روت د پاره اجر

# د حضرت داؤد بادشاه غوره نیا

کله چې نعومي او روت بيت الحم ته راورسيدل، نو د نعومي زړې ملګرې د هغې په بيا ليدو ډيرې خوشحاله شوې. دا د اوربشو د لو کولو ړومبنۍ ورځې وې. روت غوښتل چې بهر پټو ته لاړه شي او هغه غله راغونډه کړي کومه چې د لو کونکو نه پاتې شوې وې. دا غله د دې او د نعومي د پاره خوراک وو ځکه چې دوې ډير غريب وو. بيا روت د بوعز پټو ته راغلله چې د نعومي رشته دار وو. هغه ډير مالداره او مشهور سړے وو.

بوعز د ښار نه بهر راغلو چې خپل لوکونکی سړی وګوری او هغۀ هغوی ته ووئيل، "خدائ پاک دی تاسو سره وی." هغوی هغۀ ته جواب ورکړو.

"خدائ پاک دی تا ته برکت درکړی."

بوعز د لو کونکو مشر ته ووئیل، "چی دا ځوانه ښځه څوک ده؟"

سړی جواب ورکړو، "دا هغه ځوانه موآبی ښځه ده کومه چی د نعومی سره د موآب نه راغلی ده. دی د اوربشو ټولولو د پاره پوښتنه وکړه او د پرون نه دلته ده."

بوعز روت ته ووئیل، "ما ته غوږ شه، زما لوری. ما ته پته ده چی تهٔ څومره خپلی خواښی نعومی سره رښتینی یی. تا خپل خلق پریښودل چا چی د بتانو عبادت کولو او کنعان ته د خدائ پاک د خدمت د پاره راغلی یی. دلته زما جینکو سره اوسه او د بل چا پټی ته مهٔ ځه. کله چی تهٔ تږی کیږی، نو ځه او زمونږ په لوښو کښی اوبهٔ څښه."

بیا روت بـوعز تـه تیتـه شـوه او د هغـۀ د مهربانئ یی مننه وکړه. د اوربشو د لـو پـه آخر کښـی، بـوعز د اوړه کولـو پـه وخـت کښی یو جشن وکړو. روت د نعومی په فرمانبردارئ کښی هغه ته لاړه او ورته یـی ووئیـل، "تـه زمـا د خاوند او د هغه د پلار الیملک نزدی رشته دار یی. آیا تۀ بـه د هغـوی د خـاطره مـونږ سـره څـۀ ښـۀ وکړی؟"

کله چی بـوعز روت وکتلـه هغـه هغـی سـره مینـه وکړه. د دی نـه پـس ډیـر زر هغـوی وادۀ وکـړو. د بوعز او روت یو زوئ وشو چی نوم یی پـری عبیـد کیښودو.

د دی نه وروستو د عبید زوی یسی وشـو. او یسـی د حضرت داؤد بادشاه پلار وو.

روت چې يو موآبى ځوانه ښځه وه نو
هغې هغه خلق او د اسرائيلو خدائ پاک
غوره کړو، او هغه د "بادشاهانو مور" شوه.

روت ۱ : ۱۹ — ۴ : ۲۲

والدين:- بختور دى هغوى څوک چې د غريب
خيال ساتى. خدائ پاک به د مصيبت په
ورځ هغه خلاصوى.

(زبور ۴۱ : ۱)

ماشومان:- ۱. د هغه مالداره سړى نوم څهٔ وو؟
۲. د چا په پټو کښې وت غله ټولوله؟
۳. څهٔ قسم غله هغوى لو کوله؟

## سموئیل

# هغه هلک چې خدائ پاک ته وركړے (وقف) شوے وو

يو نوے قاضي چې نوم يې عيلي وو په اسرائيلو حکومت وکړو. هغه په هغه هيکل کښې کاهن وو چرته چې به خلق عبادت له راتلل.

د هيکل نه پنځلس ميله لرې يو سړے چې نوم يې القانه وو اوسيدو. د هغه وخت په مطابق ځنګه چې د نورو خلقو دوه ښځې وې دغسې د هغهٔ هم دوه ښځې وې. په دوی کښې د يوې ماشومان وو خو د بلې چې نوم يې حنا وو ماشومان نهٔ وو.

حنا په خوږ زړهٔ سره خدائ پاک ته دعا وکړه چې: "ای خدايه، کهٔ ته ماته يو زوی راکړې نوهغه چې تر څو ژوندے وی نو ستا به وی."

خدائ پاک د حنا دعا واوريده او هغې ته يې يو زوی ورکړو. هغې د هغه نوم سموئيل کيښودو چې معنیٰ يې، "ما د خدائ پاک نه غوښتی دی." کله چې هغه ورکوتی وو نو هغې هغه عيلی کاهن ته راوستو او ورته يې ووئيل، "زما مالکه، زۀ هغه ښځه يم چې دلته مې د خدائ پاک نه دا ماشوم غوښتے وو. اوس زۀ دے دلته پريږدم چې د خدائ پاک په کور کښې لوئ شی."

څنګه چې سموئيل لوئيدو نو د خدائ پاک په کور کښې يې د عيلی ډير مدد کولو. هغه به د هيکل ډيوې بلولې او دروازې به يې خلاصولې. هغۀ عطر تيار کړل او د عيلیٰ منتظر وو څکه چې هغه اوس بوډها کيدو او تقريباً ړوند هم وو.

اسرائیلیانو غوښتل چې خدائ پاک بیا
خپلو خلقو سره خبرې وکړې. ځکه چې
هغوی ته دا یاد وو چې خدائ پاک
حضرت موسیٰ، حضرت یشوع، او حضرت جدعون
سره هم خبرې کړې وې.

کله چې سموئیل لوئ شو نو هغۀ په اسرائیلیانو کښې ګرځیدل شروع کړل. هغۀ د خدائ پاک کلام خلقو ته په هر ځائے کښې واورولو. د هغۀ پیغام دا وو، "کۀ چرې تاسو خدائ پاک ته بیا په خپل زړۀ راشئ، او د دروغو خدایان رد کړئ، نو خدائ پاک به تاسو د فلسطنیانو د قبضې نه آزاد کړی."

خلقو د سموئیل خبره ومنله او بعل او نور بتان يې رد کړل. بل ځل کله چې فلسطنیانو اسرائیلیان ویرول، نو سموئیل خدائ پاک ته دعا وکړه. نو خدائ پاک د هغۀ د دعا جواب ورکړو او په

فلسطنيانو يى د بريښنا او تندرونو يو لـوئ طوفان رانازل کړو.

سموئيل د اسرائيلو د رهنمائى د پـاره ډيـر کالونه ژوندے وو. او خلقو په هغه باور کولو، ځکه چى هغه په صداقت او هوښـيارتيا سـره پـه هغـوى حکومت وکړو.

اول سموئيل ١ - ٣ ؛ ٧

والدين:- ځکه چى خدائ پاک د صادقانو لاره پيژنى خو د شريرانو لارى به نيست ونابود شى. (زبور ١ : ٦)

ماشومان:- ١. د کاهن نوم څۀ وو؟

٢. حنا د څۀ د پاره دعا وکړه؟

٣. آيا خدائ پاک د هغى د دعا جواب هغى ته ورکړلو؟

# اسرائیل یو نوی بادشاه غواړی

## بې پروا و ته د خدائ پاک خبرداری

هوښیار سموئیل نبی اوس بوډها کیدو. د اسرائیلو مشران د هغهٔ کور ته راغلل او ورته یی ووئیل چی، "ته بوډها شوی او ستا زامن ښهٔ حکومت نهٔ شی کولے. مونږ د پاره یو داسی بادشاه غوره کړه څنګه چی د نورو ملکونو دی."

د اسرائیلو دی خواست سموئیل ډیر خفه کړو ځکه چی د اسرائیلو بادشاه خدائ پاک په خپله وو. د بل بادشاه دوی ته څهٔ ضرورت وو. کله چی سموئیل مالک خدائ پاک ته دعا وکړه نو خدائ پاک هغهٔ ته جواب ورکړو. "چی د دی خلقو خواست پوره کړه. ځکه چی دوی صرف تهٔ نهٔ یی

رد کړی بلکه زۀ یی هم په خپل ځان د
بادشاهۍ کولو نه رد کړم. خو تۀ لاړ شه او
دوی ته د هغه سختو په باره کښی ووایه
کومی به چی په دوی باندی هغه بادشاه راولی."
نو سموئیل د اسرائیل خلقو ته ووئیل چی،
"ستاسو بادشاه به ستاسو زامنو نه خپل فوجیان،
د اسونو ساتونکی او د جنګ د پاره وسله تیارونکی
جوړ کړی. هغه به ستاسو لوریانو نه په خپل محل
کښی پخلی کونکې او مختلف قسمونو خوارۀ
پخونکې جوړې کړی. او ستاسو ښۀ فصل کونکی
پټی، د انګورو او د زیتونو باغونه به ستاسو نه
واخلی او خپلو خادمانو ته به یی ورکړی. هغه به
ستاسو د ګډو او چیلو نه هم لسمه حصه واخلی. نو

بیا به تاسو د هغه بادشاه د سختو په وجه ژاړئ، خو خدائ پاک به بیا ستاسو هیڅ فریاد نۀ آوری."

خو خلقو بیا هم د هغۀ ونۀ منل او ووئیل یی چی، "زمونږ دی هم د نورو قومونو په شان بادشاه وی." د هغوی دا خواهش وو چی هغوی دی هم د نورو خلقو په شان په جنګ کښی مضبوط، او مالداره او طاقتور وی. خو خدائ پاک غوښتل چی اسرائیلیان مینه ناک او امن خوښونکی خلق وی. هغۀ غوښتل چی دوی ساده ژوند تیر کړی او د جنګونو نه بغیر دی د خدائ پاک خدمت کوی.

بیا سموئیل هغوی سره د بادشاه پیدا کولو وعده وکړه او هغوی یی کور ته ولیږل. سموئیل به بادشاه

ځنګه پیدا کوی؟ هغه به څـهٔ رنګـه سـړی
ګوری؟ څوک به د سموئیل مدد کوی؟
١ سموئیل ٨

والدین:- خو تاسو زما ټولی مشوری ونهٔ منلی، او
زما مشورو ته مو سپک وکتل.
(متلونه ١ : ٢٥)

ماشومان:- ١. آیا خدائ پاک د اسرائیلو په بادشاه
غوښتلو باندی خوشحاله وو؟
٢. خدائ پاک هغوی ته څهٔ ووئیل چی د هغوی
بادشاه به هغوی سره څهٔ کوی؟
٣. چا هغوی سره د بادشاه پیدا کولو وعده وکړه؟

# سموئيل ساؤل مسح کړو

## د اسرائيلو اول بادشاه

لوړ او ښکلی ساؤل د بن يامين د قبيلی يو شريف او مضبوط ځوان وو. هغه په اسرائيلو کښی هغه وخت ژوند کولو کله چی هغوی د بادشاه غوښتلو خواست کولو. د هغهٔ پلار قيس ډير مالداره او زورآور سړے وو.

يو ورځ د قيس نه خرهٔ ورک شول نو هغه ساؤل د خپلو نوکرانو سره وليږلو چی خرهٔ پيدا کړی. د ډير مزل کولو او کتلو نه پس ساؤل تيار وو چی واپس شی. هغهٔ خپل نوکر ته ووئيل، "ځه چی واپس لاړ شو ځکه چی زما پلار به اوس زمونږ د پاره هم خفه وی."

نو د هغهٔ نوکر هغهٔ ته ووئيل چی، "په دی بل ښار کښی يو نبی چی نوم يی سموئيل دے

اوسيږی او هغه چی څۀ هم وائی نـو هغـه رښتيا وی. ځه چی هغۀ لـه ورشـو او څـۀ تحفی ورته ورکړو. شايد چی هغه مونږ تـه وښائی چی خرونه چرته دی."

کله چی هغوی ښار ته په غرۀ باندی ختل نـو څـو پيغلی جينکۍ ورته په مخه راغلـی او هغـوی دوی ته ووئيل چی نبی هم نن ورځ ښار تـه راغلـی دی. د ښار په دروازه کښـی هغـوی سـموئيل سره مـلاؤ شول خو دوی هغه ونۀ پيژندو چی هغـه څـوک وو. ساؤل د هغۀ نه پوښتنه وکـړه چـی، "تـه مـونږ تـه ووئيلے شی چی د نبی کور چرته دی؟"

سمووئيل جواب ورکړو، "چـی زۀ نبـی يم. راځـئ ځکه چی نن مونږ خپل خدائ پـاک تـه نـذرانې او قربانئ پيش کوو. او د خپلو خرونو پـه بـاره کښـی هيڅ فکر مۀ کوئ ځکه چی هغه پيـدا شـوی دی."

په هغه شپه د ساؤل د خاص میلمه په شان قدر وشو.

بل سحر سموئیل د تیلو بوتل واخستلو او ساؤل یی په دی ووئیلو مسح کړو چی، "خدائ پاک تهٔ مسح کړے یی چی د اسرائیلو بادشاه شی. اوس لاړ شه او هغه هر څهٔ کوه څهٔ چی تا ته خدائ پاک وائی."

څنګه چی ساؤل بیا تللو ته تیار شو، نو خدائ پاک هغهٔ ته نوی زړهٔ ورکړو. د خدائ پاک روح ساؤل ته برکت ورکړو چی هغه بغیر د خودغرضئ نه د نورو خلقو د پاره ژوند او د خدائ پاک خدمت په ایماندارئ سره وکړی.

څهٔ وخت وروستو سموئیل د اسرائیل ټول خلق یو ځائے جمع کړل. دوی ټول دی د پاره جمع شول

چی ساؤل ته د اسرائیل د اول بادشاه په طور تاج په سر کړی.

په دی طریقه خدائ پاک د ساؤل د ژوند نقشه تیاره کړله. او هغه د خپل پلار د ورک شوو خرونو پیدا کولو نه راوستلے شو چی په اسرائیلو باندی د بادشاه په طور حکومت وکړی.

١ سموئیل ٩ — ١٠

والدین:- زۀ به د خدائ پاک د قدرت د کارونو اظهار کومه. (زبور ٧١ : ١٦)

ماشومان :- ١. کوم ځناور د هغوی نه ورک وو؟

٢. څوک د اسرائیل اول بادشاه شو؟

٣. چا ته خدائ پاک نوی زړۀ ورکړو؟

# داؤد شپونکی هلک

## د بادشاه د پاره د خدائ پاک لټون

ساؤل بادشاه څۀ وخته پورې د خدائ پاک فرمانبردار وو خو بيا د خدائ پاک خلاف باغی شو. خدائ پاک سموئيل نبی ته ووئيل، "چې ما ساول د بادشاه کيدو نه رد کړو. او زۀ به د دۀ په ځائے هغه څوک راولم څوک چې زما د حکمونو تابعداری کوی."

په دې سموئيل ډير خفه شو. هغه د ساول د پاره وژړل او غمژن شو.

خدائ پاک سموئيل ته ووئيل، "د ساول د پاره نور مۀ ژاړه. خپل ښکر د تيلو نه ډک کړه. او بيت الحم ته لاړ شه او يسی نومې سړے پيدا کړه. ما د هغۀ

په زمانو کښې يو د بادشاه کيدو د پاره غوره کړے دے."

نو سموئيل بيت الحم ته لاړو او قرباني يې تياره کړه. هغه يسى او د هغه زامن هلته راوغوښتل. کله چې هغوی راغلل، نو سموئيل د يسى يو يو زوی ته نزدې شو او هغوی ټول يې وکتل. مشر زوی يې ايلياب وو هغه لوړ او شريف وو ځنګه چې سموئيل هغه وکتلو نو فکر يې وکړو، "چې يقيناً دا هغه دې چې خدائ پاک غوره کړے دے."

خو خدائ پاک سموئيل ته ووئيل، "چې د دهٔ مخ او لوړ والى ته مهٔ ګوره، دې ما نهٔ دې خوښ کړې. ځکه چې خدائ پاک د انسان په شان نهٔ

ګـوری انسـان ظـاهری صـورت ګـوری او خدائ پاک زړونه ګوری."

کله چی د سموئیل د وړاندی د یسی اووهٔ واړه زامن تیر شول نـو سـموئیلو وئیـل، "چـی پـه دی کښی یو هم خدائ پاک نـهٔ دے غـوره کـړے." بیا هغهٔ د یسی نه تپوس وکړو، "چی دا ستا ټول زامن دی؟"

یسی جواب ورکړو، "یو بل هم شته. هغه بهـر پـه پټو کښی د ګډو خیال ساتی."

"هغه پسی څوک ولیږه،" سمووئیلو وئیل، "تر هغـه به مونږ نهٔ کیښنو ترڅو چی هغه رانهٔ شی." نو لـږ ساعت پس یی کشر زوی راغلو، شاید چی پنځلس کالن وو. د هغـهٔ نـوم حضـرت داؤد وو چـی معنـی[۱] یی، "مینه کوونکے وو." پړقیـدونکی او نـورانی مـخ

سره سره حضرت داؤد ډېر ښکلے هم وو.
ځنګه چې حضرت داؤد راغلو خدائ پاک
سموئيل ته ووئيل، "چې پاسه او دے
مسح کړه. هم دا هغه ځوک دے چې ما د بادشاه
کيدو د پاره غوره کړے دے."

د هغه ورځې نه پس حضرت داؤد ته روح القدس ورکړے شو دی د پاره چې هغه د هغه کارونو کولو قابل شی د کومو کارونو د پاره چې هغه غوره کړے شوے وو. روح القدس په حکمت او ايمانداریٔ کښې د هغهٔ ډېر مدد وکړو، او هغه د خدائ پاک په زړهٔ پوری سړے شو.

د ځوان په حيث حضرت داؤد د يو لوئ حوصلی خاوند وو. هغهٔ يو شير او يو ميلو په هغه وخت

کښې مړۀ کړې وو کله چې يې د هغـۀ پـه
رمې باندې حمله کړې وه.
۱ سموئيل ۱٦

والدين:- هر څوک د د اختيار د خاوندانو تابعدار
وی، ځکه چې داسې د اختيار خاوند
نشته کوم چې د خدائ د طرفه نۀ وی اؤ
کوم اختيار لرونکې چې موجود دی، هغه
د خدائ د طرفه دی. (روميان ۱۳ : ۱)

ماشومان:- ۱. د پيغمبر نوم څۀ وو؟
۲. يسی څوک وو؟
۳. خدائ پاک بل څوک د بادشاهئ د پاره غوره
کړو؟

# حضرت داؤد او جولیت

## په پهلوان فتح حاصلول

تر څو پورې چې ساؤل د اسرائیلو بادشاه وو، نو فلسطنیان راغونډ شول چې په اسرائیلیانو حمله وکړي. د دوی فوجونه د یو بل مخامخ ډیره شول. هره ورځ به یو پهلوان د فلسطینیانو د کیمپ نه راتلو، او یو بهادر اسرائیلی به یې خپل ځان سره د جنګ کولو د پاره راغوښتو. په دې کښې جولیت نومې یو پهلوان وو چې د نهو (۹) فټو نه زیات لوړ وو. هغه د درنې چمکدارې او تیرې وسلې نه ډک وو.

په دې وخت کښې حضرت داؤد خپل پلار راولیږلو چې خپلو دریو ورونو له کیمپ ته خوراک یوسي. کله چې هغه خپلو ورڼو سره خبرې کولې

نو جولیت فلسطنیانو د طرف نـه راغلـو او هغوی ته یی سپکی خبری کولی.

"چی زهٔ یو فلسطینی یـم او تاسـو د ساؤل خادمان یئ. خپلو کښی یو سړے غوره کـړئ چـی ماسره جنګ وکړی. کهٔ زهٔ هغه مړ کړم نو مـونږ بـه په تاسو حکومت کوو. خو کهٔ هغـهٔ زهٔ مـړ کـړم نـو بیا بـه تاسـو پـه مـونږ حکومـت کـوئ. رازئ اوس خپل کس د جنګ د پاره راولیږئ!"

کله چی حضـرت داؤد دا واوریـدل نـو تپـوس یـی وکـړو، "چـی دا سـړے څـوک دی چی د ژونـدی خدائ پاک فوج ته سپکی او بدی وائی؟ زهٔ بـه دی دښمن سره جنګ وکړم کهٔ بل څوک دهٔ سـره جنـګ نهٔ کوی."

کله چې ساؤل د حضرت داؤد دا خبره
واوریده نو هغهٔ حضرت داؤد ته ووئیل،
"چې تهٔ دی غټ پهلوان سره جنګ نهٔ شې
کولے. ځکه چې ته وړوکے هلک یې او دا سړے د
ماشوموالی نه یو ماهر جنګجو دے."
خو حضرت داؤد په خپلی وینا سخت ولاړ وو او
ویل یې چې، "هغه خدائ پاک چې د ازمری او د
میلو په مړ کولو کښې یې زما مدد کړے وو هغه به
ما ته په دې غټ پهلوان هم فتح راکړی."
بیا ساؤل حضرت داؤد ته خپله زغره ورکوله خو
دا د هغهٔ د پاره ډیره لویه او ناآرامه وه. د دې په
ځائے حضرت داؤد پنځه هوار کاڼی راټول کړل او
هغه یې خپلی تیلئ کښې واچول. او بیا خپلی د

شـپونکی تـوب چـوکی او مچـوغنی سـره میدان ته د جولیـت سـره د جنګ کولـو د پاره راووتلو.

جولیت ډیر سپک شو چی یـو وړوکـے هلـک څنګـه بغیر د وسلی نه هغه سره جنګ کولو ته راغلو. هغۀ ووئیل، "آیا زۀ سپے یم چی ته ما پسی چوکی سره راغلی؟" اوس د جولیت د ګزار کولـو نـه مخکښـی حضرت داؤد هغه په خپلی مچوغنی وویشتو او پـه زمکـه یـی راوغورځولـو. بیـا یـی د جولیـت تـوره راویستله او د هغه سر یی پری کړو. د هغۀ مړکیدلو سره فلسطنیان ټول وتښتیدل.

۱سمووئیل ۱۷

والدین:- خدائ پاک د هغوی نه خوشحاله
دی څوک چی د هغهٔ نه ویریږی او د هغهٔ
د رحم امیدوار دی. (زبور ۱۴۷ : ۱۱)

ماشومان:- ۱. د هغه پهلوان نوم څهٔ وو؟
۲. حضرت داؤد د لښتی نه څهٔ اوچت کړل؟
۳. د حضرت داؤد د وسلی څهٔ نوم وو؟

## د حضرت داؤد د حکمت رویه

## د ساول حسد (کینه) کیدل

په جولیت باندی د حضرت داؤد فتح حاصلول د هغهٔ د ژوند د پاره ډیر غوره ثابت شول. د دی نه پس هغه بالکل د پلار کډو سرولو د پاره لا نهٔ ړو. ساؤل بادشاه هغه خپل کور ته بوتلو او په خپلو سپاهیانو کښی یی مشر کړو. حضرت داؤد هم هغه شان هوښیار او بهادر وو لکه څنګه چی هغهٔ د هغه پهلوان سره د جنګ په وخت کښی وو. ډیر زر هغه د زرګونو خلقو مشر شو. کهٔ ساؤل او کهٔ د هغهٔ د خپل کیمپ نه وو خو ټولو هغهٔ سره مینه کوله. حضرت داؤد سره داسی روح وو چی د ټولو خلقو زړونه یی ځان ته کړل. کله چی به حضرت داؤد د فلسطنیانو سره د جنګ کولو نه پس

راتلو نو ټولي زنانه به د هغهٔ استقبال ته په خوشحالئ او خندا راوتلی. او هغوی به ګډیدی، د خوشحالئ سندری او سازونه به یی غږول، او دا به یی وئیل، "چی ساؤل په زرګونو او حضرت داؤد په لکونو ووژل!"

په دی ووئیلو ساؤل ډیر غصه شو او حضرت داؤد سره یی حسد (کینه) پیدا شوله. د خفګان توری وریځی په هغهٔ باندی راغلی کله چی هغهٔ ته معلومیده چی حضرت داؤد به د هغهٔ نه سلطنت واخلی. د دی نه مخکښی به چی کله ساؤل خفه وو نو د حضرت داؤد ګانو او رباب وهلو سره به هغه ښهٔ کیدو او خوشحالیدو. خو اوس دهٔ د لیونتوب په وخت کښی د حضرت داؤد آواز ته غوږ نهٔ نیوو. او دوه ځل یی خپله نیزه په هغه

پسی وروغورځوله. دواړه ځله حضرت داؤد به ځان بچ کړلو او دیوال به ولیګیدو.

بیا ساؤل فیصله وکړه چې حضرت داؤد د جنګ خطرناک ځائے ته ولیږی چې فلسطنیان یې ووژنی. بیا هغهٔ حضرت داؤد ته ووئیل، "چې زهٔ به ستا وادهٔ خپلی مشری لور میرب سره وکړم کهٔ تهٔ زما د پاره فلسطنیانو سره جنګ وکړی." خو دا منصوبه ناکامه شوه ځکه چې ساؤل په خپله ژبه صحیح پاتی نهٔ شو او خپله لور یې بل سړی ته ورکړه.

بیا ساؤل ته پته ولګیده چې د هغهٔ بله لور حضرت داؤد سره مینه کوی. بیا ساؤل وعده وکړه چې حضرت داؤد د هغی سره وادهٔ وکړی خو چې کله هغه سل فلسطنیان ووژنی. بیا د هغهٔ دا امید وو

چې هغوی به دی مړ کړی. خو یو ځل بیا
هغه په فتح سره او هغهٔ سره مینه کونکو
خلقو سره کور ته راغلو.

۱ سموئیل ۱۸

والدین:- څوک چې د خدائ پاک نه ویریږی کهٔ
هغه وړوکی او کهٔ غټ وی خدائ پاک
هغوی ته برکت ورکوی.

(زبور ۱۱۵ : ۱۳)

ماشومان:- ۱. حضرت داؤد سره خلقو ولی مینه
کوله؟
۲. هغه ښځو په سندرو کښې څهٔ ووئیل چې ساؤل
پرې غصه شو؟
۳. ساؤل حضرت داؤد په څهٔ وویشتو؟

# یونتن او حضرت داؤد

## دوه نۀ جدا کیدونکی دوستان

ساؤل تـه معلومـه وه چـی حضـرت داؤد د ټولو خلقو زړونه ګټلی دی. نو ساؤل خپلو خادمـانو او خپل زوی یونتن ته ووئیل چـی د حضـرت داؤد په مړ کولو کښی د هغۀ مدد وکړی. خـو یـونتن تـه حضرت داؤد ډیر ګران وو هغـۀ ورسـره ډیـره مینـه کوله ځکه چی هغۀ ته پته وه هغه بهادر او شریف وو.

یوه ورځ یونتن او حضرت داؤد یو میـدان تـه لاړل. یونتن خپلی شاهی جامی، توره او کمـان او غشـی په مینه سره هغۀ ته ورکړل. هغه ډیر خفه وو ځکه چی د هغۀ پلار د حضرت داؤد نه نفرت کولو.

خو په ښکاره به ساؤل د حضرت داؤد سره مينه کوله. نو دی د پاره يونتن او حضرت داؤد د هغۀ د آزمائيلو فيصله وکړه. هغوی ته پته وه چې ساؤل غواړی چې حضرت داؤد د لوئ قربانئ نه مخکښې حاضر شی. يونتن حضرت داؤد ته ووئيل، "چې يو څو ورځې د بادشاه د ميز نه لری اوسه ترڅو زۀ معلوم نۀ کړم چې د بادشاه رويه ستا په باره کښې څۀ او څنګه ده. درې ورځې وروستو به زۀ دلته سره د کمان او غشو راشم. زۀ به يو وړوکے هلک ستا د پټيدو ځائے ته نزدې درولېږم او درې غشې به هم درووولم. کۀ چرې زۀ هغه هلک ته ووايم چې، منډه، هغه غشې پيدا کړه. کوم چې ستا په خوا کښې دی نو تۀ په حفاظت سره کور ته راشه. خو

کۀ زۀ هغۀ ته ووايم چې هغه غشی پيدا
کړه کوم چې ستا شاته دی نو د دی
مطلب دا دے چې ستا ژوند په خطره
کښې دے. نو تۀ به بيا ضرور د بادشاه نه پټيږې."
نو بيا يونتن او حضرت داؤد خپلو کښې يو بل سره وعده وکړه چې د دوی بچی او نمسی به هميشه د پاره په خپلو کښې دوستان وی.

د لوئ قربانئ په وخت ساؤل د يونتن نه پوښتنه وکړه، "چې حضرت داؤد ولې دلته نشته؟" کله يونتن د حضرت داؤد په باره کښې بهانه وکړه، نو ساؤل خپل زوی ته ډير غصه شو او په هغه يې د نيزې ګزار وکړو.

په بله ورځ يونتن د خپلې منصوبې په مطابق غشی وويشتل. هغۀ هلک ته چغې کړې، "چې غشی ستا

وروستو دی. منډه او پیدا یې کړه." کله چې هغه هلک لاړو حضرت داؤد یونتن ته په منډه د هغه پټ ځائے نه راغلو. هغوی یو بل ته ورغاړه وتل، یو بل یې ښکُل کړل، او دواړو په یو ځائے ژړل. اوس حضرت داؤد ته پته ولګیده چې هغه به ضرور خپل کور، ښځه، کورنئ، او دوستان پریږدی، او خپل ځان به د ساؤل بادشاه د لیونتوب نه پټ کړی.

بیا یونتن د خپل پلار کور ته لاړو، او حضرت داؤد د ځان بچ کولو د پاره د پټ ځائے تلاش وکړو.

١ سموئیل ١٩ — ٢٠

والدین:- خدائ پاک د خپلو ټولو مینه

کونکو حفاظت کوی خو شریران به مړهٔ

کړی. (زبور ۱۴۵ : ۲۰)

ماشومان:- ۱. د یونتن پلار څوک وو؟

۲. یونتن حضرت داؤد ته څهٔ ورکړل؟

۳. څو غشی یونتن هلته وویشتل؟

## حضرت سلیمان بادشاه

# حضرت سلیمان ځان د پاره حکمت غوره کړو

د ساؤل په وخت کښې هغۀ حضرت داؤد ته هیڅ قسمه نقص ونۀ رسولو ځکه چې خدائ پاک د هغۀ حفاظت وکړو. بیا ساؤل مړ شو او حضرت داؤد باشاه شو. هغۀ په اسرائیلو څلویښت کاله په حکمت سره بادشاهی وکړه. خدائ پاک ووئیل، "چې حضرت داؤد زما زړۀ پوری سړے دے. د حضرت داؤد ژوند دا خبری رښتیا ثابتی کړی چې هغه خدائ پاک سره مینه کوی. هم په دی وجه خدائ پاک هم هغۀ سره مینه کوله.

د حضرت داؤد د زوی د حضرت سلیمان عمر تقریباً شل کاله وو کله چې هغه د اسرائیلو بادشاه

شو. حضرت سلیمان د خدائ پاک نه ویریدو او په احتیاط سره یی شیطان منع کړے وو. کله چی هغۀ خدائ پاک ته د خلقو د عدالت کولو د پاره د حکمت او پوهی خواست وکړو نو خدائ پاک د هغۀ عزت وکړو. او د حضرت سلیمان تابعدارئ خدائ پاک خوشحاله کړو.

سلیمان بادشاه ډیر زر په آزمیښت کښی واچولے شو. دوه ښځی هغۀ ته د خپلو ماشومانو سره راغلی. یو ماشوم مړ او بل ژوندی وو. دواړو ښځو دعویٰ کوله چی ژوندے ماشوم زما دے. په هغوی کښی یوی ووئیل، "چی د دی ښځی ماشوم د شپی مړ شوے دے ځکه چی د دی د لاندی شوے وو. او بیا د شپی یی زما ترځنګه واچولو

کله چې زهٔ اُوده ووم، او بيا يې زما ماشوم زما نه پټ کړو."

خو بلې ښځې ووئيل، "چې دا رښتيا نهٔ دی. مړ ماشوم د دې دے او ژوندے ماشوم زما دے."

ځوان بادشاه دواړو ته غوږ ونيولو. بيا هغهٔ حکم وکړو، "چې ما ته توره راوړئ." کله چې توره راوړلے شوه حضرت سليمان بادشاه ووئيل، "چې دا ژوندے ماشوم دوه حصې کړئ او نيم نيم يې دواړو ښځو ته ورکړئ."

بيا اولنئ ښځې چغه کړه، "چې اے مالکه، دی ته ژوندے ماشوم ورکړه! دے مهٔ مړ کوه!"

خو هغې بلې ښځې ووئيل، "چې مونږ دواړو ته يې مهٔ راکوه. بلکه دوه ټوټې يې کړه!"

بیا حضرت سلیمان حکم وکړو، "چی دا
ژوندے ماشوم هغی ته ورکړئ چا چی په
دی ماشوم رحم وکړو، دی د پاره چی دا
د دی ماشوم مور ده."

کله چی اسرائیلو د دی فیصلی په باره کښی واوریدل نو هغوی د دی ځوان بادشاه په کار ډیر حیران وو. هغوی وکتل چی خدائ پاک په رښتیا حضرت سلیمان ته پوهه او حکمت ورکړے دے.

۱ بادشاهان ۱ — ۳

والدین:- خو کۀ په تاسو کښی په چا کښی د
حکمت کمے وی نو هغه د یی د خدائ
پاک نه غواړی چی بغیر د ملامتولو نه یی

هر چا ته پوره په فیاضئ ورکوی، نو هغۀ
ته به هم ورکولے شی.

(یعقوب ۱ : ۵)

ماشومان:- ۱. آیا حضرت سلیمان ځوان وو یا بوډها؟

۲. څوک خلقو ته حکمت ورکوی؟

۳. آیا حضرت سلیمان بادشاه یو هوښیار سړے وو؟

# نوې هيکل د خداۍ پاک د پاره

## د اسرائيلو د خوشحالۍ ورځې

د حضرت سليمان د بادشاهۍ په وخت کښې د ټولو نه ضرور کار د خداۍ پاک کور چې ورته هيکل ووئيلې کيږي آباد شو. دا ښکلے عمارت په بيت المقدس کښې د موره په غرۀ کښې آباد شو. د حضرت داؤد د بادشاهۍ په وخت کښې د هيکل د جوړيدو د پاره ښکلې د نختر لرګې، خاص کاڼې او ښۀ سپين کتان جمع کړے شوی وو.

سليمان بادشاه د دې کار پوره کولو د پاره يو سل او درې اتيا زره خلق په کار واچول. په دوی کښې کاڼې کټ کونکې هم وو هغوی به په غرونو کښې د کنستلو کار کولو. هره مياشت به لس زره کسان لبنان ته د لرګو ماتولو د پاره تلل. نور ډير کارونه

به د بهر قومونو خلقو لکه اموریان، حتیان، فرزیان، حویان او یبوسیانو او کوم خلق چی په اسرائیلو کښی اوسیدل هغوی کول. دری زره او دری سوه سړی صرف د دی کار کوونکو سرداران وو. هیکل ته به کاڼی او نور څیزونه د راوړلو او لګولو نه مخکښی په صحیح او پوره ناپ کټ کیدل. د هیکل په آبادئ کښی یی دی د پاره صحیح او په ناپ څیزونه لګول چی په هیکل کښی د څټک، اری یا داسی نور څۀ ضرورت اوزار پکار رانۀ شی. دا لوئ عمارت په خاموشئ او امن سره راوچت شو.

هم داسی د خدائ پاک فطرت هم دی هغه هم داسی کبل راوخیژوی، اونو کښی پاڼی راخیژوی، ګلونه سپړی او میوی پخوی. هم داسی عیسی[1] مسیح هم خپل جماعت په دی زمکه په احترام او

امن سره جوړ کړے دے. هغه مونږ نه د ژوندی هیکل ذخیره او د روح القدس د اوسیدلو ځائے جوړ کړو.

اووه کاله وروستو دا عظیم الشان هیکل تیار شو. آیا د خدائ پاک دا قبول وو؟ آیا د هغه په حضور کښې د دی څۀ احترام وو؟

د هیکل د وقف کولو په ورځ حضرت سلیمان بادشاه د خلقو د وړاندی اودریدلو. خلقو هغۀ ته کتل چی هغه په ګوډو شو او خپل لاسونه یی د آسمان طرف ته اوچت کړل او د خدائ پاک نه یی د برکت د پاره دعا وکړه.

کله چی حضرت سلیمان دعا ختمه کړله، نو د آسمان نه د اور شعله راغله او د هغوی هغه قربانئ یی وسوځولی کومی چی هغوی پیش کړی وی. د خدائ پاک د جلال نه هیکل ډک شو او د دی نه

دا واضحه شوه چې خدائ پاک خوشحاله
دے. نو اسرائیلیان د عبادت او ثناء د پاره
هم هلته په سجده شول او ووئیل یی،
"چې هغه ښۀ دی؛ ځکه چې د هغۀ رحمت د
همیشه د پاره دے."

۱ بادشاهان ۴ — ۸؛ ۲ تواریخ ۳ — ۸

والدین:- زۀ خوشحاله شوم کله چې هغوی ووئیل
چې رازئ چې د خدائ پاک کور ته لاړ
شو.

(زبور ۱۲۲ : ۱)

ماشومان:- ۱. هغوی هغه ښکلی عمارت ته څۀ نوم
اخستو کوم چې حضرت سلیمان جوړ کړو؟
۲. د دی عمارت په جوړولو څومره وخت ولګیدو؟
۳. حضرت سلیمان او خلقو څۀ وکړل کله چې دا
عمارت مکمل شو؟

# حضرت ایلیاه

## خدائ پاک پیغمبرانو ته مهیا کوی

د حضرت سلیمان د مرګ نه لږ وخت پس اسرائیلیانو د بتانو عبادت شروع کړلو. څۀ خلقو به ووئیل، "بعل ډیر ښۀ معبود دے!" چا به ووئیل، "چی نه عستارات ډیر لوئ دے." خلقو دا دعوه کوله چی د مولک هیکل د عبادت ځائے دے. خدائ پاک د بُت پرستئ نه نفرت کولو. دی د پاره خدائ پاک د جلعاد د ملک نه حضرت ایلیاه راوغوښتو چی نبی شی او اسرائیلو ته د خدائ پاک د کلام په باره کښی ووائي. حضرت ایلیاه صرف د رښتینی خدائ پاک عبادت او فرمانبرداری کوله.

خدائ پاک د اسرائیلو د مکار بادشاه اخی اب نه ډیر خفه وو. خدائ پاک حضرت ایلیاه ته

وفرمائیل، "چې لاړ شه او اخی‌اب ته
ووایه چې زۀ به څو کالو پورې ستا په
ملک کښې باران نۀ راوروم." په دې ووئیلو
اخی‌اب حضرت ایلیاه ته ډیر غصه شو. نو په دې
وجه خدائ پاک حضرت ایلیاه ته ووئیل چې اردن
ته لاړ شه او هلته په کریت نومې ځائے کښې پټ
شه.

هر سحر او ماښام به خدائ پاک حضرت ایلیاه ته
کارغان د روټئ او غوښې ورکولو د پاره رالیږل. په
شروع کښې په هغه چشمه کښې کافې اوبۀ وې خو
د باران د نۀ کیدو په وجه هغه زر ختمې شوې. او
د اسرائیل په ټوله زمکه خشک سالې راغله.

نو خدائ پاک بیا حضرت ایلیاه ته ووئیل چې د
شمال طرف ته د صارپت ښار ته لاړ شه. هغۀ
حضرت ایلیاه ته ووئیل، "چې هلته یوې کونډې

ته ما ستا د حفاظت کولو د پاره ووئيلی دی." کله چې حضرت ايلياه د ښار دروازې ته ورسيدو نو هغۀ يوه ښځه وکتله چې لرګی يې ټولول. اول حضرت ايلياه د هغې نه د اوبۀ او بيا يې ترې نه ډوډئ وغوښتله.

ښځې هغۀ ته جواب ورکړو، چې د هغۀ ژوندی خدائ پاک قسم دی چې مونږ کره ډوډئ نشته. خو يو موټے اوړۀ او يو کوپئ تيل شته دے. او وګوره زۀ يو يو لرګے راټولوم چې کور ته يې يوسم او هلته پرې ځان ته او خپل زوئ ته څۀ پاخۀ کړم چې هغه وخورو او د لوږې مړۀ نۀ شو."

حضرت ايلياه هغې ته ووئيل، "چې ويرېږه مه؛ چې لاړه شې او څنګه چې دې ووئيل هغسې وکړه خو اول زما د پاره يو روټئ پخه کړه او ماته يې راوړه. او د هغې نه وروستو يې ځان او خپل زوئ

د پاره پخه کړه. ځکه چې د اسرائيلو
خدائ پاک داسې فرمائي چې تر هغه
ورځې پورې به په منګې کښې اوړهٔ او په
کوپئ کښې تيل کم نهٔ شي تر څو پورې چې هغه
په زمکه باندې باران وونهٔ کړي."
ښځې ومنله او د حضرت ايلياه په کلام يې باور
وکړو. او د هغې ورځې نه پس به هغې کونډې او د
هغې زوی ته هغه هومره خوراک ملاويدو څومره
چې يې ضرورت وو. د خدائ پاک او د هغه د
فرښتو د پاره دا ضرور يو عجيبه وخت وو کله چې
به هغوی دا لوخې د خوراک او تيلو نه ډکول.
۱ بادشاه ۱۷

والدين:- ګورئ! د خدائ پاک نظر په هغوی
باندې دے څوک چې د هغهٔ نه ويريږي او

ځوک چې د هغۀ د مهربانئ اميدوار وی او
چې د هغوی ژوند د مرګ نه بچ کړی او
په قحط کښې هغه ژوندی اوساتی.

(زبور ۳۳ : ۱۸ – ۱۹)

ماشومان:- ۱. حضرت ایلیاه ولې په بیابان کښې پټ شو؟
۲. حضرت ایلیاه ته په بیابان کښې خوراک څنګه ملاویدو؟
۳. کونډې کره څۀ او څومره خوراک وو؟

# مالک خدائ پاک یا بعل

## د آسمان نه د اور راغورځېدل

په اسرائیل کښې د دریو کالو د خشک سالئ نه پس، خدائ پاک حضرت ایلیاه سره وعده وکړه چې هغه به بیا باران وکړی. خدائ پاک حضرت ایلیاه اخی‌اب بادشاه ته ولیږلو. کله چې اخی‌اب حضرت ایلیاه وکتلو نو تپوس یی تری وکړو، "چې دا ته یی، چې په اسرائیلیانو دی مشکلات راوستی دی؟"

بیا حضرت ایلیاه هغهٔ ته جواب ورکړو، "چې ته هغه څوک یی چې اسرائیلیان دی د خپلی مکارئ په وجه په مشکلاتو کښې اچولی دی. خو اوس تهٔ داسی وکړه چې د کرمل په غرهٔ باندی ټول اسرائیلیان او د بعل ۴۵۰ نبیان راغونډ کړه. نو دا

خلق به هلته فیصله وکړی چې دوی د چا
خدمت کوی د بعل او کۀ د خدائ پاک."
اخی‌اب ومنله او ټول خلق یی د کرمل غرۀ
ته راوغوښتل. بیا حضرت ایلیاه ووئیل، "چې تاسو
بعل ته دعا وکړئ او زۀ به خپل خدائ پاک ته دعا
وکړم. د چا خدائ پاک چې د قربانئ په ځائے
باندی اور راولیږی نو هغه به رښتینی خدائ پاک
وی." او په دی ټول خلق راضی وو.
د بعل نبیانو کوشش وکړو. تر غرمی پوری هغوی
بعل ته دعا وکړه. هغوی د قربانئ په ځائے باندی
پریوتل، چغی یی ووهلی، او خپل ځانونه یی تر
هغی پوری په چاړو وهل تر څو چې د هغوی نه
وینی وبهیدلی. په غرمه کښی حضرت ایلیاه هغوی
ته پیغور ورکړو. او هغوی ته یی ووئیل چې په

اوچت آواز خپلو خدایانو ته چغی کړئ ځکه چی هغوی خو دیوتا ګان دی کیدے شی چی څۀ سوچ کوی یا چا سره خبری کوی، یا چرته په سفر وی او یا اودۀ وی."
توله غرمه هغوی ګډوډی ووئیلی خو هیڅ جواب ورته ملاؤ نه شو.
بیا حضرت ایلیاه خلقو ته ووئیل، "چی ما ته نزدی راشئ." هغه د خدائ پاک مات شوے د قربانئ ځائے تیار کړو او ګیرچاپیره یی تری کنده وویستله. هغۀ د قربانئ په ځائے باندی لرګی او هلال کړے غویی کیښودو. بیا هغۀ ووئیل چی څلور منګی اوبۀ دی په دی غوښه او لرګو واچولے شی. او داسی یی دری ځل وکړل او هر څۀ یی لوند کړل او هغه کنده هم د اوبو نه ډکه شوه.

بیا حضرت ایلیاه صرف د دریو شپیتو

(۶۳) لفظونو یو دعا وکړه. او د آسمان نه د

اور شعله راوغورځیده. او په دی باندی

هغه قربانی، لرګی، کاڼی، دوړه او هغه د کندی

اوبۀ ټول هر څۀ وسوزځیدل. دا یو عام اور نۀ وو،

ځکه چی دی اور د ښکته نه تر سره پوری نه بلکه

د سر نه تر ښکته پوری سوزول وکړل.

کله چی خلقو دا معجزه ولیده نو ټول په زمکه

پړمخ په سجده پریوتل. او دا ووئیل یی شروع

کړل، "هم ما لک خدائ پاک دے! مالک، خدائ

پاک دے!"

۱ بادشاه ۱۸

والدین:- ته به خپل مالک خدائے ته سجده کوے او تش د هغهٔ بندګی به کوی.

(متی ۴ : ۱۰)

ماشومان:- ۱. آیا د بعل نبیانو ته د خپلو خدایانو نه څهٔ جواب ملاؤ شو؟

۲. آیا خدائ پاک د حضرت ایلیاه دعا واوریده؟

۳. اور د چرته نه راغلو؟

# حضرت ایلیاه آسمان ته ځی د اور ګاډکه

په زمکه باندی د حضرت ایلیاه کار تقریباً پوره شوے وو. دا د هغۀ د پاره ډیره لویه ورځ وه کله چی خدائ پاک هغه ته ووئیل چی هغه به خدائ پاک آسمان ته د اور په ګوله کښی بوزی. حضرت ایلیاه ته دا معلومه وه چی داسی به تر هغه پوری ونۀ شی تر څو چی هغه د بیت ایل او یریحو نه تیر او د اوردن د دریاب نه پوری نۀ وزی.

حضرت ایلیاه یو نوی نبی الیشع ځان سره کړو. هغوی به چی هر ښار ته تلل نو حضرت ایلیاه به الیشع ته په زور ووئیل چی هلته ایسار شه ځکه چی خدائ پاک هغه مخکښی تللو ته رالیږلی دی.

خو هر څل اليشع هغۀ ته په جواب کښې ووئيل، "چې زۀ به تا نۀ پرېږدم." او هغۀ دا فيصله کړې وه چې هغه به تر هغه وخته پورې حضرت ايلياه نۀ پرېږدې تر څو چې خدائ پاک هغه آسمان ته بونۀ ځي.
د يريحو نه پس هغوی دواړه پنځه ميله نور د اردن درياب خوا ته لاړل. په دوی پسې په څۀ فاصله کښې د يريحو پنځوس ځوانان نبيان روان وو. کله چې دوی د اردن د درياب غاړې ته ورسيدل، نو حضرت ايلياه خپل څادر غونډ کړو او په اوبو کښې يې وهلو. په دې کولو سره اوبۀ دوه ځايه تقسيم شوې او هغوی د دې په منځ کښې په اوچې زمکه بل طرف ته لاړل. نو هلته حضرت ايلياه

اليشع ته ووئيل، "چې د تللو نه مخکښې زۀ ستا د پاره څۀ وکړم؟"

اليشع جواب ورکړو، "چې ما ته هغه برکت د نورو نه زيات راکړه کوم چې تا نورو نبيانو ته ورکړے دے." حضرت ايلياه هغۀ ته ووئيل چې تا ما نه ډير مشکل سوال وکړو خو بيا هم کۀ تۀ ما د ځان نه جدا کيدو کښې وګورې نو ستا دا خواهش به پوره شي څۀ چې تۀ غواړې. او کۀ دې ونۀ کتلم نو بيا به دا تا ته ملاؤ نۀ شي.

هغوی روان وو او خبرې يې کولې چې ناڅاپه د بريښناکو اسونو او د اور په شان يوه ټانګه د دوی په منځ کښې راغله او حضرت ايلياه او اليشع يې په خپلو کښې جدا کړل. او حضرت ايلياه د اور په ګولې کښې آسمان ته بوتلی شو.

الیشع چې دا وکتل نو چغې یې کړې چې اے زما پـلاره، زمـا پـلاره، د اسـرائیلو ټانګې او د هغې سوارو! الیشع تـه پتـه وه چې کله حضـرت ایلیـاه د زمکـې نـه لاړ شـې نـو اسرائیل به د یو داسې رُتبـې او قـدرت والا سـړے بائیلې کوم چې د هغـوی د پـاره د ډیـرو اسـونو او ټانګو نه غوره وو. اوس هغۀ حضرت ایلیاه نور ونـۀ کتلو.

الیشع هغه څادر اوچت کړو کـوم چـې د حضـرت ایلیاه نه غورزیدلے وو. هغـۀ څـادر پـه اوبـو کښـې وهلو او اوبۀ بیا هم هغسې جـدا شـوې لکـه څنګـه چې مخکښې شوې وې.

بیا هغه پنځوس نبیان چې د الیشع د راتلو انتظـار یې کولو راغلل او هغۀ ته په سجده شول. او هغوی

ووئيل، "چـې اوس د حضـرت ايليـاه روح
په اليشع کښې دی."
۲ بادشاهان ۲

والدين:- هغه جنګ چې ما ته په دِ دنيا کښې کول
وو، ما په ښۀ شان وکړو، خپله منده مے
پوره کړې ده اؤ هغه ايمان چې ما ته
سپارلے شوے وو، هغه مې محفوظ ساتلے
دے. اؤ وړاندې زما د پاره د صداقت د
ګټې سهره کيښودے شوې ده.
(۲ تيموتيوس ۴ : ۷ – ۸)

ماشومان:- ۱. حضرت ايلياه چرته لاړو؟
۲. هغه آسمان ته څنګه لاړو؟
۳. اليشع د اوبو جدا کولو د پاره څۀ استعمال
کړل؟

# يوه وړه غلامه ايمانداره جينئ

## نعمان ته شفا ملاؤ شوه

د سائريه په ملک کښې يو وړه غلامه جينئ اوسيده چې په اسرائيلو کښې د خپل خاندان نه اخيستے شوې وه. د هغې مالک د بادشاه په فوج کښې سردار وو، خو هغۀ يوه خطرناکه بيمارى لرله چې ورته جزام وايي. دې وړې جينئ د نعمان ښځې ته ووئيل چې ستا خاوند به ښۀ شي خو کۀ دے هغه نبي ته لاړ شي کوم چې په سماريه کښې دے.

نعمان د مدد نه نااميده وو. خو بيا هم هغۀ د ځان سره څۀ سرۀزر، سپين زر، او يو څو جوړه جامې او د سائريي د بادشاه خط يوړل. هغه خط د اسرائيل بادشاه ته ووئيلے شو. په دې کښې ليکل

شوی وو، "چې دا سړے چې ما درلیږلے دے دا زما خادم دے. او زۀ غواړم چې تۀ دۀ ته شفا ورکړې." په اسرائیل کښې نعمان هغه خط بادشاه ته ورواندې کړو.

د اسرائیل بادشاه په دې خط باندې ډېر خفه وو. ځکه چې هغۀ ووئیل، "آیا زۀ خدائ پاک یم، چې څوک مړ کړم یا چا ته شفا ورکړم؟"

الیشع نبی د اسرائیلو د بادشاه د خفه کېدو په باره کښې واورېدل نو هغۀ نعمان خپل کور ته راوغوښتو. نو نعمان خپلو اسونو او ګاډو سره د الیشع کور ته راغلو. هغۀ په دروازه کښې انتظار کولو خو الیشع هغه نۀ دننه راوغوښتو او نۀ ورسره بهر ملاؤ شو. د خپل ځان په ځائے هغۀ خپل خادم ورولیږلو چې نعمان ته ووایی، "چې لاړ شه

او د اردن په دریاب کښې اووۀ غوپې ووهه نو تا ته به شفا ملاؤ شی."

په دی نعمان ډیر غصه شو. هغۀ فکر کولو چې هغه دومره لوئ دے چې الیشع به د هغۀ د احترام د پاره بهر راشی او د هغۀ په بدن په لاس کیږدی او دعا به وکړی. هغۀ د شفا حاصلولو د پاره خپل ټول دولت ورکولو خو خپل فخر یې نۀ ورکولو.

خدائ پاک د نعمان په زړۀ کښې کبر وکتلو. هغۀ غوښتل چې نعمان حلیمی او تابعداری زده کړی. خدائ پاک غوښتل چې د دنیا خلقو ته دا پته ولګی چې خدائ پاک د چا د لوئی احترام نۀ کوی.

نو نعمان کور ته په کبر او غصې سره واپس شو. خو د هغۀ خادمان هغۀ ته راغلل او ورته يې ووئيل، "کۀ نبی تا ته د څۀ لوی کار کولو حکم کړے وو نو تا به هغه نۀ وو کړے څۀ. نو بيا دا ساده کار ولې نۀ کوې؟"
آخر نعمان مجبور شو. او د اردن په درياب کښې يې اووۀ غوپې وهلې او د هغۀ بدن جوړ شو او لکه د يو وړوکی ماشوم د بدن په شان پاک شو.
اوس نعمان په حليمۍ سره دا ښکاره کړه، "چې اوس ماته معلومه شوه چې په زمکه بل خدائ پاک نشته سوائ د اسرائيلو د خدائ پاک نه. او زۀ به صرف د هغۀ عبادت کوم."
۲ بادشاه ۵

والدین:- عیسیٰ خپل لاسونه ور اوږده کړل، هغه یی مسح کړو اؤ وی ووئیل چی "بی شکه چی زۀ داسی غواړم، پاک شه!" او د هغۀ نه جذام په هغه ساعت لاړو.

(لوقا ۵ : ۱۳)

ماشومان:- ۱. نعمان ته د اسرائیلو د نبی ښنګه پته ولګیده؟

۲. نعمان ته څومره ځل د اردن په دریاب کښی غوپه کیدل وو؟

۳. آیا نعمان خوشحاله شو کله چی هغه فرمانبرداری وکړه؟

# څلور جذاميان د سامريې نه خدائ پاک بنی اسرائيل د قحط نه بچ کوی

د سائيريې بادشاه خپل ټول فوج د اسرائيلو زمکې ته د هغوی خلاف د جنګ کولو د پاره راوستل. هغوی د سامريې نه ګير چاپيره قبضه وکړه او کوشش يې کولو چې هغه خلق هم په زوره ګير کړی.

هر ورځ په سامريه کښې خوراک کميدو. خلق د خوراک په وجه مايوسه شول.

يو ورځ بادشاه ته يو ښځې خواست وکړو چې زمونږ او زمونږ د دوستانو په منځ کښې دا فيصله وشوه چې مونږ خپل زامن په نمبر نمبر وخورو. کله چې بادشاه دا واوريدل نو خفه شو چې حالات

دومره حده پوری خراب شو. هغهٔ د دی
هر څهٔ الزام په اليشع ولګولو او هغهٔ چغی
وهلی چی د اليشع سر دی قلم شی.

بيا اليشع پيشنګوئی وکړه، "چی سبا په دی وخت په قبضه ختمه شی. او اوړهٔ او اوربشی به په ارزان نرخونو په بازار کښی خرڅيږی."

په هغه ماښام څلورو جذاميانو فيصله وکړه چی د سائريی د فوجيانو کيمپ ته د خوراک غوښتو د پاره ورشی. هغوی ووئيل، "چی په ښار کښی خو مونږ هسی هم مړهٔ کيږو نو کيدئ شی چی هغوی سره مونږ ته د ښهٔ کيدو موقع ملاؤ شی."

د هغوی کيمپ ته د تللو نه مخکښی، خدائ پاک د اليشع پيشنګوئی د پوره کولو معجزه کړی وه. خدائ پاک د سائريانو په غوږونو کښی د ټانګو او

اسونو او د ډیرو فوجیانو د پښو شور
واورولو. نو هغوی دا فکر وکړو چې د
اسرائیلو بادشاه په مونږ باندی د حملی
کولو د پاره هتیان او مصریان په پیسو راغوښتی
دی. نو هغوی په ویره او هیبت کښی د هغه ځائے
نه وتښتیدل، او خپلی خیمی، اسونه، خرونه او
ټول هر څۀ یی پریښودل.

هغه څلور جذامیان چې کله کیمپ ته راغلل نو
کیمپ خالی وو. هغوی خوراک وکړو، او د خپل
مدد د پاره یی سپین زر، سرۀ زر، جامی، او
نوری خزانی واخستی. په خوشحالئ سره هغوی
هغه هر څۀ په پټ ځائے کښی کیښودل او د نورو
څیزونو اوړولو د پاره بیا راغلل. خو بیا هغوی بس
کړل. او خپلو کښی یی ووئیل، "چې مونږ ته پکار

دی چې د دی هر څۀ په باره کښې بادشاه ته ووایو." "مونږ ته خودغرضه کیدل نۀ دی پکار."

د سحر کیدو نه مخکښې بادشاه په دی خبر راپاڅیدو. هغۀ ووئیل، "چې دا د هغوی زمونږ د ښار نه د ویستلو چال دے." په دی وجه څۀ تکړه کسان لاړل چې دا هر څۀ وګوری. هغوی وکتل چې د سائریې په لاره جامې او نور څیزونه پراتۀ دی او دا د هغوی نه د تښتیدو په وخت کښې غورځیدلی وو. نو هغه کسان ډیر زر واپس راغلل او وئې ووئیل چې سائریان په رښتیا تلی دی.

بیا هغوی ټول د ښار نه راووتل چې د هغوی پاتې شوی څیزونو لوټ کړی.

۲ باشاهان ٦ — ۷

والدين:- کۀ بدکارانو پسی څوک نۀ وی
خو بیا هم هغوی تبنتی خو صادقان د تکړه
ازمرو په شان تکړه وی. (متلونه ۲۸ : ۱)

ماشومان:- ۱. هغه جذامیان څو کسان وو؟
۲. سائریان ولی وتبنتیدل؟
۳. اسرائیلیانو ته څنګه پته ولګیده چی سائریان وتبنتیدل؟

# د یهوسفط سندره ویونکی فوج

## سندره ویونکی ډلی جنګ وګټولو

یهوسفط د یهودا یو هوښیار او مضبوط بادشاه وو. هغۀ په خپل ټول زړۀ سره د خدائ پاک خدمت کولو. هغۀ په ملک کښې ټول بتان ختم کړل او کاهنان یې د ملک بیلو بیلو ځایونو ته ولیږل چې خلقو ته د خدائ پاک د شریعت تبلیغ وکړی.

بیا یهوسفط واوریدل چې موآبیان، عمونیان، او ارامیان د هغوی خلاف د جنګ کولو د پاره یو ځائے شوی دی. هغوی د دریاب نزدی ډیر لوئ فوج جمع کړے وو. د دی ویری د وجې نه د یهودا د ښارونو نه ټول خلق د خدائ پاک د جواب حاصلولو د پاره راغونډ شول. په خدائ پاک د پوخ

یقین سره هغوی پـه هیکـل کښـی روژی او دعاګانی وکړلی، او هغوی د خدائ پـاک د جواب په طلـب کښـی هـم وو. یهوسـفط د هغوی په مینځ کښی اودریدو او په دعا کښی یی د خپلو خلقو رهنمائ وکړه.

بیا د خدائ پـاک روح پـه یحزیایـل بانـدی نـازل شو، چی لاوی وو. هغهٔ ووئیل، "چـی تاسـو د دی لوی ډلی نه مهٔ ویریږئ، ځکه چی دا ستاسو جنګ نهٔ دے بلکه د خـدائ پـاک جنـګ دے. پـه ایمـان مضبوط اوسئ او ګورئ چی خدائ پاک تاسو څنګه بچ کوی." په دی وئیلو خلق ډیر په اطمینان او آرام شول.

سحر وختی یهوسفط د خدائ پاک شکرګزاری وکړه د هغه جنګ د پاره کوم چی پـه هغـه ورځ ګټـونکے

وو. هغۀ خلقو نه تپوس وکړو چې د فوج نه مخکښې به يو د سندرو او حمدوثناء وئيلو يوه ډله روانه وی. په دې ټول رضا وو نو هغه خلق د سندرو او حمدوثناء وئيلو د پاره غوره کړل.

آيا تاسو کله داسې اوريدلی دی چې د دښمن طرف ته د تلونکو فوجيانو رهنمائ په سندرو او حمدوثناء ويونکی ډله کوی؟ آيا تاسو کله داسې آوازونه په خپل فکر کښې اوريدلی دی کوم چې په يو وادئ کښې بيا بيا راتمبيږی!

کله چې هغوی سندری، حمد او د خدائ پاک شکرګزاری کوله، نو يهوسفط مورچې تياری کړی چې په موآبيانو، عمونيانو او اراميانو باندی حمله وکړی. په دې عمونيان او موآبيان ډير وارخطا شول

نو هغوی ارامیان تباه کړل، او بیا یی خپلو
کښنی یو بل تباه کول شروع کړل.
کله چی سندری او حمد ویونکی فوج
راورسیدلو نو هلته صرف مړی پراته وو. او د جنګ
کولو هیڅ ضرورت پیښ نهٔ شو ځنګه چی خدائ
پاک فرمائیلی وو. او د هغوی نه چی څهٔ کالی،
پیسی او نور ځیزونه پاتی وو نو هغه هغوی تر
دریو ورځو پوری راټول کړل او لوټ یی کړل. په
څلورمه ورځ هغوی د خدائ پاک ثنا ووئیله او بیا
خپل ملک یهودا او بیت المقدس ته په خوشحالئ
سره هغوی ټول راواپس شول.
۲ تواریخ ۲۰

والدین:- د خدائ پاک شکرګزاری وکړئ
ځکه چې هغه رحیم دے او د هغۀ شفقت
ابدی دے. (زبور ۱۰۷ : ۱)

ماشومان:- ۱. آیا یهوسفط یو ښۀ بادشاه وو؟
۲. آیا هغۀ د خدائ پاک خدمت کولو؟
۳. د یهوسفط د فوج نه مخکښې څوک روان وو؟

# آستر يهودنره

# د بادشاه بله ملکه خوښول

آستر يوه يهودی يتيمه وه چی د فارس په ملک کښی اوسيده. د هغی مور او پلار او نور ډير اسرائيليان هلته څۀ وخت مخکښی د قيديانو په شان راوستلے شوی وو.

يوه ورځ د فارس ګورنران او فوجی افسران ټول د چوټيانو د تيرولو د پاره د سوسن سلطنت ته راغلی وو. اخسويرس بادشاه غوښتل چی هغوی په خپل شان وشوکت او دولت باندی حيران کړی. د خوشحالئ د جشن آخری هفته هغوی د بادشاه د حکم په مطابق د شاهی شرابو په ښلو تيره کړه.

هم په دغو ورځو کښی وشتی ملکی هم د محل ښځو ته ميلمستيا ورکړه. د جشن په آخری ورځ

هغوی ته یو شاهی حکم وشو. په هغه ورځ
بادشاه د شرابو په نشه کښی مست وو، او
هغۀ غوښتل چی هغه سرو ته د ملکی
ښائست وښائی. وشتی ملکی نۀ غوښتل چی خپل
ځان وشرموی. او هغې بادشاه ته د راتلو نه انکار
وکړو.

په دی بادشاه ډیر غصه شو. او هغۀ تپوس وکړو،
"چی داسی ملکی سره دی څۀ وشی کومه چی د
بادشاه د حکم نافرمانی وکړی؟"

مموکان چی د بادشاه په هوښیارو سړو کښی ووهغه
جواب ورکړو، "چی ملکی صرف ستا نه بلکه د
بادشاه د سلطنت د ټولو خلقو خطا کړی ده. او کله
چی د نورو ملکونو ښځی دا خبره واوری نو هغوی
به هم د خپلو خاوندانو نافرمانی کوی. نو په دی

وجه تهٔ داسی وکړه چی وشتی ملکه د
ځان نه لری کړه او د ځان د پاره یو بله
ملکه چی د هغی نه ښکلی وی غوره کړه."

اخسویرس سمدستی د هغه په نصیحت عمل وکړو. خو کله چی د هغهٔ غصه سړه شوه نو هغه د وشتی ملکی په لری کولو خفه وو. د بادشاه ملازمانو ووئیل، "چی مونږ به ستا د سلطنت نه ښکلی جینکئ یو ځائے راجمع کړو. کومه جینئ چی تا ډیر خوشحاله کړی هغه به د وشتی په ځائے ملکه شی." دا خبره د بادشاه هم ډیره خوښه شوه او هغهٔ هم هغسی وکړل.

یو یهودی چی نوم یی مردکی وو هغهٔ هم د بادشاه دا خبره واوریده. آستر د هغهٔ د ترهٔ لور وه خو چی ترهٔ یی مړ شو نو هغهٔ آستر د خپلی لور په شان

لویه کړه. په دی اوریدو سره مردکی دا فیصله وکړه چی آستر هم په دی مقابله کښی حصه واخلی.

آخر ټولی جینکئ په خپل خپل وار بادشاه ته ورغلی. ډیرو په هغوی کښی ډیره بیعه او پیسی وغوښتی خو آستر هیڅ ونۀ غوښتل. آستر د خپل ساده توب په وجه د نورو د ښائست نه زیاته ښائسته ښکاریده. او کله چی بادشاه هغه وکتله نو د بادشاه آستر د نورو ټولو جینکو نه زیاته خوښه شوه. او بادشاه د هغی په سر شاهی تاج کیښودو. او یتیمه آستر ملکه شوه.

آستر ۱ — ۲

والدين:- څوک چی د صداقت او رحم
تابعداری کوی نو هغهٔ ته ژوند او صداقت
او عزت ملاؤیږی. (متلونه ۲۱ : ۲۱)

ماشومان:- ۱. هغه یتیمه جینئ څوک وه؟
۲. بادشاه په څهٔ غصه شو؟
۳. بادشاه ولی آستر خوښه کړه؟

# د سوسن په محل کښې

## د آستر لويه فيصله

کله چې آستر ملکه شوه، نو بادشاه په خپلو ملازمانو کښې د هامان نه ډير خوشحاله وو او په دې وجه هغۀ هامان د ټولو شهزادګو مشر کړو. او حکم يې وکړو چې د محل ټول ملازمان دې د هغۀ په وړاندې په سجده کيږي. خو مردکی چې يهودی وو او صرف د يو خدائ پاک عبادت يې کولو هغۀ هامان ته د سجده کولو نه انکار وکړو. هامان بهر نه غصه راغلو او بادشاه ته يې ووئيل، "چې ستا په سلطنت کښې د داسې قومونو خلق خوارۀ دي چې هغوی د بادشاه د حکم منلو نه انکار کوی. کۀ بادشاه ته منظوره وی، نو داسې يو قانون به جوړ کړو چې دا يهوديان ټول ووژنو او غرق يې کړو."

بادشــاه پــه دی خواســت راضــی وو، او داسی فیصله یی وکړه چی پــه خــاص ورځ به دا یهودیان مـړهٔ کـړے شی. ډیـر زر د دی فرمان نقلونه په ټول فارس کښی خـوارهٔ شـول. بیا هامـان او بادشـاه پـه خپلـو کښـی د شـرابو پـه څښلو جشن وکړو. خو نهٔ بادشاه او نهٔ هامان خبـر وو چی آستر ملکه هم یهودنړه ده.

کله چی یهودیـانو تـه د دی خطرنـاک قـانون پتـه ولګیده نو هغوی ډیر پریشانه وو. مردکـی د سوسـن په ښار په آزادئ سـره ژړل. هغـهٔ آسـتر تـه ووئیـل چی لاړه شه او بادشاه ته د رحم درخواست وکـړه او داسی کول د هغی د ژونـد د پـاره خطرنـاک هـم وو. هغهٔ هغی ته ووئیل چی څـوک پـوهیږی کیـدی شی چی، "خدائ پاک تهٔ محل ته د دی وخـت د پاره راوستی یی!"

د دری ورځو د روژو نه وروستو آستر ملکې شاهی جامې واغوستې او د بادشاه وړاندې ورغله. آیا بادشاه به هغه بغیر د اجازت نه محل ته په راتللو باندې مړه کړی؟ نه اخسویرس آستر ته هلته په راتللو باندې هرکلے ووئیلو. بادشاه ته د حقیقی خواست کولو نه مخکښې هغې بادشاه او هامان هغه جشن ته راوغوښتل کوم چې هغې تیار کړے وو.

په دې هامان ډیر فخر محسوس کړو! او هغۀ خپلې ښځې زرش ته هم د دې په باره کښې ووئیل. خو هغۀ هغې ته ووئیل، چې د دې ماته تر هغه پورې څۀ فائده نشته، "تر څو پورې چې زۀ مردکی ګورم چې هغه ما ته د سجدې کولو نه انکار کوی!"

نو په دې خبره کولو د هغۀ ښځې زرش هغۀ ته ووئیل چې د مردکی د پاره یو د پانسۍ تیاره کړه.

او سحر بادشاه ته خواست وکړه چې مردکی په دار پانسئ پانسی کړو."

اخسویرس بادشاه ته پته وه چې ملکه به د هغۀ نه څۀ خاص خواست کوی. بله ورځ په جشن کښې بادشاه هغې ته ووئیل، "چې ماته ووایه، چې ستا څۀ خواهش دی؟" آستر جواب ورکړو، "زۀ صرف د خپل ژوند او د خپل قوم د خلقو د ژوند خواست کوم، ځکه چې دا مکار هامان غواړی چې مونږ ټول ووژنی."

کله چې بادشاه دا واوریدل نو هامان ته ډیر غصه شو. او د هغۀ په ملازمانو کښې یو ووئیل، "چې هامان دا منصوبه جوړه کړې ده چې مردکی په پنځه اویا فوټه پانسئ باندې پانسی کړی."

بادشاه ډیر په غصه کښې ووئیل. "هامان هم په دې پانسئ باندې پانسی کړئ،" او داسې هامان په

خپلې جوړ کړې پانسۍ باندې پانسي کړے شو.
آستر ۳ – ۸

والدین:- داسې هیڅ پټ شۓ نشته چې هغه به څرګند نهٔ کړے شي اؤ داسې هیڅ څیز نامعلومه نشته چې هغه به ونهٔ پیژندلے شي. (لوقا ۱۲ : ۲)

ماشومان:- ۱. چا غوښتل چې ټول یهودیان ختم کړي؟
۲. آیا آستر یهودنړه وه؟
۳. هغه د پانسۍ دار څهٔ د پاره تیار کړی شو؟

# حضرت یشعیاه- ته د خدائ پاك بلنه

## د خدائ پاك ډیر لیواله نبی

د بنی اسرائیلو د مصیبت په وخت کښی خدائ پاک حضرت یشعیاه چی یو لوئ او عظیم نبی تیر شوی دی راوچت کړو. هغه په کتاب مقدس کښی د یشعیاه کتاب ولیکلو. د خدائ پاک د عدالت او د هغۀ د خلاصون په باره کښی د ټینګ بیان په وجه هغه د نورو ټولو نبیانو شهزاده وو. د لوئ راتلونکی مسیح یعنی د مالک عیسیٰ د راتلو په باره کښی پیشنګوئی کول د هغۀ د کتاب تاج دے. د حضرت یشعیاه کتاب د وړوکی انجیل په شان دی.

که مونږ دا یاد اوساتو چی حضرت یشعیاه د مکارو حاکمانو په وخت کښی ژوند تیرولو نو دا به زمونږ

مدد وکړی چی مونږ پوهه شو چی هغۀ
ولی هغه څۀ ولیکل څۀ چی هغۀ کړی وو.
دی الفاظو ته غور وکړئ کومی چی
بنیاسرائیلو ته بیان شوی : "اے ګناهګار قومه،
اے د بدو کارونو نه ډکو خلقو، اے د غلطو خلقو
نسله او د خطاکارو بچو."
هغۀ په هغه خلقو باندی لعنت ووئیلو څوک چی
خطاکارو وو. چا چی به بدو ته ښۀ او ښو ته بد
وئیل. هغوی به رڼا ته تیارۀ او تیاری ته رڼا
ووئیله. هغوی په تیزو شرابو کښی ملاوټ وکړو.
هغوی مجرم په رشوت اخستلو بی ګناه وګرزولو او
صادق یی مجرم کړو.
حضرت یشعیاه د ځان په باره کښی ولیکل او د
هغه رویا په باره کښی هم کومه چی هغۀ په آسمان

کښی لیدلی وه. هغهٔ په رویا کښی ولیدل چی مالک د کائنات په تخت په خپلو شاهی جامو کښی ناست دے. او د هغهٔ د پاسه شپږ وزرو والا آسمانی مخلوق وو. هغوی د هغهٔ د پاسه ګرځیدل او دا یی وئیل، "قدوس، قدوس، قدوس مالک دے."

د دی رویا په مدد حضرت یشعیاه پوهه شو چی خدائ پاک پخپله په تخت ناست وو! مونږ ته هم بیا دا یاد ساتل پکار دی چی دنیا اوس هم د خدائ پاک په قابو کښی ده. د دُنیا حاکمان راوچتیږی او ختمیږی خو خدائ پاک تل تر تله حکومت کوی.

د مقدس خدائ پاک په کتلو حضرت یشعیاه چغه کړه، "چی په ما افسوس دے! چی ما هیڅ نهٔ دی

پوره کړی! او زهٔ ګونګے یم!" دا هغه څهٔ
دی کوم چې به هر بېایمانه د خدائ پاک
د تخت په وړاندې د عدالت په وخت
کښې وائي.
حضرت یشعیاه هغوی ټولو ته تسلی او اُمید ورکړو
څوک چې د خدائ پاک فرمانبردار وو. هغهٔ وعده
وکړه چې خدائ پاک به یو خلاصوونکی پیدا کړی.
د هغهٔ نوم به عجیبه صلاح کار، قادر مطلق
خدائ، د ابدیت پلار او د سلامتۍ شهزاده وی.
حضرت یشعیاه دا هم ولیکل چې، "د خدائ پاک
فدیه شوی به ضرور په ثناء او د تل ترتله
خوشحالۍ سره راشی. او د هغهٔ په راتلو به ټول
غمونه ختم شی.
یشعیاه ۱، ٦، ۹

والدين:- ته چی په آسمان کښی په تخت
ناست يی زۀ خپلی سترګی ستا طرف ته
اوچتومه. (زبور ١٢٣ : ١)

ماشومان:- ١. آيا حضرت يشعياه يو ښۀ نبی وو؟
٢. حضرت يشعياه څوک په تخت ناست وليدو؟
٣. حضرت يشعياه ځان ښنګه محسوس کړو کله
چی هغۀ مقدس خدائ پاک وکتلو؟

## د خدائ پاک يرمياه ته بلنه

## د يهوديئ آخرى موقع

يو ځلى بيا اسرائيلو د بتانو عبادت شروع کړو. خدائ پاک هغوى ته ډير نبيان راواستول خو اسرائيلو هغوى رد کړل او توبه يى اونۀ ويستله. يرمياه د خدائ پاک نبى وو. ځکه چى هغۀ د يهوديانو د ټولو ګناهونو خلاف تبليغ کولو او په دى وجه هغه په جيل کښى هم واچولے شو. کله چى هغه په جيل کښى وو نو هغه د خدائ پاک کور ته نشو تللے. نو هغۀ خپل نائب باروک وليږلو. باروک هغه کلام وليکلو کوم چى يرمياه د خدائ پاک نه حاصل کړے وو. يرمياه دا اُميد لرلو چى د دى کلام په اوريدو به خلق خدائ پاک ته د رحم د

پاره وژاړی، او د خدائ پاک نه به د خپلو ګناهونو معافی وغواړی.

نو باروک د خدائ پاک کلام په طومار باندی ولیکلو. باروک هغه کلام په بیت المقدس کښی هغه خلقو ته ووئیلو څوک چی د خدائ پاک په کور کښی د روژی نیولو د پاره رایوځائے شوی وو. باروک هغوی ته د هغه خطرناک وخت په باره کښی ووئیل کله چی به خدائ پاک هغوی ته د هغوی د ګناهونو سزا ورکوی. په هغی کښی دا وو چی بیت المقدس به وران شی. ستاسو ښکلی هیکلونه او کورونه به وسوزولے شی. او د بیت المقدس خلق به پردی ملک ته د غلامانو په طور لاړ شی.

باروک د هغه فضل په باره کښې هم هغوی ته ووئيل، "که چرې تاسو د خپلو ګناهونو معافي وغواړئ او د خدائ پاک فرمانبرداری شروع کړئ، نو دا څيزونه به ونۀ شي."

د يهوداه شهزادګانو چې کله د خدائ پاک کلام واوريدو نو هغوی ويريدل. هغوی ووئيل، "چې بادشاه به ضرور دا کلام اوری." هغوی باروک ته ووئيل چې لاړ شه ځان او باروک ترهغه پورې پټ کړه تر څو چې مونږ بادشاه ته دا طومار ونۀ وايو. بيا هغه کلام بادشاه ته ووئيلے شو کله چې هغه د خپل اور په ځائے کښې ناست وو. هر کله به چې درې يا څلور صفحې ووئيلے شوې نو بادشاه به هغه په خپل وړوکی چاقو کټ کړو او اور ته به يې

واچولو. شهزاده هغۀ ته خواست وکړو چې
د خدائ پاک کلام مۀ سوزه وه، خو
بادشاه تر هغه پورې هغه وسوزولو تر څو
پورې چې هغه طومار بلکل ختم شوے نۀ وو.
بادشاه د هغه مصيبتونو نه نۀ ويريدو کوم چې په
هغوی راتلونکی وو. بلکه هغه يرمياه او باروک ته
ډير غصه وو. بادشاه خپل ملازمان وليږل چې
هغوی ونيسی خو خدائ پاک هغوی پټ کړل.
بيا خدائ پاک يرمياه ته حکم وکړو چې بل طومار
وليکه او په کښې د هغه لعنتونو نه د زيات لعنتونو
په باره کښې وليکه. يهويقيم بادشاه خو هغه
طومارونه وسوزول، خو هغه د خدائ پاک کلام نۀ
شی ختمولے. هم دا رنګ نن هم خلق کولے شی چې

کاغذ وسوزوی خو هغوی نشی کولے چی
کتاب ختم کړی.
یرمیاه ٣٦

والدین:- بیا به هغوی پوهه شی چی زهٔ خدائ پاک
یم او ما داسی نه وو ووئیلی چی زهٔ به
په دوی دا بلا راولم. (حزقی‌ایل ٦ : ١٠)

ماشومان :- ١. یرمیاه ته چا ووئیل چی څهٔ ولیکه؟
٢. بادشاه څنګه هغه طومار ختم کړو؟
٣. ولی بادشاه د یرمیاه نه نفرت کولو؟

# څلور ربنتینی هلکان

## دانیال، سدرک، میسک او عبدنجو

د یهودیانو د ګناهونو په وجه ډیر عبرانیان خلق د بابل په صوبه کښی قیدیان شول. په دی وخت کښی نبوکدنضر بادشاه یو لوی د سرو زرو بت جوړ کړو چی د انسان په صورت وو. بیاهغه شهزادګان، حاکمان او قاضیان ټول یو ځائے یو خاص مجلس ته راوغوښتل. اګر کۀ دانیال هلته لانۀ ړو، خو د هغۀ نور دری عبرانی دوستان سدرک، میسک او عبدنجو هلته وو. دا لویه ټولنه د هغه بت په وړاندی راغونډه شوی وه کوم چی هغوی جوړ کړی وو. بیا د بادشاه پیغام ورکونکی آواز وکړو، "چی کله تاسو ساز واورئ نو تاسو ټول ضرور په سجده شئ او د سرو زرو د بت عبادت

وکړئ. او څوک چې د عبادت کولو نه انکار وکړی نو هغوی به د اور په بهټئ کښې واچولے شی."

ساز وغږولے شو هر څوک په سجده شول خو دری په کښې په سجده نۀ شول. سدرک، میسک او عبدنجو ولاړ وو باوجود د دی چې د هغوی ژوند په خطره کښې وو. هلته څو حسد کونکی کسدیان وو او هغوی زر تر زره بادشاه ته اطلاع ورکړه.

نبوکدنضر هغوی ته ډیر غصه وو. بادشاه د هغوی نه پوښتنه وکړه، "چې آیا دا رښتیا دی، چې تاسو زما د سروزرو بت ته د سجدی کولو نه انکار کړے دے؟ بیا بادشاه هغوی ته ووئیل، "چې زۀ به تاسو ته یوه بله موقع درکړم چې د هغه بت سجده وکړئ خو کۀ بیا مو هم سجده ونه کړه، نو

تاسو به د اور په بهتئ کښی واچولے شئ."
بیا هغهٔ وخاندل او ویې وئیل، "چې کوم
خدائ پاک به تاسو بیا زما د لاس نه
خلاص کړی؟"

دی دریو عبرانی هلکانو خپلو کښی د اول نه مشوره کړی وه چې دوی به څهٔ کوی. "هغوی بادشاه ته جواب ورکړو،" "چې مونږ ستا بت ته عبادت نهٔ شو کولے." "او زمونږ خدائ پاک چې مونږ یې عبادت کوو هغه د دی قابل دے چې مونږ ته خلاصون راکړی، او هغه به مونږ ډیر زر بچ کړی کهٔ په ژوند وی او کهٔ په مرګ!"

د بادشاه مخ د غصی نه سور شو او حکم یې وکړو. "چې دا عبرانی هلکان وتړئ او په بهتئ کښی یې واچوئ. او دا د هغه اور نه اووهٔ چنده زیات کړئ

کوم چې مخکښې وو!" او د هغهٔ دا حکم ډېر زر ومنلے شو.

بیا کله چې بادشاه بهټۍ ته کتل، نو ناڅاپه هغهٔ چغه کړه، "چې په اور کښې ماته څلور سړی ښکاری چې ګرځی! دا څلورم داسې ښکاری لکه فرښته." بیا هغهٔ آواز وکړو، "چې سدرک، میسک او عبدنجو بهر راوزئ!"

په آرام سره هغه دری واړه ځوانان د بهټۍ نه بهر راوتل.

نبوکدنضر بادشاه او د هغهٔ خادمانو هغوی ته په حیرانتیا سره نیغ نیغ کتل. صرف رسۍ سوزیدلی وه نور یی نهٔ یو ویښتهٔ او نهٔ جامی‌سوزیدلی وی. او د هغوی نه د لوګی بوئی هم نهٔ تلو.

بیـا هغـه خاکسـاره بادشـاه د عبرانیـانو
خدائ پاک ته جلال ورکړو.
دانیال ۳

والدین:- د هغه چا نه مۀ ویریږئ څوک چې وجود
وژنی خو روح نۀ شی وژلے، بلکه د هغه
چا نه وویریږئ څوک چې د روح اؤ د
بدن دواړو په دوزخ کښے د بربادولو توان
لری. (متی ۱۰ : ۲۸)

ماشومان:- ۱. آیا تاسو نبو- کد- نضر ووئیلی
شئ؟
۲. څو کسان د اور بهتئ کښی واچولے شول؟
۳. بادشاه څو کسان د اور په بهتئ کښی ولیدل؟

# د بیلشضر بادشاه جشن

## په دیوال د لاس لیکل

د نبوکدنضر نه وروستو یو نوے بادشاه په بابل باندی حکومت کولو. یوه ورځ دی بادشاه خپل زرګونه شهزادګان او شریف خلق خپل جشن ته راوغوښتل چی هغوی خپل بتانو ته احترام ورکړی.

بیلشضر بادشاه او د هغهٔ میلمنو په جشن کښی شراب څښل او خوند او مزی یی اخیستی. چی ناڅاپه هغوی یو لاس وکتلو چی په دیوال یی لیکل کول. د ټولو سترګی په هغو ګوتو وی کومو چی داسی لیکل وکړل چی څوک هم پری نهٔ پوهیدل. بیا لاس او هغه لیکل دواړه په دیوال باندی هم داسی پاتی شول.

په دې کټلو ټوله خوشحالي بنده شوله. او په هغه ځائے کښې د مرګ په شان خاموشي شوه. او ټول حيران پاتې شول.

د بيلشضر مخ سپين شو او د هغۀ خپې د ويرې نه په رپيدو شوې. بيا هغۀ آواز وکړو، "چې ټول جادوګران او هوښيار سړي راولئ!" "څوک چې دا ليکل ووائي او ماته يې مطلب ووائي نو هغۀ ته به لوئ انعام ملاؤ شي!" بيا ټول هوښيار خلق بيلشضر ته راغلل. خو څوک هم په دې ليکلو نۀ پوهيدل، او نۀ يې مطلب نه خبر وو.

بيا ملکه د بادشاه مور بادشاه ته راغله. هغې بادشاه ته ووئيل، "چې مۀ ويريږه او مۀ پريشانه کيږه." "ځکه چې ستا په سلطنت کښې داسې يو سړے دے چې ستا نيکونو هغه د اسرائيل نه ځان

سره په قيديانو کښې راوستې دے. د هغهٔ
نوم دانيال دے. او د مقدس خدائ پاک
روح په هغهٔ کښې دے، او هغه تا ته د
دې ليکلو مطلب ووئيلے شي."

نو بيلشضر بادشاه دانيال پسې خلق وليږل. کله چې هغه راغلو، بادشاه ورته ووئيل، "چې ما اوريدلي دي چې تهٔ هر قسم پټې مسئلې حل کولے شې. کهٔ تهٔ ما ته د دې لفظونو مطلب ووائې کوم چې په ديوال ليکل شوے دے، نو زهٔ به تا ته ارغوانی رنګ شاهی جامې درکړم، او ستا په غاړه به د سروزرو اميل واچوم او تا به د خپل سلطنت دريم حاکم کړم."

"دانيال هغه ته جواب ورکړو، "چې خپلې تحفې دې ځان سره کړه، او يا يې بل چا له ورکړه." "زهٔ

اوس تا ته د دی لفظونو د مطلب په باره کښی وایم. چی خدائ پاک د هغه کبر نه نفرت کوی کوم چی ستا په زړهٔ کښی دی.

بله دا چی تاسو د سروزرو په هغه کنډلونو کښی شراب وڅښل کوم چی په اسرائیلو کښی د هغهٔ د هیکل نه راوړلے شوی وو. او تاسو د سِلورو، سروزرو، لرګو او د کاڼو د خدایانو حمدوثناء او عبادت کړے دے."

بادشاه دی ته په غور سره غوږ نیولی وو کله چی دانیال دا خبری کولی، او دانیال ووئیل، بیان وکړو "چی په دی وجه خدائ پاک دا کلام ولیکلو : *Mene, Mene Tekel, Uphar-sin.* د دی مطلب دا دے چی خدائ پاک ستا سلطنت ختم کړی. ځکه چی

تهٔ په آزمايش کښې پاتې شوې يې. ستا سلطنت به ماديانو او فارسيانو ته ورکړې شي."

د دانيال خبرې په هغه شپه رښتيا ثابتې شوې. ماديانو او فارسيانو بيلشضر مړ کړو او د هغهٔ سلطنت باندې يې قبضه وکړه.

دانيال ۵

والدين:- د انسان غرور به هغه لاندې کړي خو
چې د چا زړونه خاکساره دي هغوی به
عزت حاصل کړي. (متلونه ۲۹ : ۲۳)

ماشومان:- ۱. آيا بادشاه ويريدو کله چې هغهٔ هغه لاس په ليکلو وليدو؟

۲. هغوی په څهٔ قسمه لوخو کښې شراب څښل؟

۳. چا بادشاه ته د هغه ليکلو مطلب بيان کړو؟

# دانیال د ازمرو په غار کښې

## د خدائ پاک عظیم محبوب

بابل د فارسیی د سلطنت یوه حصه شوه.

په هغه وخت کښې دانی ایل بوډها وو هغه د اتیاکالو نه زیات د خدائ پاک خدمت وکړلو. هغۀ د خدائ پاک ډیر خاص برکتونه ترلاسه کړل.

د فارسیانو بادشاه دارا د دانیال ډیر احترام کولو او بادشاه هغه د ټولو شهزادګانو او حاکمانو مشر سردار جوړ کړو. په دی نور شهزادګان ډیر حسد واخستل. نو هغوی د دانیال په ژوند کښې کمزوری لټول شروع کړل خو هیڅ یی ونۀ موندل. هغه ایماندار او صادق وو. په آخره کښې هغوی فیصله وکړه، "چې زمونږ آخری موقع د هغۀ مذهب دے!"

هغوی بادشاه ته لاړل او ورته یې ووئیل،
"چې اے بادشاه مونږ ټولو حاکمانو دا
آئین منظور کړے دے چې تر دیرشو
ورځو به ستا نه بغیر څوک نهٔ د خدایانو او نهٔ د انسان نه څهٔ خواست کوی. او کهٔ څوک د دی آئین نافرمانی وکړی نو هغه به د ازمرو په غار کښې واچولے شی." دارا بادشاه په هغه آئین او لیکلو باندی دستخط وکړو.

دی نوی آئین هم د دانیال په عبادت څهٔ اثر ونهٔ غورزولو. هغه به په ورځ کښې دری ځله خپل خدائ پاک ته په سجده کیدو. هغه هم هغسی خدائ پاک ته دعا او شکرګزاری کوله څنګه چې هغهٔ مخکښې کوله.

حسد کونکو شهزادګانو د دانیال جاسوسی وکړه او هغوی بادشاه ته لاړل. هغوی هغهٔ ته ووئیل، "چې دانیال ستا د آئین فرمانبرداری نهٔ کوی. او هغه په ورځ کښې درې ځله د خپل خدائ پاک عبادت او دعا کوی."

بادشاه بیا په هغه آئین د دستخط کولو په وجه ډیر خفه وو ځکه چې هغهٔ دانیال سره مینه کوله. بادشاه ټوله ورځ په دې کوشش کښې تیره کړه چې داسې بهانه پیدا کړی چې دانیال بچ شی.

په هغه ماښام شهزادګان بیا بادشاه ته راغلل. او هغوی بادشاه ته یاد کړل چې، "په دې آئین تاسو دستخط کړے دے او دا نهٔ شی بدلیدے!" نو په آخره کښې بادشاه حکم وکړو چې دانیال دې د ازمرو په غار کښې واچولے شی.

په هغه ټوله شپه بادشاه خوب ونۀ کړو، ازمرو دانيال ته کتل او هغه يې بوئ هم کړو. خو يو ازمرې هم هغه ونۀ خوړلو. په بله ورځ سحر وختې دارا زر زر د ازمرو غار ته لاړو. هغۀ په غم کښې هغۀ ته آواز وکړو، "اے دانياله، آيا ستا خدائ پاک تۀ د ازمرو نه بچ کړے يې؟" بيا هغۀ يو آواز واوريدو. دا د دانيال آواز وو!

دانيال ووئيل، "چې زما خدائ پاک خپله فرښته راوليږله چې د دې ازمرو خولې بندې کړي او دوی ما ته هيڅ نقصان نۀ دې رسولے ځکه چې زۀ د هر قسم ګناه نه پاک يم."

بادشاه ډير خوشحاله شو چې د دانيال خدائ پاک هغه بچ کړو. او هغۀ حکم وکړو چې هغه شهزادګان

دی ازمرو ته واچولې شی چا چی په
دانیال باندی الزام لګولې وو. او وړو ازمرو
هغوی هر یو وخوړلو.
دانیال ٦

والدین:- ته مۀ ویرېږه ځکه چی زۀ تاسره یم. مۀ
ورخطا کیږه ځکه چی زۀ ستا خدائ پاک
یم زۀ به تا ته زور درکړم. زۀ به یقیناً
ستا مدد وکړم او زۀ به د خپل صداقت په
ښی لاس تاسو سمبالوم. (یشعیاه ۴۰ :
۱۰)

ماشومان:- ۱. په ورځ کښی څو ځله به دانیال
خدائ پاک ته دعا کوله؟

۲. دانیال ولی د ازمرو په غار کښی
واچولے شو؟
۳. آیا ازمرو دانیال زخمی کړے وو؟

# حضرت یونس او غټ کب

## د نینوه د پاره د توبې پیغام

نینوه یو لوئ ښار وو. په دې ښار کښې د لوئ لوئ دیوالونو سره سره غټ هیکلونه، ځلیدونکې محلونه، او ښکلي باغونه هم وو. خو د نینوه خلق ډیر خراب وو.

خدائ پاک حضرت یونس نبي سره خبرې وکړې. خدائ پاک هغهٔ ته ووئیل، "چې لاړ شه او د نینوه خلقو ته ووایه چې د خپلو خرابو کارونو نه توبه وکړئ." خو حضرت یونس ونهٔ منله. دا خلق د اسرائیلو دښمنان وو.

حضرت یونس د خدائ پاک د بلنې د رد کولو فیصله وکړه. او هغه یو کشتئ کښې سور شو چې د

خدائ پاک نه پټ شی. خو هغه د خدائ پاک نه هیڅ کله نۀ شو پټیدلی.

نو خدائ پاک په سمندر کښی یو خطرناک طوفان راوستو. دا د ماښ کیانو د پاره یو عام طوفان نۀ وو. هغوی زر زر خپل سامان سمندر ته وغورځولو او خپل خپل خدایانو ته یی د مدد د پاره دعا شروع کړه.

حضرت یونس څۀ کول؟ کیپټن هغه وکتلو چی د کشتئ په کوټه کښی اودۀ وو. "کیپټن هغۀ ته چغه کړه، "چی پاسه په تا څۀ چل شوے دے؟" "تۀ هم خپل خدائ پاک ته دعا وکړه! کیدے شی چی هغه ستا واوری او زمونږ ژوند بچ شی."

حضرت یونس کشتئ والا ته ووئیل چی هغۀ د خدائ پاک نافرمانی کړی ده. او د هغۀ د نافرمانئ

په وجه خدائ پاک دا طوفان راوستے دے.
هغۀ هغوی ته ووئیل، "چې ما د کشتئ نه
وغورزوئ نو طوفان په اودریږی!"

بیا کشتئ چلوونکو مالک خدائ پاک ته خواست او زاری وکړل چې هغه به هغوی د حضرت یونس په مړ کولو باندی نۀ رانیسی. بیا هغوی حضرت یونس سمندر ته وغورزولو. هم په هغه ساعت طوفان اودریدو! په دی کشتئ والا ډیر حیران شول! او هم هلته نه یی د ژوندی خدائ پاک د عبادت کولو فیصله وکړه.

حضرت یونس څۀ شو؟ هغه یو لوئ کب تیر کړلو هغه کب خدائ پاک رالیږلے وو. د کب دننه هغۀ په شوق سره دعا وکړه او د خدائ پاک د احکامو منلو وعده یی وکړه. دری ورځې وروستو خدائ پاک

هغه د کب د خېټې نه راويستلو او د سمندر په غاړه يې وغورزولو.

اوس حضرت يونس د نينوه ښار ته لاړو.

او په هغه لوئ ښار کښې يې ژړل او دا پيغام يې ورکولو، "د خپلو ګناهونو نه توبه وکړئ! ځکه چې نينوه ښار به په څلويښت ورځو کښې تباه شي!"

کله چې بادشاه دا واوريدل نو هغۀ خپل ځان د ټاټ په کپړه کښې پټ کړو او په ايرو کښې کيناستو. هغۀ ټولو خلقو ته ووئيل چې روژې ونيسئ او د خدائ پاک نه د رحم دعا وکړئ. کله چې خدائ پاک وکتل چې خلق بدل شول او خاکساره شول نو خپله فيصله يې بدله کړه او د نينوه ښار يې تباه نۀ کړو.

د حضرت یونس د فرمانبردارئ په وجه
زرګونو خلقو په نینوه ښار کښې د خدائ
پاک د لوئ مهربانئ زیری واوریدو.

حضرت یونس ١ — ٣

والدین:- زۀ ستا د روح نه چرته بچ لاړ شم او یا
ستا د حضور نه چرته وتښتم.

(زبور ١٣٩ : ٧)

ماشومان:- ١. آیا خدائ پاک ته پته وه چې
حضرت یونس چرته دی؟

٢. حضرت یونس چرته وو چې هغه خدائ پاک ته
په شوق سره دعا وکړه؟

٣. آیا خدائ پاک د نینوه خلقو سره مینه کوله؟

# نوی لوظ نامه

## حضرت زکریا او الیشبع

## د آسمان نه خبر

حضرت زکریا او الیشبع یو خاص وادۀ کړی جوړۓ وه چی په بیت المقدس کښی اوسیدل. دوی دواړو خدائۓ پاک سره مینه لرله او د هغۀ د حکمونو فرمانبرداری به یی کوله. د ډیر وخت نه دوی خدائۓ پاک نه د ماشوم د پاره سوال وکړو خو خدائۓ پاک د دوی دعا قبوله نۀ کړه.

حضرت زکریا په هیکل کښی کاهن وو. د هغۀ کار دا وو چی کله خلق بهر د برکت د پاره دعا کوی نو دے به په مقدس ځائے کښی خوشبوئی سوزوی.

یو فرښته حضرت جبرائیل هیکل ته راغله. کله چې حضرت زکریا هغه وکتله چې د قربانۍ د ځائے ښی طرف ته ولاړه ده نو هغه ویریدلو. "خو حضرت جبرائیل هغۀ ته ووئیل، "چې ویرېږه مه، "خدائ پاک ستا دعا واوریده. ستا ښځه به یو هلک ماشوم ولری، او تۀ به د هغۀ نوم یحییٰ کیږدی. تۀ به ډیر خوشحاله یې کله چې هغه پیدا شی، او نور خلق به هم تاسو سره خوشحاله وی."

حضرت جبرائیل هغۀ ته نور وفرمائیل، " چې یحییٰ به هیڅ قسم شراب نۀ څښی. هغه به د خدائ پاک په نظر کښې لوئ وی، او په هغۀ کښې به د حضرت ایلیاه په شان روح او قوت وی. یحییٰ به سخت زړونه د ماشومانو د زړونو په شان

نرم کړی. هغه به نافرمانه زړونه د رښتینئ او ایمانـدارئ پـه لار روان کـړی." "دا بـه ځنګه وی؟" حضرت زکریا د فرښتی نه په شک کښی پوښتنه وکړه. او "د دی به تهٔ ماتـه څـهٔ نښه راکړی چی زهٔ پوهـه شـم چـی دا رښـتیا دی؟ ځکه چی اوس زهٔ او زما ښځه د ماشوم راوړلو قابل نهٔ یو."

فرښتی جواب ورکړو، "زما نـوم حضـرت جبرائیـل دے. زهٔ د خدائ پاک وړاندی د هغـهٔ د حکمونـو د منلو د پاره ولاړه یم. او تا په مـا بانـدی بـاور ونـه کړو نو په دی وجـه بـه تـهٔ تـر هغـه وختـه پـوری خبری نهٔ شی کولے تـر څـو پـوری چـی دا ماشـوم پیدا نهٔ شی. په وخت راتللو سره به زما کلام یقیناً رښتیا شی."

په دی وخت کښی خلقو بهر په هيکل کښی د حضرت زکريا انتظار کولو. هغوی حيران وو چی هغهٔ ولی ډير وخت تير کړو. خو آخر چی هغه بهر راغلو نو هغهٔ خلقو ته برکت نهٔ شو ورکولې. هغهٔ خبری هم نهٔ شوی کولې. خو هغوی د هغهٔ په عملونو پوهه شول چی هغهٔ رويا کتلی ده.

کله چی ماشوم پيدا شو نو خلقو سوچ کولو چی هغهٔ ته به د پلار نه پس نوم ورکړی. خو حضرت زکريا خلق حيران کړل کله چی هغهٔ په تختهٔ وليکل، "چی د دهٔ نوم به يحيیٰ[۱] وی."

اوس حضرت زکريا بيا خبری شروع کړی. د روح القدوس نه د معمورتيا په وجه هغهٔ پيشن ګوئې او د خدائ پاک شکرګزاری شروع کړه.

لوقا ۱

والدین:- او ګورئ زۀ به خپل رسول
درولیږم او هغه به زما د پاره لاره تیاره
کړی. (ملاکی ۳ : ۱)

ماشومان:- ۱. حضرت زکریا څوک وو؟
۲. فرښتی حضرت زکریا ته څۀ ووئیل؟
۳. ولی حضرت زکریا خبری نۀ شوی کولے؟

# حضرت جبرائیل فرښته مریم ته ورغله

## یو خلاصوونکی به پیدا شی

د دی نه څۀ لویه ستومانی شته چې تۀ په توره شپه کښې خوب ونۀ کړې؟ کله چې تۀ ښۀ نۀ یې نو هغه شپه څومره په سختئ تیریږی. بیا په آخره کښې سحر شی او د نمر رڼا ته وګورئ. مرغۍ آوازونه شروع کړی او ټول څیزونه روښانه شی.

د عیسیٰ د راتلو نه مخکښې دا دنیا هم د توری شپې په شان وه. د اسرائیلو پیغمبرانو لیکلی دی چې خلق په تیارۀ کښې ګرزیدل. بیا یو عجیبه "نور راوختو" یعنی د خدائ پاک زوئ چې د تیاری او ګناهونو دُنیا به روښانه کړی.

تر ډېر وخته پورې خلق نهٔ وو خبر چې دا
خلاصوونکی به کله او چرته پیدا کیږی.
بی‌بی حوا چې اوله مور وه د هغې دا اُمید
وو چې د هغې زوئ به هغه غوره کړے شوے وی.
حضرت موسیٰ دا واضحه کړه چې خدائ پاک به
خلقو ته زما په شان پیغمبر راپیدا کړی. ډېره موده
پس حضرت یشعیاه نبی پیشن ګوئی وکړه چې یوه
پیغله به یو زوئ راوړی. بیا د دې نه وروستو
حضرت میکاه نبی هم په هغه کلی کښې ظاهر شو
کوم ځائے کښې چې به هغه ماشوم پیدا کیږی.
اوسه پورې هیڅ نهٔ وو شوی. کالونه تیر شول او
کومې پیشن ګوئي چې شوی وی هغه د خلقو نه
په مزه مزه هیرې شوې. او د آسمان نه هم تر څلور
سوو کالو پورې هیڅ رویا یا پیغام رانازل نهٔ شو.

خو خدائ پاک ته د هغو پیشن گویانو د پوره کولو صحیح وخت معلوم وو. نو هغهٔ حضرت جبرائیل آمین نومی فرښته زمکی ته یو پیغام سره بی‌بی مریم نومی پیغلی ته ورولیږله.

حضرت جبرائیل ته د هغه ښار، د هغه کور او د هغه کوټې هم پته وه چرته چی بی‌بی مریم اوسیده. فرښته دننه لاړه او هغی ته یی ووئیل، "په تا سلام چی درباندی ډیر فضل شوی دی. رب ستا مل دی."

بی‌بی مریم د هغه فریښتی په خبرو ډیره وارخطا شوه. خو حضرت جبرائیل هغی ته ووئیل، "بی‌بی مریمی مهٔ ویریږه. تهٔ به اُمیدواره شی او یو زوئ به دی وشی. هغه به لوئ وی او هغه به د ال اعلی

زوئ وبللے شی. هغه به ډېر خاص وی.هغه هغه مسیح دے چی خلق یی د ډېر وخت نه انتظار کوی، او د هغهٔ بادشاهی به تل ترتله وی."

"بی‌بی مریمی ووئیل چی" دا څنګه کیدے شی؟ "زهٔ خو لا وادهٔ شوی هم نهٔ یم." فرښتی جواب ورکړو، "روح القدس به په تا نازل شی اؤ د اعلیٰ قدرت به په تا سورے وکړی اؤ په دی وجه به هغه پاک پیدا کیدونکے ماشوم د خدائ پاک زوئ بللے شی. هیڅ هم د خدائ پاک د پاره مشکل نهٔ دی."

"بی‌بی مریمی په خاموشئ سره ووئیل، "چی په حقیقت کښی خو زهٔ په هیڅ نهٔ پوهیږم" "خو زهٔ د

رب وینځه یم. نو دی د پاره زهٔ تیاره یم
چې هغه هر څهٔ وکړم څهٔ چې خدائ پاک
کول غواړی."

لوقا ۱ : ۲٦ — ۳۸

والدین:- ګورئ یوه پیغله به اُمیدواره شی او زوئ
به یی پیدا شی او هغه به د هغهٔ نوم
عمانوایل کیږدی. (یشعیاه ۷ : ۱۴)

ماشومان:- ۱. چا فرښته بی‌بی مریم ته ورولیږله؟
۲. آیا بی‌بی مریم ویریدله کله چې هغی فرښته
ولیده؟
۳. فرښتی بی‌بی مریم ته څهٔ ووئیل؟

## عیسیٰ مسیح په بیت الحم کښې پیدا شو

### په سرائے کښې کمره نۀ وه

د وخت د تولو نه لويه او عظيمه واقعه تقريباً کيدونکې وه! او خدائ پاک دې د پاره دوه خاص ماشومان د پيدا کولو د پاره غوره کړل. د هغوی نومونه هم په آسمان کښې غوره کړے شوی وو. اول به يحيىٰ د حضرت زکريا او اليشبع کره پيدا شي. او هغۀ ته به د ال اعلٰى نبی ووئيلے کيږی. بيا به د پيغلې بی‌بی مريم نه عيسیٰ پيدا شي او هغه به د ال اعلٰى زوئ بللے کيږی.

د عيسیٰ د پيدا کيدو نه مخکښې بی‌بی مريم خپلې نزدې خپلوانې اليشبع کره د هغې سره د ملاويدو د پاره لاړه. بيا يحيیٰ پيدا شو او بی‌بی مريم

ناصرت ته خپل کور تـه زر راواپـس شـوه. یوسف هم د وادۀ کولو د موقعی په انتظـار کښی وو. خو کله چی بی‌بی مریم هغۀ تـه ووئیل چی هغه بـه یـو ماشـوم ولـری، نـو پـه دی یوسف ډیر خفه شو. هغـۀ سـوچ کولـو چـی بی‌بـی مریم هغۀ سره وفاداره نۀ ده.

نو بیا بی‌بی مریم هغۀ ته د هغـه فرښـتی پـه بـاره کښی ووئیل. هغه اوس هـم پـه دی شـک کښـی وو. چی آیا هغی په رښتیا سره فرښته لیدلی ده؟ آیا دا ماشوم به د خدائ پاک زوئ وی؟ آیـا بی‌بـی مـریم رښتیا ووئیل؟

بیا یوسف فیصـله وکـړه چـی د وادۀ نـه مخکښـی چی څنګه هم ممکن وی چی په خاموشـئ سـره دا

کوژدن ماته کړی. ځکه چې هغهٔ نهٔ غوښتل چې بی‌بی مریم په خپله معاشره کښې وشرمیږی.

خو خدائ پاک ته د هغهٔ د سوچ پته وه. نو هم هغه شپه خدائ پاک خپله فرښته حضرت جبرائیل آمین هغه ته په خوب کښې ورولیږله. "فرښتې هغهٔ ته ووئیل، "چې مهٔ خفه کیږه، "ځکه چې د بی‌بی مریم اُمیدواری د خدائ پاک د روح القدس په قدرت ده. تهٔ به د هغه ماشوم نوم عیسیٰ کیږدی، ځکه چې هغه به خپل خلق د هغوی د ګناهونو نه خلاصوی." کله چې یوسف دا پیغام واوریدو نو هغهٔ ته ډیره تسلی ملاو شوه. او هغه په خوشحالئ سره بی‌بی مریم خپل کور ته د خپلې ښځې کولو په نیت راوستله.

بیا په هغه ورځو کښې د روم د سلطنت دا خبر راغلو چې ټول خلق به محصول ورکړي. هر سړے به ضرور خپل ځان د خپل پلار په کلي کښې رجسټري کړي. د یوسف د پاره د دې مطلب بیت الحم ته تلل وو. نو هغۀ بي‌بي مریم د ځان سره کړه او د څلور ورځو په سټرې سفر بیت الحم ته روان شول. بي‌بي مریم ته د نرم کټ ضرورت وو. خو افسوس چې سرائے د مخکښې نه ډکه وه. نو په دې وجه هغوی په غوژل کښې ایسار شول.

په هغه شپه د بي‌بي مریم ماشوم وشو. یوسف او بي‌بي مریم د دې ماشوم په پیدا کیدو یو بل ته په خوشحالئ وکتل. دا هغه وعده شوے مسیح دے یوسف ووئیل، "مونږ ته پکار دي چې د هغۀ نوم

عیسیٰ کیږدو ځنګه چې فرښتې ماته ووئیلي وو. دا هغه ځوک دے چې خدائ پاک زمونږ د خلاصون د پاره رالیږلے دے."

بي‌بي مریم ماشوم عیسیٰ په اوږنی کښې ونغښتو او یوسف هغه په اخور کښې واچولو.

متی ۱ : ۱۸ — ۲۵؛

لوقا ۲ : ۱ — ۷

والدین:- دی د پاره مونږ ته یو هلک پیدا کړې شو او مونږ ته یو زوئ راوبښل شو.

(یشعیاه ۹ : ٦)

ماشومان:- ۱. چا یوسف ته ووئیل چې د ماشوم نوم عیسیٰ کیږدئ؟

۲. په کوم ښار کښې عیسیٰ پیدا شو؟

۳. هغوی عیسیٰ په څهٔ کښې واچولو؟

# شپونکي او هوښيار علم

## لرونکي سړي

## خدائ پاک هغوی ته د فرښتو او

## ستوری په وسیله ووئیل

د عیسیٰ د پیدا کیدو نه یو څو کینتهی وروستو بیت‌الحم ډیر خاموش وو. ډیر لری یو سپی غپل. د دی اودهٔ ښار د خلقو په فکر کښی دا نهٔ وو چی نن شپه دومره لویه او عظیمه واقعه شوی ده.

خو د ښار نه بهر په غرونو کښی څو شپونکی د خپلی رمو د حفاظت د پاره ناست وو. چی ناڅاپی د رب فرښته د هغوی په وړاندی ودریده او د رب نور د هغوی نه چارچاپیره خور شو او هغوی ویری واخستل. خو فرښتی هغوی ته ووئیل، "چی ویریږئ مه! ما تاسو ته یو د خوشحالئ زیرے

راوړے دے. "خلاصونکے مسیح په بیت الحم کښی په غوژل کښی پیدا شو. او تاسو به هغه په اوړنی کښی انغښتے په اخور کښی پروت ومومئ."

بیا ناڅاپه د هغی فرښتی سره د نورو آسمانی فرښتو ډله راڅرګنده شوه اود رب دا ثنا یی ووئیله چی، "د خدائ پاک حمد د وی پاس په آسمان کښی، او په مزکه دې د هغه خلقو د پاره سلامتی وی په چا چی هغه مهربان دے." د دی نه پس هغه فرښتی ناڅاپه هلته نه داسی غائبی شوی لکه چی څنګه راښکاره شوی وی.

شپونکی په تادئ سره د غرونو نه بیت الحم ته لاړل. هلته هغوی عیسیٰ هم په هغه حالت کښی ولیدو څنګه چی هغوی ته فرښتی ووئیلی وو.

هغوی یوسف او بی‌بی مریم ته د هغه ټولو فرښتو په باره کښې ووئیل.

بیا شپونکی د هغه ځائے نه خپلو رمو ته واپس لاړل. هغوی هغه عجیبه خبر هغه ټولو خلقو ته ووئیلو څوک چې هغوی سره ملاویدل. او هغوی د خدائ پاک ثنا ووئیله.

په زرګونو میلونو لرې یو څو هوښیارو او علم لرونکو سړو یو شپه یو پړقیدونکے ستورے وکتلو. هغوی فیصله وکړه چې دا د خدائ پاک نه یوه نښه ده، چې مطلب یې دے نوی بادشاه پیدا شو. هغوی زر خپل اوښان تیار کړل او د اسرائیلو د ملک طرف ته په سفر روان شول.

په بیت‌المقدس کښې هغوی تپوس وکړو چې، "د یهودیانو نوے پیدا شوے بادشاه چرته دے؟" هغوی دا ووئیل چې هغه بادشاه به په بیت‌الحم

کښې پیدا شوے وے. په هغه شپه پړقیدکونکے ستورے د بیت الحم طرف ته وو. د دی ستوری په مدد هغه سړی بلکل صحیح هغه ځائے ته لاړل چرته چې عیسیٰ پیدا شوے وو.

د عیسیٰ په کتلو هغه هوښیار او علم لرونکی سړی ډیر خوشحاله شول او هغوی هغه ماشوم بادشاه ته په سجده شول. او بیا هغوی خپلی همیانی وسپړدلی او هغهٔ ته یی تحفی ورکړی چې په کښی سرهٔ زر، لوبان او مر وو. د خپل وفادار خادمانو یعنی یوسف او بی‌بی مریم د پاره دا د خدائ پاک د ورکړی طریقه وه.

لوقا ۲ : ۸ — ۲۰؛ متی ۲ : ۱ — ۱۲

والدین:- خدای د دِ دنیا سره داسی مینه
وکړه چی خپل یکی یو زوئ یی هم ورکړو
چی هر هغه څوک چی په زوی یی ایمان
راؤړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عمری
ژوندون بیا مومی. (یوحنا ۳ : ۱٦)

ماشومان:- ۱. شپونکو په شپه کښی بهر څۀ کول؟
۲. شپونکو ته چا ووئیل چی عیسیٰ پیدا شوے
دے؟
۳. د ماشوم عیسیٰ په کتلو کښی د هغو هوښیارو
سړو رهنمائ څۀ شی وکړه؟

# وړوکے عیسیٰ د خُدائ په کور کښې

## د استاذانو په مینځ کښې

عیسیٰ په ناصرت کښې د دیرش کالو عمر پورې اوسیدلو. مقدس کتاب مونږ ته د هغۀ د وړوکوالئ په باره کښې ډیر لږ وائی. تاسو دا خیال کوئ چې آیا هغه د خپل مور او پلار تابعدار وو؟ او یاهغۀ به چې کله سخت کار کولو نو څۀ شکایت به یې کولو؟

د عیسیٰ د مور بی‌بی مریم کله هم هغه خبرې هیرې نۀ شوې کومې چې ورته حضرت جبرائیل آمین کړې وې. هغه پوهیده چې د خدائ پاک کلام به عیسیٰ مضبوط او هوښیار کړی. نو په دې وجه هغې عیسیٰ ته د خدائ پاک د خلقو قیصې کولې.

عیسیٰ د خپلې مور نه د حضرت آدم او بی‌بی حوا، د حضرت نوح د کشتئ، او د حضرت ابراهیم، حضرت اسحاق او د حضرت یعقوب د ایماندارئ په باره کښې زده کړه وکړه. هغهٔ ته د حضرت موسیٰ په باره کښې او د هغه لس حکمونو په باره کښې سبق وښودلے شو کوم چې هغهٔ ته خدائ پاک ورکړے وو. هغهٔ د داسې مشهورو خلقو قیصئ هم واوریدلې لکه جدعون، یوشع، داؤد، دانیل او ایلیاه چې وو. د عیسیٰ دا قیصې داسې خوښیدلې لکه څنګه چې د اوس وخت د ماشومانو خوښیږي.

یوه ورځ بی‌بی مریم، یوسف او عیسیٰ یروشلم ته د فسح د اختر میلې ته لاړل. عیسیٰ د دولسو کالو

وو. په دی عمر کښی به یهودی هلکان ماشومان نه بلکه ځوانان تصور کیدل.

کله چی هغوی د هیکل دروازی ته راورسیدل نو عیسیٰ ډیر حیران شو. هغهٔ وکتل چی سوداګران ګډوری او کونتری د قربانئ د پاره په ډیر اوچتو قیمتونو خرڅوی. صرافانو خپلو کښی بحثونه کول. مالدارو خلقو به پیسی د هدیی په بکس کښی په داسی انداز اچولی چی خلق یی وګوری. غریبانانو خلقو به د خدمت کولو د پاره انتظار کولو صرف په دی وجه چی هغوی غریبانان وو. د هغوی دا عبادت داسی ښکاریدو لکه چی یو عام عادت وی. هغه خلقو د خپلو ګناهونو د پاره معافی هم نهٔ غوښتله.

خو کله چی عیسیٰ څۀ عالمان په هیکل کښې ولیدل نو د هغۀ زړۀ د خوشحالئ نه ډک شو. اوس هغۀ د هغه عالمانو سره د مقدس کلام په باره کښې بحث کولے شو.

د فسح د اختر د ختمیدو نه اووۀ ورځې وروستو. بی‌بی مریم او یوسف بیا د خپل کور طرف ته روان شول. په اول کښې هغوی سوچ وکړو چی عیسیٰ به په کاروان کښې وی. خو چی هغوی عیسیٰ ولټولو او پیدا یی نۀ کړو نو واپس بیت المقدس ته راغلل. په دریمه ورځ یی هغه د خدائ پاک په کور کښې ناست وموندلو چی استاذان تری راتاؤ وو او د هغوئ خبری یی آؤریدی اؤ تپوسونه یی تری کول. بی‌بی مریم د عیسیٰ نه تپوس وکړو، "تا ولی مونږ ته دومره تکلیف راکړو؟"

عیسیٰ ورته جواب ورکړو، "چې تاسو ته پته نۀ ده چې ماته د خپل پلار په کور کښې پاتې کیدل پکار دی؟" او دا د عیسیٰ اولنی الفاظ وو چې په مقدس کتاب کښې لیکلے شوی دی.

والدین:- د حکمت او معرفت ټولې خزانې په هغه کښې جمع دی. (کولوسیان ۲ : ۳)

ماشومان:- ۱. عیسیٰ او د هغۀ مور پلار یروشلم ته د څۀ د پاره تلل؟

۲. سوداګرانو په هیکل کښې څۀ خرڅول؟

۳. عیسیٰ چرته وو کله چې د هغه مور پلار هغه پیدا کړو؟

# د آسمان نه آواز

## د عیسیٰ بپتسمه او په بیابان کښې آزمېښت

اوس هغه وخت راغلو چې عیسیٰ خپل د ترکانۍ دوکان بند کړو. هغهٔ خپل اوزار داسې کیښودل چې بیا به یې کله هم استعمال نهٔ کړي.

عیسیٰ واورېدل چې د اُردن په دریاب کښې یحییٰ نومې نبي بپتسمه ورکوي. هغه پوهه وو چې زر به د هغهٔ تبلیغ، تعلیم ورکول او د شفا ورکولو خدمت شروع شي. د حضرت جبرائیل آمین د کلام د رښتیا کیدو وخت راغلو.

عیسیٰ اُردن ته روان شو چې خپل رشته دار سره ملاؤ شي چې نوم یې یحییٰ بپتسمه ورکونکے دے.

عیسیٰ هلته په هغه ولاړو خلقو کښې مذهبي

مشران، محصولچیان، او فوجیان هم ولاړ ولیدل. یحییٰ هلته دا وعظ ورکولو، "چې توبه ګار شئ. لالچیان او خودغرضه کیږئ مه. کۀ چرې تاسو د خپل ضرورت نه زیاتې جامې او خوراک لرئ نو په خپلو کښې یې هغوی ته ورکړئ د چا چې ضرورت وی. خپل کارونه بغیر د پس پس کولو نه په ښۀ طریقې سره کوئ. او دا هغه څۀ دی چې خدائ پاک یې تاسو نه غواړی.

کله چې عیسیٰ نزدې ورغلو نو یحییٰ ووئیل، "ګورئ! دلته دی د خدائ پاک هغه ګډوری چې د دنیا ټول ګناهونه به په ځان واخلی." بیا هغه عیسیٰ ته بپتسمه ورکړه. ناڅاپه آسمان کولاؤ شو او روح القدس لاندې په عیسیٰ باندې د کونترې په شکل کښې راکوز شو. او د آسمان نه د خدائ پاک

آواز راغلو، او دا یی ووئیل، "چې دا زما محبوب زوی دے، د چا نه چې زۀ خوشحاله او راضی یم."

د بپتسمی نه وروستو سمدستی عیسیٰ بیابان ته لاړو او د ځنګلی ځناورو سره وو او روژی یی نیولی او دعا یی کوله. فرښتی هم د هغۀ د خدمت د پاره حاضری وی.

تر څلویښتو ورځو پوری چې کله عیسیٰ روژی ونیولی او څۀ یی ونۀ خوړل نو شیطان راغلو چې هغه وآزمائی. شیطان غوښتل چې عیسیٰ د هغۀ خدمت وکړی. "نو هغۀ عیسیٰ ته ووئیل کۀ تۀ د خدائ پاک زوی یی نو د دی کاڼو نه ډوډئ جوړه کړه!"

د دی نه پس شیطان هغه د هیکل د ټولی نه اوچتی برخی ته بوتلو او ورته یی ووئیل، "چی دلته نه ټوپ کړه! ځکه چی خدائ پاک دا وعده کړی ده چی هغه به خپله فرښته ستا د نیولو د پاره راولیږی."

بیا شیطان عیسیٰ یو اوچت غرۀ ته بوتلو چی هغۀ ته د دنیا او د زمکی ټول سلطنتونه وښائی. هغۀ عیسیٰ ته ووئیل، "کۀ تۀ زما عبادت وکړی نو زۀ به تا ته دا هر څۀ درکړم."

خو د شیطان یو کار هم عیسیٰ د خدائ پاک د کارونو نه منع نۀ کړے شو. دری ځله عیسیٰ شیطان ته د خدائ پاک د کلام حوالی ورکړی او هغۀ ته یی شکست ورکړو.

متی ۳ : ۱۳ — ۱۷، ۴ : ۱ — ۱۱؛

مرقوس ۱ : ۱ — ۱۳؛ لوقا ۳ : ۱۵ — ۲۳؛
یوحنا ۱ : ۲۵ — ۳۴

والدین:- بلکه هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په
شان وآزمائیلے شو خو بیا هم بی ګناه پاتی
شو. (عبرانیان ۴ : ۱۵)

ماشومان:- ۱. چا ووئیل، "چی دا زما محبوب
زوی دی؟"
۲. په بیابان کښې چا عیسیٰ ووآزمائیلو؟
۳. عیسیٰ شیطان ته څنګه شکست ورکړو؟

# عیسیٰ خپل خدمت شروع کړو

## د اوبو نه شراب جوړول

عیسیٰ ته پته وه چې دا هغه وخت دے چې خپل عجیبه خدمت شروع کړي. د هغهٔ کار دا وو چې خلق پوهه شي چې د خدائ پاک بادشاهي زمکې ته راغله. اګرکهٔ هغهٔ خپل ځان د پاره د بادشاه دعوه نهٔ کوله، خو هغهٔ د خدائ پاک لويه مینه او قدرت خلقو ته په ډیرو طریقو سره وښودلو.

عیسیٰ ته په دې لوئ کار کښې د مدد کولو د پاره د سړو ضرورت وو. نو په دې وجه هغهٔ دولس کسان غوره کړل چې زیات په کښې ماهي ګیر وو. عیسیٰ هغوی خپل مریدان وبلل.

عیسیٰ هیڅ کله د چا نه څهٔ خواست نهٔ وو کړے خو په سادګئ یې خپلو مریدانو ته د ځان سره د

کولو دعوت ورکړے وو. هغۀ هغوی ته
ووئیل چې "زما تابعداری وکړئ، او زۀ به
تاسو نه د انسانانو رانیونکی جوړ کړم."

د هغۀ یو مرید محصولچی وو چې نوم یې متی وو. دی سړی په خوشحالئ خپل کار پریښودلو او د عیسیٰ تابعداری یې شروع کړه. هغۀ غوښتل چې د هغۀ ټول دوستان دې عجیبه انسان سره ملاو شی. نو هغۀ د روټئ د پاره ډیر میلمانۀ راوغوښتل.

په داسې کولو یهودی مذهبی مشران ډیر خفه شول. هغوی داسې ووئیل، "چې دا ټول میلمانۀ خراب خلق دی. کۀ عیسیٰ ښۀ سړے دے، او هغه ستاسو استاذ دے نو بیا ولې هغه دوی سره روټئ خوری؟"

عیسیٰ جواب ورکړو، "آیا تاسو ډاکټر ته څئ کله چې تاسو روغ جوړ یئ؟ نه صرف هغه خلق ډاکټر

ته ځی څوک چی بیمار وی. نو څکه زۀ
هم د خدائ پاک له طرفه راغلے یم چی
هغه خلقو له شفا ورکړم او معاف یی کړم
کوم چی د ګناه په وجه بیماران شوی دی."

یوه ورځ عیسیٰ او د هغۀ مریدان یو وادۀ ته رابللے شوی وو. په هغه وادۀ کښی د عیسیٰ مور هم د هغه خلقو په خوراک ایښودلو کښی د هغوی مدد کولو چی یو مسئله پیدا شوه. مسئله دا وه چی هغوی سره د میلمانو د پاره مئ ختم شول. بی‌بی مریم عیسیٰ ته خواست وکړو چی د هغوی د مدد د پاره څۀ وکړه. هغی خپل ځان سره د وادۀ د زلمی او د هغۀ د کورنئ نه معافی غوښتل محسوس کړل.

عیسیٰ هغوی ته حکم وکړو، "چی هغه شپږ واړه چاټئ د اوبو نه ډکی کړئ." خادمان حیران شول،

"چی دۀ ته پته نۀ ده چی مونږ ته د مئیو ضرورت دے د اوبو نه؟" خو بی‌بی مریم هغوی ته ووئیل چی هغسی وکړئ څنګه چی عیسیٰ تاسو ته وائی. نو خادمانو د سل ګیلنو نه زیاتی اوبۀ راوړی.

کله چی عیسیٰ هغوی ته ووئیل چی د چاټو نه راوباسئ نو چی هغوئ کله داسی کول نو هغوی څۀ عجیبه څیز ولیدو. هغوی چغی کړی، "چی دا وګورئ." "په دی چاټو کښی خو اوبۀ نۀ دی بلکه مئ دی!"

زر خلقو د هغه مزیدارو مئیو نه مزه واخسته. هغوی ووئیل، "چی دا مئ د هغه نورو مئیو نه هم ښۀ دی."

دا د عیسیٰ اوله معجزه وه. د دی په وجه د هغۀ د مریدانو باور په هغۀ ډیر زیات پوخ شو.

یوحنا ۱ : ۳۵ — ۵۱؛ ۲ : ۱ — ۱۰

والدین:- نو کلام جسه شو او هغه زمونږ
سره اوسیدو او مونږ د هغهٔ لوئی ولیده،
داسی لوئی لکه چی د پلار د یو زوئ
چی په فضل او حقیقت معمور وی.
(یوحنا ۱ : ۱۴)

ماشومان:- ۱. د اوبو څومره چاټئ هلته وی؟
۲. عیسیٰ هغوی ته څهٔ ووئیل چی چاټو سره څهٔ وکړئ؟
۳. چا په عیسیٰ ایمان لرلو؟

# عیسیٰ او سامری ښځه

## په سامریه کښی بحالی

د غرمی نمر د عیسیٰ په سر ولاړ وو چی هغه د آرام د پاره د سوخار ښار ته نزدی د حضرت یعقوب کوهی سره کیناستو. عیسیٰ هغه کوهی سره د خپلو شاګردانو انتظار کولو ځکه چی هغوی بازار ته تللی وو چی ځان د پاره د خوراک څۀ واخلی.

په دی کښی هلته یوه ښځه راغله چی د کوهی نه اوبۀ یوسی. کله چی عیسیٰ د هغی نه اوبۀ وغوښتی نو هغه حیرانه شوه. هغی ته پته وه چی عیسیٰ یهودی دے. یهودی سړے نۀ شی کولے چی سامریانو سره خبری وکړی او خاص د ښځو سره خو بلکل نۀ شی کولے! نو هغی د عیسیٰ نه

تپوس وکړوچی، "آیا تهٔ زما نه چی سامرئ یم اوبهٔ غواړی؟"

عیسیٰ جواب ورکړو چی، "کهٔ تهٔ په دی خبر وے چی د خدائ پاک بخښنه څهٔ ده او تا نه چی څوک اوبهٔ غواړی، دا څوک دے، نو تا به د هغهٔ نه خواست کړے وو او هغهٔ به تا ته د ژوندون اوبهٔ درکړی وے." عیسیٰ هغی ته ووئیل، "هر هغه څوک چی دا اوبهٔ وڅښی هغه به بیا هم تږے شی. خو کومی اوبهٔ چی زهٔ ورکوم د هغی د څښلو نه پس به څښونکی هیڅکله هم بیا نهٔ تږی کیږی. زهٔ چی کومی اوبهٔ ورکوم هغه به په هغهٔ کښی دننه یو چینه شی چی همیشه به بهیږی او د تل ژوندون به ورله ورکوی."

ښځې ووئيل، "مالکه! هغه اوبۀ ما له راکړه نو زۀ به هم بيا نۀ تږى کيږم او بيا به هره ورځ په دى لاره د اوبو وړلو د پاره نۀ راځم."

بيا عيسىٰ د هغې ضمير راويښول شروع کړل. عيسىٰ هغې ته ووئيل، "چې کور ته لاړه شه او خپل خاوند راوله." "خو ښځې جواب ورکړو چې، "زه وادۀ شوى نۀ يم."

عيسىٰ هغې ته په نرمۍ سره جواب ورکړو، او ورته يې ووئيل ما ته ستا د ګناه ګار او خفه ژوند پته ده. "او دا هم پته ده چې تا پينځه مړونه کړى دى او اوس چې تۀ د کوم سړى سره اوسيږې هغه هم ستا خاوند نۀ دے!"

هغه ښځه حیرانه شوه. هغې عیسیٰ ته ووئیل، "مالکه! ما ته داسې ښکاري چې ته نبي یې. زما ډیر سوالونه دي. خو زهٔ پوهیږم چې مسح کړے شوے، یعنې مسیح راتلونکے دے. هر کله چې هغه راشي نو هغه به مونږ ته هر څهٔ وښائي." عیسیٰ هغې ته ووئیل، "زهٔ هغه مسح کړے شوے مسیح یم."

هغه ښځې خپل منګے هلته پریښودو او زر د هغه ځائے نه ښار ته لاړه او هلته یې خلقو ته ووئیل چې، "راشئ او دا عجیبه سړے وګورئ، "کیدے شي چې دا مسیح وي!"

هغوی زر د ښار نه هغه ښځې سره د حضرت یعقوب کوهي ته لاړل. "هغوی بیا عیسیٰ ته خواست وکړو، چې مونږ سره د څو ورځو د پاره

ایسار شه." "او مونږ ته د هغه زیری په
باره کښې ډیر ځـهٔ ووایـه کـوم چـې تـا د
ځان سره راوړے دے."
نو بیا عیسیٰ په سوخار کښې دوه ورځې نور هم
ایسار شو او ډیرو خلقو په هغهٔ ایمان راوړو.

یوحنا ۴

والدین:- او څوک چې په ما ایمان راؤړی، لکه
چې صحیفی وائی : "د ژوندون د اوبو
سیندونه به د هغهٔ نه بهیږی."
(یوحنا ۷ : ۳۸)

ماشومان:- ۱. کوم کوهی سره چې عیسیٰ ناست وو
د هغه کوهی څهٔ نوم وو؟
۲. هغه ښځې د عیسیٰ نه څهٔ وغوښتل؟
۳. آیا د سوخار خلقو په عیسیٰ باندی ایمان راوړو؟

## عیسیٰ جنازه ایساره کړه
## د یو کونډې زوی بیا ژوندے شو

په یهودیه کښې دا څومره ګرمه او خُشکه ورځ وه! چې عیسیٰ او د هغۀ مریدانو تقریباً د شلو میلو نه هم زیات سفر کړے وو. د هغۀ ستړی مریدان په دې فکر کښې وو چې نور به څومره سفر په دې خرابه لار کوو.

مریدان په دې نۀ وو خبر چې هغوی به د تاریخ د ټولو نه لویه واقعه وګوری. خو عیسیٰ ته پته وه. ځکه چې هغۀ ته پته وه چې نائن ښار ته د هغوی ضرورت دے.

کله چې عیسیٰ د خپلو مریدانو سره هلته ورسیدو نو د هغه ځائے ډیر خلق هغوی سره یو ځائے شول. ښځو د کور کارونه او سړو خپل د کار اوزار

پریښودل او هغوی پسې روان شول. څه خلقو خپل بیماران دوستان د شفاموندلو د پاره راوستل. ماشومان هم د عیسیٰ د کتلو د پاره په دی خلقو کښې بهر او دننه کیدل. د عیسیٰ د همدردئ، مهربانئ او مینی په وجه ټول خلق هغهٔ له راتلل.

آخر عیسیٰ او د هغهٔ مریدان نائن نومی ښار ته ورسیدل. کله چې هغوی د ښار دروازی ته ورسیدل نو یوه جنازه یې ولیدله. جنازه څلور کسانو اوړه چې ورپسې یوه ژړیدونکی ښځه وه او په هغې پسې نور ماتم کونکی خلق وو.

اوس به څهٔ کیږی؟ ځکه چې د خوشحاله خلقو ډله د خفه خلقو ډلی سره ملاویږی.

کله چې عیسیٰ هغه ښځه وکتله نو زړهٔ یې پرې وسوزیدو. هغه کونډه وه او صرف یو زوی یې وو چې مړ شوے وو. نو عیسیٰ هغې ته په نرمۍ سره ووئیل چې، "نوره مهٔ ژاړه." نو بیا عیسیٰ وړاندې ورغلو او په جنازه یې لاس کېښودلو او د جنازې اوړونکې اودریدل او هغهٔ ته یې په غور غور کتل. چې دا څوک دے او دے څهٔ کول غواړې؟

عیسیٰ د مړ هلک مخ ته وکتل اوبیا یې هغهٔ ته ووئیل چې "پورته شه اے زلمیه!" سمدستې هغه هلک سترګې کولاؤ کړې او کیناستو او خبرې یې شروع کړې. خلق ویریدل او د هغهٔ نه وروستو شول. او مختلفې خبرې اوریدلے کیدې. خو عیسیٰ

د هغه هلک په ګرځيدو کښې مدد وکړو او
بيا يې هغه خپل مور ته په حواله کړو.
په يو آواز سره خلقو د خدائ پاک ثنا
ووئيله او وی ووئيل چې، "په مونږ کښې يو لوئ
نبي پيدا شوے دے. او خدائ پاک په خپلو خلقو
د مهربانئ نظر کړے دے."
د دې معجزې خبر په ټوله يهوديه او خوا او شا
ټولو ملکونو کښې ډير زر خور شو. او ډيرو خلقو د
عيسیٰ او د هغهٔ د عجيبه قدرت په باره کښې
واوريدل.
لوقا ۷ : ۱۱ — ۱۷

والدین:- کۀ چرې هغه مونږ ته غم راکړی
خو بیا به هم هغه د خپل شفقت په وجه
په مونږ ډېر رحم کوی.

(د ارمیا سلسله ۳ : ۳۲)

ماشومان:- ۱. ولې ماشومانو عیسیٰ سره د نزدې
کېدلو کوشش کولو؟
۲. د عیسیٰ زړۀ په هغه کونډې باندې خوږ شو؟
۳. آیا عیسیٰ اوس هم په هغه خلقو رحم کوی څوک
چې خفه وی؟

# د ګبانو رانيولو معجزه

## د فرمانبردارئ اِنعام

په سحر کښې چې کله رڼا کيده نو پطروس او د هغه دوستانو خپلې کشتئ د سيند غاړې ته راوستې. په دې شپه دوی هيڅ ميان ونۀ نيول.

خپلې کشتئ غاړې ته کولو نه وروستو هغوی خپل جالونه وينځل چې د بلې شپې د ښکار د پاره تيار شي.

چې په دې کښې عيسیٰ د ډيرو خلقو سره د هغه کبانو نيونکو طرف ته راغلل. څنګه به چې هغۀ تبليغ کولو نو خلق به رو رو د هغۀ نزدې راتلل. نو بيا عيسیٰ يوه خالي کشتئ وليده او هغه په هغې کښې سور شو. او بيا هغۀ پطروس ته ووئيل چې

کشتئ لرِه وروړاندی کړه نو بیا هغه په کشتئ کښی ناست وو او تبلیغ یی کولو.

دا څومره عجیبه نظاره وه چی د سحر د نمر رڼا د زمکی په پرخی باندی لګیده. او د سیند وړی وړی چپی به کشتئ سره لګیدی. او د دریاب په غاړه باندی د سړو، ښځو او ماشومانو ډلی د استاذ کلام په غور سره اوریدلو.

هر کله چی عیسیٰ خبری ختمی کړی نو پطروس ته یی ووئیل چی، "ژورو اوبو ته لاړ شه او د ښکار د پاره خپل جالونه واچوه نو تهٔ به ډیر زیات کبان ونیسی."

پطروس دا خیال کولو چی آیا عیسیٰ نه پوهیږی څهٔ چی مونږ د ورځی ښکار نهٔ کوو. او هغه څهٔ د کبانو په ښکار پوهیږی؟ بیا هغهٔ ووئیل چی، "استاذه! مونږ ټوله شپه خواری وکړه خو هیڅ مو

ونۀ نيول خو چې ته داسې وايې نو مونږ
به بيا جالونه واچوو."

خو زر شمعون ته پته ولګيده چې عيسیٰ د
کبانو په ښکار د هغۀ نه ډير پوهيږى. او د هغۀ
جال د دومره کبانو نه ډک شو چې جال په شليدو
شو. نو زر پطروس خپلو نورو دوستانو ته آواز وکړو
چې، "خپلې کشتۍ راولئ او زما مدد وکړئ!"
هغوى هغه ټول کبان کشتو ته راوچت کړل او
کشتۍ دومره ډکې شوې چې د ډوبيدو خطره يې
وه.

د کبانو نيوونکې ټول د خدائ پاک په قدرت ډير
حيران وو. پطروس د عيسیٰ په پښو کښې پريوتو او
ورته يې ووئيل چې، "اې مالکه! مانه لاړ شه ځکه
چې زۀ ډير ګناه ګار يم او د دې هر څۀ کولو قابل
نۀ يم!"

عیسیٰ پطروس ته تسلی ورکړه او ورته یې ووئیل چې، "مهٔ ویریږه، د دې نه پس بـه تهٔ د بنی آدمو لټون کوې."

لوقا ۵ : ۱ — ۱۱

والدین:- ستاسو د سحر وختی پاڅیدل او ناوخته آرام کول او د محنت روټئ خوړل عبث دی ځکه چې خدائ پاک چا سره مینه کوی هغوی ته په خوب کښې هم ورکوی.

(زبور ۱۲۷ :۲)

ماشومان:- ۱. چا پطروس ته ووئیل چې لاړ شه او کبان ونیسه؟

۲. آیا پطروس د هغهٔ خبره ومنله؟

۳. آیا پطروس کبان ونیول؟

# د یائیر لور

## د یو پلار مینه د خپلې لور د پاره

یوه ورځ د ګلیل د سیند په غاړه یو پلار چې نوم یې یائیر وو په منډه منډه د ډلې په مینځ کښې راغلو. او کله چې هغهٔ عیسیٰ وکتلو نو د هغهٔ په پښو پریوتو. هغه ژړل او عیسیٰ ته یې ووئیل چې، "زما د دولسو کالو وړه لور د مرګ په حال کښې ده. مالکه تهٔ راشه او هغې ته شفا ورکړه." د عیسیٰ زړهٔ نرم شو. ځکه چې د یهودیانو د عبادت خانې مشر حاکم په عاجزئ سره د عیسیٰ په پښو پریوتو. او بل دا چې هغهٔ خپلې وړې لور سره ځومره مینه کوله!

عیسیٰ د یائیر کور ته د هغهٔ سره روان شو. ناڅاپه هغه اودریدو او ګیرچاپیره یی وکتل او د خلقو نه یی تپوس وکړو چی، "څوک زما سره ولګیدل؟"

د هغهٔ مریدانو هغهٔ ته ووئیل، "تهٔ دا ګڼه په خپله وینی چی ستا طرف ته ټیلی وهی، او بیا هم دا تپوس کوی چی دا ما سره څوک ولګیدل؟"

په دی کښی یو رپیدونکی او ویری اخستی ښځه وړاندی راغله او د عیسیٰ په پښو پریوته او هغهٔ ته یی ټول حال بیان کړو. "هغی عیسیٰ ته ووئیل چی کله تهٔ ما وکتلی نو ما دا ځان سره ووئیل کهٔ چری زهٔ ستا جامو سره هم ولګم نو ما ته به شفا ملاؤ شی!"

عیسیٰ هغی ته همدردئ سره ووئیل، "زما لوری! تهٔ د خپلی عقیدی په وجه جوړه شوی. ځه، سلامته اوسی او د دی عذابه خلاصه یی."

کله چی عیسیٰ هغی سره خبری کولی نو په دی کښی یو کس راغلو او یائیر ته یی ووئیل، چی ستا لور مړه شوه. "نور مالک ته هلته د تللو د پاره تکلیف مهٔ ورکوه." د یائیر زړهٔ به ځومره خفه شوے وو! خو عیسیٰ هغهٔ ته تسلی ورکوله او ورته یی ووئیل چی، "ویریږه مه. خو تهٔ یقین اوساته."

کله چی هغوی د یائیر کور ته ورسیدل نو هغوی د خلقو د ژړا انګولا آوازونه واوریدل. خو عیسیٰ دننه ورغے او هغوی ته ئی ووئیل، "دا څهٔ ژړا ګانی او

ویر ګډ دی؟ جینۍ خو مړه نۀ ده، هغه خو اودۀ ده."

کله چې عیسیٰ دا خبره وکړه نو هغه ماتم کونکو خلقو په هغه پورې خندا شروع کړه او هغۀ ته یې ووئیل چې، "لاړ شه او تۀ یې په خپله وګوره."

بیا عیسیٰ خلقو ته د کور نه د وتلو حکم وکړو. صرف پطروس، یعقوب، یوحنا او د هغه جینۍ مور پلار عیسیٰ سره هلته پاتې شول. بیا هغوی هغه کمرې ته لاړل چرته چې جینۍ پرته وه. عیسیٰ د هغې لاس ونیولو او ورته یې ووئیل، "پاسه زما بچۍ!"

سمدستی جینۍ پاسیده او ګرزیدل یې شروع کړل. د هغه جینۍ د مور پلار د پاره دا خومره د

خوشحالئ او حيرانتيا خبره وه! او د
هغوی په زړهٔ کښې به د عيسیٰ د پاره
ځومره شکرګزاری وه."

متی ۹ : ۱۸، ۲۳ — ۲٦

مرقوس ۵ : ۲۲ — ۲۴، ۳۵ — ۴۳

والدين:- زهٔ قيامت او زهٔ ژوندون يم.
(يوحنا ۱۱ : ۲۵)

ماشومان:- ۱. د يائير د لور عمر څومره وو؟
۲. عيسیٰ هغه خلقو ته څهٔ ووئيل کوم چې په هغه کور کښې وو؟
۳. عيسیٰ څنګه هغه وړه جينئ روغه کړه؟

# برتیمائ چغې وهي

## دړوند سړي بینا کیدل

تقریباً هره ورځ بـه برتیمـائ د ښـار دروازو ته په تیندکونو راتلو. د یریحو خلقو بـه هغـه کتلـو چې خیر به یې غونډولو.

برتیمـائ تـه د ګلونـو د رنګونـو، یـا د کجـورو د اوچتو اونو چې د هغۀ نه اوچتې وې هیڅ معلومات نۀ وو. هغۀ د نمر رڼا او د هغه خلقو مخونه نۀ شو کتلې کومو چې هغـۀ سره مینـه کولـه. ځکـه چـې برتیمائ ړوند وو.

د برتیمائ زړۀ به ځومره غوښتل چې هغـه د لیـدو قابل شي! خو تر اوسه پـورې د هغـۀ د نظـر راتلـو څۀ امید نۀ وو! خـو بیـا هـم برتیمـائ اوریـدلې وو چې په ګلیل کښې داسې یو استاذ شـته دے چـې

خلقو ته د هر قسم بيمارئ نه شفا ورکوى.
دا سړے يعنى عيسیٰ چې شليان د
ګرزيدو، کانړهٔ د اوريدو او ړاندهٔ د کتلو
جوګه کوى. يقيناً وعده کړے شوے مسيح او د
حضرت داؤد زوى دے.

يو ورځ برتيمائ د ځان نه لرى شور واوريدو. زر
هغهٔ په خپلو تيزو غوږونو اندازه ولګوله چې دا د
ډيرو خلقو ډله راروانه ده. نو هغهٔ سره چې خوا
کښې څوک تيريدل برتيمائ هغوى نه پوښتنه وکړه
چې، "څهٔ چل دے؟" هغه سړى هغهٔ ته ووئيل،
"چې عيسیٰ ناصرى راروان دے." نو په دى اوريدو
د برتيمائ زړهٔ په ټوپونو شو ځکه چې دا د هغهٔ د
بڼهٔ کيدو او نهٔ بڼهٔ کيدو يو خاص موقع وه.

نو هغۀ چغې کړې، "اے عیسیٰ د حضرت داؤد زویا! په ما رحم وکړه!" خو هغۀ ته خلقو ووئیل چې "چپ شه،" خو هغۀ چغې نورې هم زیاتې کړې، "اے د حضرت داؤد زویه! په ما رحم وکړه!" عیسیٰ ودریدو او وې ووئیل، "دے ما ته راولئ." خلقو برتیمائ راوستو. "بیا عیسیٰ د هغۀ نه پوښتنه وکړه چې زۀ ستا څۀ خدمت وکړم؟" نو برتیمائ جواب ورکړو، "مالکه! زۀ بینا کیدل غواړم."

بیا عیسیٰ هغۀ ته ووئیل، "ځه! خپل ایمان ته جوړ کړلې."

سمدستی برتیمائ بینا شو او د ځان نه ګیرچاپیره ټوله دنیا ورته ښکاره شوه! خو د عیسیٰ د مخ د کتلو په مقابل کښې دا هیڅ نۀ وو. برتیمائ د

عیسیٰ مسیح تابعداری شروع کړه او خلقو ته به یی ووئیل چی عیسیٰ څومره عجیبه دے.

مرقوس ۱۰ : ۴۶ — ۵۲؛

لوقا ۱۸

والدین:- هغه وخت به د ړندو خلقو سترګی بینا او د کاڼو غوږونه به آزاد شی.

(یشعیاه ۳۵ : ۵)

ماشومان:- ۱. برتیمائ ولی خیر غوښتولو؟

۲. آیا هغه خوشحاله شو کله چی عیسیٰ د هلته نه تیریدو؟

۳. عیسیٰ د برتیمائ د پاره څۀ وکړل؟

# يو شل سړي ته شفا ملاو شوه

# عيسیٰ د ګناه معاف کولو اختيار لري

عيسیٰ اوس د خپل تعليم او شفاورکولو د اختيار په وجه ډير مشهوريدو. د ډيرو ډيرو خلقو ډلي په عيسیٰ پسي رواني وي. خو آخر عيسیٰ د دی ډلي نه يو طرف ته خاموشه ځائے پيدا کړو. او عيسیٰ هلته خپل پلار ته د قوت د پاره دعا وکړه.

د يهوديانو مذهبی مشران، د شرعی عالمان او فريسيان هم په عيسیٰ پسي روان وو. خو هغوی په عيسیٰ ايمان نۀ لرلو. هغوی صرف په هغۀ کښي خرابيانی پيدا کولی ځکه چی هغوی عيسیٰ سره کينه کوله.

يو ورځ عيسیٰ په يو کور کښې تعليم ورکولو چې د خلقو نه ډک وو. ناڅاپه هغوی د چهت نه آوازونه واوريدل. بيا هغوی وکتل چې چهت څوک سورې کوی.

د چهت سوری رو رو زياتيدو او بيا په کښې يو لوئ شے راښکته کړے شو. په دی کښې يو شل سړے پروت وو چې څلور کسانو د رسئ په مدد سره عيسیٰ ته راښکته کړو.

عيسیٰ چې کله د هغوی ايمان وکتلو نو ډير خوشحاله شو. عيسیٰ په دی هم خوشحاله وو چې دی سړو د خپل بيمار دوست د پاره دومره تکليف برداشت کړو.

هر چا عيسیٰ ته په شوق سره کتل. چې آيا دی به څۀ معجزه کوی؟ اګرکۀ عيسیٰ دا سړے مخکښې

چرته نهٔ وو کتلے، خو بیا هم عیسیٰ پوهیدو چې دې سړی ته د بدنی شفا نه هم زیات د بل څهٔ ضرورت دے. نو عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل چې، "زویه! خاطر جمع کړه ستا ګناهونه معاف شول."

په دې ووئیلو د شرعی عالمان او فریسیان غصه شول او خپلو کښې یې یو بل ته ووئیل چې "دا څوک دے چې کفر وائی؟ د خدائ پاک نه بغیر لا بل څوک هم ګناهونه معاف کولے شی؟"

خو عیسیٰ د هغوی په خبرو پوهه شو چې هغوی په خپلو کښې څهٔ ووئیل. نو عیسیٰ د هغوی نه تپوس وکړو، "آیا دا آسانه ده چې څوک ووائی چې ستا ګناهونه معاف شو او کهٔ دا چې پاڅهٔ او

وګرځه؟ زۀ به تاسو ته وښايم چې ماسره د
معاف کولو قدرت شته."

نو بيا عيسیٰ هغه شل سړی ته مخ راواړولو
او وی ووئيل چې "زۀ تا ته دا وايم چې ودريږه،
خپل کټ واخله او کور ته ځه."
او هغه د هغوی په وړاندی سمدستی پاڅيدو او هغه
کټ چې دئ په کښی پروت وو، يی واخستو او
کور طرف ته روان شو او د خدائ پاک ثناء يی
ووئيله.
د هغه شل سړی دوستان او هغه خلق چې هلته وو
کله چې هغوی دا معجزه وکتله نو هغوی هم د
خدائ پاک ثناء ووئيله. او هغوی ټول د عيسیٰ په
عجيبه قدرت حيران وو.
متی ۹ : ۲ — ۸؛

مرقوس ۲ : ۲ — ۱۲ ؛

لوقا ۵ : ۱۷ — ۲٦

والدین:- هغه ربښتینے خدائ او د تل ژوندون دے.

(اول یوحنا ۵ : ۲۰)

ماشومان:- ۱. آیا هغه سړی چی عیسیٰ ته راوستل شو هغه ګرځیدی شو؟

۲. هغه سړو بیمار په څۀ طریقه عیسیٰ ته لاندی راوستو؟

۳. عیسیٰ د هغه د پاره څۀ وکړل؟

# پنځه زره کسانو ته روټئ ورکړے شوه

## پنځه روټئ او دوه کبان

عیسیٰ واوریدل چې د هغه دوست یحییٰ بپتسمه ورکونکے په جیل کښې مړ کړے شو. نو عیسیٰ خپلو مریدانو ته ووئیل، "چې رازئ چې د لږ وخت د پاره یو د آرام ځائے پیدا کړو."

خو ډیرو خلقو غوښتل چې عیسیٰ وګوری او هغوی عیسیٰ یوازې نۀ پریښودو. کله چې د سړو، ښځو او ماشومانو ډله په عیسیٰ پسې زیاته شوه نو د عیسیٰ زړۀ په هغوی وسوزیدو. او هغۀ خپلو مریدانو ته ووئیل، "چې دوی د داسې ګډو په شان دی چې شپون یې نۀ وی. "

زر د غرۀ لمن د هغه خلقو نه ډکه شوه چې د عیسیٰ د کلام د اوریدلو تږی او لیواله وو. څۀ ګینټې پس مریدانو وکتل چې نمر په غورزیدو دے. او دا ټول خلق د خپلو کورونو نه لرې وو. نو په دې وجه هغوی عیسیٰ ته ووئیل، "چې دا خلق واپس ولیږه." "ځکه چې ناوخته کیږی او دوی ټولو ټوله ورځ هیڅ نۀ دی خوړلی."

عیسیٰ هغوی ته ووئیل، "چې تاسو دوی ته دلته ولې څۀ د خوراک د پاره نۀ ورکوئ؟" فیلیپوس عیسیٰ ته مخ ورواړولو او ورته یې ووئیل، "چې مونږ دومره ډوډۍ چرته واخلو چې دوی ټولو باندې یې وخورو؟"

هم په دغه وخت اندریاس راغلو او عیسیٰ
ته یی ووئیل، "چی هلته یو هلک سره یو
څو ډوډئ او کبان دی. او هغه به تا ته
هغه ډوډئ او کبان په خوشحالئ درکړی."
عیسیٰ ته د سحر نه پته وه چی هغه به څۀ کوی.
په خپل ذهن کښی عیسیٰ د هغه هلک په ډوډئ د
معجزی کولو منصوبه لرله.
بیا عیسیٰ مریدانو ته ووئیل، "چی خلق په خپلو
کښی ډلی ډلی کړئ او د ډلو په شکل کښی یی په
شنو کبلو په ترتیب کیښنوئ."
بیا عیسیٰ آسمان ته مخ کړو او هغه پنځو ډوډو او
دوو کبانو ته یی برکت ورکړو. بیا عیسیٰ ډوډئ او
کبان واړۀ واړۀ کړل او مریدانو ته یی د ورکولو د
پاره ورکړل. بیا هغوی هغه ډوډئ او کبان په

ترتیب سره په ډلو کښې تقسیم کړل. او هغه پنځو زرو کسانو هغه ډوډۍ وخوړله او ټول ماړۀ شول.

بیا عیسیٰ ووئیل چې، "هغه ټکړې چې پاتې شوې هغه راغونډې کړئ چې ضایع نۀ شي." او مریدانو د عیسیٰ خبره ومنله او هغه پاتې ټکړې یې راغونډې کړې او دولس ټوکرۍ یې ترې ډکې کړې! دا څومره لویه معجزه وه چې د پنځه ډوډو او دوو کبانو نه پینځه زره کسان ماړه شول او دولس ټوکرۍ ترې پاتې هم شوې.

آیا عیسیٰ نن ورځ هم د څۀ عجیبه معجزې کولو منصوبه لرې؟ آیا تاسو د هغۀ په نظر کښې یئ؟ آیا تاسو به هم خپل هر څۀ عیسیٰ ته ورکړئ چې د هغې په وسیله نورو ته برکت ورکړي؟

متی ۱۴ : ۱۵ — ۲۱ ؛

مرقوس ٦ : ۳۰ — ۴۴ ؛

لوقا ۹ : ۱۰ — ۱۷ ؛ یوحنا ٦ : ۱ — ۱۴

والدین:- تاسو د هر څۀ نه اول د خدائ د بادشاهئ او د هغه د ریښتینوالئ لټون کوئ، نو نور هر څۀ به تاسو ته په خپله حاصل شی. (متی ٦ : ۳۳)

ماشومان:- ۱. هغه ځوان هلک سره څومره ډوډئ وی؟

۲. د هغۀ سره څو کبان وو؟

۳. آیا د خلقو د پاره هر څۀ ډیر وو؟

## په اوبو ګرځېدل

## پطروس د ډوبېدو نه بچ شو

د ډوډۍ او کبانو د معجزې نه وروستو څۀ يهودى کسانو کوشش کولو چې عيسىٰ خپل بادشاه کړى. هغوى دا سوچ کولو چې دا سړے به مونږ ته مفت ډوډۍ راکوئ، او مونږ به د هغه رومى حاکمانو نه آزاد کړى چې زمونږ نه نفرت کوى او په ټوله دنيا به بادشاهى هم کوى.

په حقيقت کښې خو عيسىٰ بادشاه وو. خو هغه ته د خپل سلطنت جوړولو د پاره د فوجيانو او د تورو ضرورت نۀ وو. عيسىٰ د هغوى په زړونو بادشاهى کوى څوک چې هغۀ سره مينه کوى او د هغۀ فرمانبردارى کوى.

بیا عیسیٰ هغه څۀ وکړل کوم چې نور مشران هم د خلقو په خوښه کوی. عیسیٰ بیا د هغه ډلې نه یو پټ ځائے ته د دعا د پاره لاړو.

په هغه شپه کله چې عیسیٰ دعا کوله نو نزدی دریاب کښې ډیر تیز طوفان وو. نو عیسیٰ محسوس کړل چې د هغۀ مریدان به په تکلیف کښې وی. نو په دی وجه عیسیٰ د شپې ناوخته د هغوی د مدد کولو د پاره لاړو. نو عیسیٰ چې کله مریدانو ته ورتلو نو هغه د اوبو د پاسه لکه د زمکې په شان روان وو.

کله چې مریدانو هغه د اوبو د پاسه راروان ولیدو نو هغوی ټول ویریدل او چغې یې کړې. هغوی دا سوچ وکړو چې دا پیرے دے. خو عیسیٰ هغوی

ته آواز ورکړو، "چې زړونه کلک کړئ او
ویریږئ مهٔ دا زهٔ یم." نو بیا هغوی ټول
پوهه شول چې دا عیسیٰ دے.

خو مریدانو چې کله هغه ولیدلو نو هغوی پرې باور نهٔ کولو. څکه چې هغوی فکر کولو چې عیسیٰ څنګه په دې تیزو چپو او طوفان کښې د اوبو د پاسه ګرځی؟ ناڅاپه د پطروس په ذهن کښې یو خیال راغلو. او هغه عیسیٰ ته آواز وکړو او ورته یې ووئیل، "مالکه، کهٔ دا واقعی تهٔ یې نو ماته هم ووایه چې زهٔ هم د اوبو د پاسه وګرځم."

نو عیسیٰ هغهٔ ته جواب ورکړو او ورته یې ووئیل چې، "راځه."

په دليرۍ سره هغه د کشتۍ نه اوبو ته راکوز شو. په شروع کښې دا ډېره عجيبه وه ځکه چې پطروس د عيسیٰ په شان د اوبو د پاسه ګرزيدو.

خو پطروس چې کله اوبو ته وکتل نو هغه پريشانه شو او په دې سوچ کښې شو کۀ يوه غټه چپه راشي او ما ډوب کړي يا مې وغورځوي؟ او داسې پطروس ويريدو او په ډوبيدو شو. نو بيا يې عيسیٰ ته چغې کړې، "اے مالکه ما بچ کړه." نو بيا عيسیٰ پطروس ته ورغلو او هغه يې راوچت کړو. څنګه چې هغوی دواړه کشتۍ ته وختل نو د درياب چپې او طوفان په آرام شو. هم په هغه ساعت چې کله هغوی وکتل نو کشتۍ د درياب په غاړه وه.

دا څنګه کیدے شی؟ لږ ساعت مخکښې
هغوی د دریاب په مینځ کښې وو. بیا ټول
مریدان په سجده شول. او دا یې واضحه
ووئیل چې، "ته واقعی د خدائ پاک زوی یې."
متی ۱۴ : ۲۲ — ۲۳؛ مرقوس ٦ : ۴۵؛
یوحنا ٦ : ۱۵ — ۲۱

والدین:- ویریږه مهٔ، خو یقین کوه.
(مرقوس ۵ : ۳٦)

ماشومان:- ۱. د اوبو د پاسه څوک وګرځیدل؟
۲. د مریدانو څهٔ خیال وو چې څوک د اوبو د پاسه ګرزی؟
۳. کله چې پطروس وویریدو نو څهٔ چل وشو؟

## زکائ - یو وړوکی قد والا سړے

# د یو محصولچی سړی سخی کیدل

# یو محصولچی نه سخی سړے

## جوړیږی

عیسیٰ او د هغۀ مریدان یروشلم ته د فسح د اختر د پاره روان وو. خو کله چې هغوی د یریحو ښار ته راورسیدل نو هغوی سره ډیر خلق یو ځائے شول. د مسافرو د پاره یریحو ډیر سرسبز او تازه ښکاریدو هغوی هغه خوشبودارو ګلونو او د میوو نه ډکو د کجورو ونو ته په غور غور کتل کومی چې د چشمو په غاړه ولاړی وی.

د محصولچیانو هم یریحو ډیر خوښ وو. ځکه چې دا د مالداره کیدو د پاره ډیر ښۀ ځائے وو خاصکر د هغوی د پاره څوک چې د زکائ چې د هغوی

مشر وو په شان دهوکه باز وو. خو په حقیقت کښې زکائ د دومره پیسو سره هم خوشحاله نۀ وو.

زکائ د عیسیٰ په باره کښې اوریدلی وو چې هغه یو عجیبه استاذ او شفا ورکونکے دے. کله چې عیسیٰ یریحو ته راغلو نو زکائ غوښتل چې عیسیٰ سره ملاؤ شی. خو هغۀ یو مشکل لرلو. هغه مشکل دا وو چې د هغۀ قد ورکوټی وو او هغۀ نۀ شو کولے چې عیسیٰ د خلقو په مینځ کښې وګوری.

زکائ د دی هیڅ پرواه ونۀ ساتله چې خلق به د هغه په باره کښې څۀ وائی. خو هغه د خلقو نه مخکښې په منډه لاړو او د انځر ونی ته وختلو. بیا هغه په یو خاخ دی دپاره کښیناستو چې عیسیٰ تیریږی چې هغه یی وګوری. خو عیسیٰ د هغۀ نه

تیر نهٔ شو. کله چې عیسیٰ هلته راورسیدو نو ودریدو او هغهٔ ته یې ووئیل چې، "ائ زکایه! زر راکوز شه! زهٔ نن خامخا ستا په کور کښې پاتې کیږم."

د زکائ په دې باور نهٔ کیدو. هغه په سوچ کښې شو چې آیا دا عظیم استاذ ما سره چې یو ګناه ګار محصولچې یم خبرې کوی؟ خو د هغهٔ په زړهٔ کښې بدلون راغلو. او هغه د اونې نه زر راکوز شو. او په مینه او خوشحالئ سره یې عیسیٰ ته هر کلے ووئیلو.

کله چې خلقو دا ولیدل نو ټول خپلو کښې سره غوریدل او دا یې ووئیل چې، "آیا هغه د یو ګناه ګار سړی کره ورغے او د هغهٔ میلمه شو؟"

خو په هغه ورځ زکائ بدل شو. او د خلقو په مخکښې ودريدو او مالک ته يې ووئيل، "مالکه! هم په دې ځائې زهٔ خپل نيم مال خوارانو له ورکوم او کهٔ ماله چا نه په دوکه باندې څهٔ اخستې وی نو هغهٔ ته يې هم يو په څلور ورکوم." په دې ووئيلو سره زکائ دا وعده هم وکړه چې هغه به د هغې نه هم زيات څهٔ وکړی څهٔ چې په شريعت کښې د هغهٔ د ګناه د پاکيدو د پاره مقرر وی.

عيسیٰ د زکائ په بدليدو ډير خوشحاله وو. او هغهٔ زکائ ته ووئيل چې، "نن خلاصون ستا کور ته راغلے دے." د عيسیٰ کار صرف دا نهٔ وو چې بيمارانو ته، شليانو ته، کڼو ته او ړندو ته شفا ورکړی بلکه هغه د ګناه ګارو خلقو زړونه هم

پاکول. او بیا عیسیٰ داسی ووئیل چی،
"زه دی دپاره راغلے یم چی ورک شوی
ولټوم او بچ یی کړم."
لوقا ۱۹ : ۱ — ۱۰

والدین:- مسیح عیسیٰ ګناه ګارانو ته د خلاصون
ورکولو د پاره دنیا ته راغے.
(اول تیموتیوس ۱ : ۱۵)

ماشومان:- ۱. د هغه مندری سړی څۀ نوم وو؟
۲. هغه ولی اونی ته وختلو؟
۳. آیا زکائ د عیسیٰ سره مینه کول زده کړه؟

# د طوفان او درول

## د شور او غوغا په وخت کښې آرام راوستل

دا د عیسیٰ د پاره ډیره ستومانه ورځ وه. ځکه هغهٔ ټوله ورځ د دریاب په غاړه خلقو ته شفا او تعلیم ورکړو. اوس هغهٔ یو خاموشه ځائے غوښتو چې په کښې آرام وکړی. نو عیسیٰ خپلو مریدانو ته ووئیل، "چې راځئ چې د دریاب بل طرف ته لاړ شو. "

خو د دئ دومره خلقو نه وتل آسان نهٔ وو. ځکه چې هر چا غوښتل چې عیسیٰ سره ډیر وخت تیر کړی. خو آخر عیسیٰ او د هغه شاګردان د دریاب بل طرف ته د تللو قابل شول. هغه وخت هلته په دریاب کښې نوری کشتئ هم وی. په دی کښې

ځۀ شک نشته چې هغوی پسې به په هغه
کشتو کښې خلق هلته هم تللی وی چرته
چې هغوی تلل.

بیا عیسیٰ د کشتۍ په روستینۍ حصه کښې په ډیر ښۀ خوب ودۀ شو. مریدان چې کله د ګدرې طرف ته روان شو نو د یخې هوا په وجه هغوی په آرام ناست وو. هغوی وکتل چې نمر په پریوتو دے او بیا یې په آسمان کښې ځو پړقیدونکی ستورې هم وکتل. د ګلیل په دریاب کښې دا یو ډیر خوشحاله ماښام وو. ځکه چې په دریاب کښې طوفان نۀ وو چې کشتۍ یې را ایساره کړې وه.

خو یکدم دا هر څۀ شروع شول. توره وریځ د غرونو نه راخوره شوه، او په مزا هوا تیزه شوه. او د طوفان راتلو سره کشتۍ د دریاب په اوبو کښې په خوزیدو شوه. د اوبو لوئ او تیزې چپې به بیا بیا

راتلی او کشتئ سره به لږیدی او د کشتئ
په اړخونو کښی به اوبهٔ کشتئ ته راتلی.
مریدانو هغه اوبهٔ د کشتئ نه غورزولی. خو
اوبهٔ د مخکښی نه نوری هم زیاتیدلی. تر دی
پوری چی آخر پطروس، حضرت یعقوب او یوحنا
چی تکړه ماهی ګیران وو هغوی هم ویری واخستل.
آخر مریدانو عیسیٰ ته کتل شروع کړل. او هغه په
ښهٔ ډوب خوب ودهٔ وو. بیا هغوی زر هغهٔ ته
ورغلل او د خوب نه یی په دی چغه رابیدار کړو،
"مالکه! مونږ ډوبیږو! تاسره څهٔ غم نشته؟"
بیا په نرمئ سره عیسیٰ مریدانو ته ووئیل، "ولی
تاسو دومره ویریږئ؟ ستاسو ایمان څهٔ شو؟
بیا عیسیٰ اودریدو او سیلئ او باران ته یی ووئیل
چی، "غلی قلار شه!" او سمدستی هوا او باران
اودریدو او دریاب کښی بیا قلاره قلاری شوه.

مریدان ویری واخستل او هغوی خپلو کښی
یو بل ته ووئیل، چی "دا لا څوک دے
چی باد او باران یی هم حکم منی؟" بغیر
د څۀ شک نه هغوی پوهه شول چی دا عیسیٰ
ضرور د خدائ پاک زوی دے.

متی ۸ : ۲۳ — ۲۷؛مرقوس ۴ : ۳۵ — ۴۱؛
لوقا ۸ : ۲۲ — ۲۵

والدین:- د آسمان او د مزکے ټول واک ما ته راکړے
شوے دے. (متی ۲۸ : ۱۸)

ماشومان:- ۱. آیا مریدان د طوفان نه ویریدل؟
۲. آیا عیسیٰ د طوفان نه وویریدو؟
۳. په طوفان څۀ چل وشو؟

# عیسیٰ او واړه ماشومان

# د خدائ پاک په بادشاهئ کښې

# څوک لوئ دی؟

یوه ورځ یو څو ماشومان خپل مور پلار راوستل چې عیسیٰ وګوری. ځینو میاندو سره په غیږ کښې هم ماشومان وو. هغوی غوښتل چې عیسیٰ د هغوی په بچو لاس کیږدی او هغوی ته برکت ورکړی. خو د عیسیٰ پام هغوی ته نهٔ وو ځکه چې هغه د نورو خلقو سره مشغول وو. نو بیا د ماشومانو میاندو او پلارانو ته مریدانو ووئیل، "چې مالک مهٔ تنګوئ ځکه د هغهٔ سره وخت نشته چې ماشومان وګوری."

نو عیسیٰ هغه خفه ماشومان او د هغوی مور او پلار وکتل چې کله هغوی واپس روان وو. په دی کولو

عیسیٰ د خپلو مریدانو نه ډیر خفه شو. او هغوی یی ورټل او ورته یی ووئیل چی،
"هیڅکله هم ماشومان زما نه مهٔ منع کوئ!
ځکه چی زما بادشاهی د داسی خلقو ده څوک چی لکه د ماشومانو په شان ایمانداره، مینه ناک، خاکساره او معاف کونکی وی."
بیا زر عاجز خویه مریدانو هغه ماشومانو او د هغوی مور او پلار ته آواز وکړو چی، "دلته راشئ عیسیٰ تاسو سره ملاوویدل غواړی."
بیا عیسیٰ یو یو ماشوم په غیږ کښی واخیستو. بیا هغهٔ په مینی سره د هغوی په سر لاسونه کیښودل او هغوی ته یی برکت ورکړو.
مریدانو عیسیٰ ته په حیرانتیا سره کتل. چی عیسیٰ ماشومانو ته دومره زیات اهمیت ورکړو.

اوس عیسیٰ د هغه مغرورو فریسیانو ټولو نه ښهٔ او ضروری کار وکړو.

یوه ورځ مریدان خپلوکښې بحث کولو او هغوی هر یو خپلو کښې ووئیل چې عیسیٰ د نورو ټولو نه ښهٔ دے. نو بیا هغوی د عیسیٰ نه پوښتنه وکړه چې، "د خدائ پاک په بادشاهئ کښې څوک لوئې دی؟"

عیسیٰ سمدستی یو ماشوم د هغوی په مینځ کښې راوستو. او عیسیٰ هغوی ته ووئیل چې زهٔ تاسو ته دا وایم، "چې تر څو تاسو د خدائ پاک بادشاهی د دی ماشوم په شان قبوله نهٔ کړئ تر هغه پورې به تاسو په هغې کښې ورداخل نهٔ شئ. ځکه چې ماشومان نهٔ مالدارتوب نهٔ قدرت او نهٔ مشهورتیا ته ضرورت لری. هغوی صرف خپل مور پلار سره

مینه کوی او په خپل مور پلار د هغوی د
ښهٔ حفاظت کولو باور وی. نو داسی کهٔ
څوک عاجزئ سره په خپل آسمانی پلار
لکه د ماشوم په شان باور کوی نو هم هغوی د
خدائ پاک په بادشاهئ کښی لوئ دی."
عیسیٰ خبری کولی او داسی یی ووئیل، "چی
تاسو د پاره به زما نه د ماشومانو د گناه طرف ته
د بوتللو نه دا غوره وی چی مرئ کښی یو غټ
کاڼی واچوئ او ډوب سمندر ته ټوپ کړئ."
عیسیٰ ووئیل، "زهٔ تاسو ته دا وایم چی د دوی
فرښتی په آسمان کښی همیشه زما د آسمانی پلار
په مخکښی موجود دی. او د خدائ پاک بادشاهی
د داسی وړو خلقو ده."
متی ١٨ : ١ — ٦، ١٠؛

مرقوس ۹ : ۳۳ —۳۷، ۱۰ : ۱۳ — ۱٦؛

لوقا ۹ : ٤٦ — ٤۸، ۱۸ : ۱۵ — ۱۷

والدین:- د ماشومانو او پیو خوړونکو د خلو نه تا

خپل قدرت قایم کړو.

(زبور ۸ : ۲)

ماشومان:- ۱. چا ووئیل چې، "عیسیٰ سره د

ماشومانو د پاره وخت نشته؟"

۲. آیا عیسیٰ ټولو ماشومانو سره مینه کوله؟

۳. آیا عیسیٰ تاسو سره مینه کوی؟

## د غرۀ په سر واقعه

# د حضرت موسیٰ او حضرت الیاس د عیسیٰ سره خبری کول

یوه ورځ عیسیٰ خپلو مریدانو ته ووئیل چې ډیر زر به هغه ډیری سختئ وزغمی. کاهنان او د شرعی عالمان به د هغه سره ډیر ظلم وکړی او مړ به یی کړی. خو د خښولو نه دری ورځی وروستو به هغه بیا ژوندے شی.

عیسیٰ خپلو مریدانو ته دا هم ووئیل چې وفادار اوسئ، او هیڅ کله هم زما نه مۀ شرمیږئ. د خودغرضئ ژوند به نۀ تیروئ، هر چا سره به ښۀ کوئ. بیا عیسیٰ هغوئ سره دا وعده وکړه چې د مړ کیدو نه مخکښی به تاسو ابن آدم د هغۀ په بادشاهئ کښی په راتلو وګورئ.

دا تعلیم د مریدانو د پاره نوے وو. ځکه چې هغوی نه پوهیدل چې عیسیٰ دی دنیا ته د تکلیف تیرولو او مړ کیدلو د پاره راغلے دے. او د هغوی دا اراده وه چې هغوی به عیسیٰ سره په زمکه سلطنت وکړی. خو اوس هغوی د عیسیٰ په کلام ډیر په تکلیف شول.

یوه هفته وروستو عیسیٰ پطروس، یعقوب او د هغهٔ ورور یوحنا د ځان سره یو اوچت غرهٔ ته وخیژول. څنګه چې هغوی وختل نو مریدان ډیر ستړی وو او هغوی ډیر زر اودهٔ شول. خو هغه وخت عیسیٰ دعا کوله او کله چې هغهٔ دعا کوله نو په هغهٔ کښې یو جلالی بدلون راغلو. د هغهٔ مخ لکه د نمر په شان ځلیدو او جامې یې د رڼا په شان سپینې شوې. بیا

حضرت موسیٰ او حضرت الیاس د آسمان
نه راښکاره شول او عیسیٰ سره یی خبری
وکړلی.

خو مریدان بیدار شول. او دا یی وکتل چی په عیسیٰ څۀ چل وشو؟ د دی دری واړو په لیدو هغوی ډیری ویری اخستی وو. خو بیا هم مریدان پوه وو چی دا آسمانی دوه کسان حضرت موسیٰ او حضرت الیاس وو.

عیسیٰ د دی جلالی غونډی منصوبه د خپلو دری واړو مریدانو او د مستقبل د ایماندارانو د پاره جوړه کړی وه. دا د عیسیٰ د جلال پیشن ګوئی وه چی هغۀ ته به بیا دنیا ته په راتلو ملاویږی. او ټول بزرګان به د هغۀ سره وی. او هر هغه څوک چی د هغۀ د راتلو نه مخکښی مړۀ شوی دی هغوی به

بیا لکه د حضرت موسیٰ ژوندی شی. او
څوک چی ژوندی دی هغوی به د سترګو
په رپ کښی لکه د حضرت الیاس په شان
بدل شی.
بیا زر حضرت موسیٰ او حضرت الیاس هلته نه
غائب شول. بیا یوه لویه وریځ د عیسیٰ او د هغهٔ د
مریدانو نه چاپیره شوه. او د هغهٔ نه یو آواز راغلو
چی، "دا زما محبوب زوی دے، د چا نه چی زهٔ
رضا یم. دهٔ ته غوږ ونیسئ."
متی ١٧ : ١- ١٠ ؛مرقوس ٩ : ٢ — ١٣ ؛
لوقا ٩ : ٢٨ — ٣٦

والدین:- اؤ کله چی مونږ د هغه سره په مقدس غرهٔ باندی وو نو د آسمان نه مو دا آواز واؤریدو. (دویم پطروس ۱ : ۱۸)

ماشومان:- ۱. عیسیٰ ځان سره د مریدانو نه کوم دری کسان بوتلل؟

۲. د عیسیٰ مخ او جامی څنګه شوی؟

۳. عیسیٰ سره په غرهٔ باندی کوم دوه سړی ملاؤ شول؟

# عیسیٰ د خدائ کور پاکوی

## د خدائ پاک کور مقدس دی

د فسح د اختر په وخت کښې عیسیٰ یروشلم ته لاړو. درې کاله مخکښې چې کله عیسیٰ د فسح اختر ته یروشلم ته راغلے وو، نو هغه ډیر خفه شو چې کله هغهٔ خلق وکتل چې د خدائ د کور احترام نهٔ کوی. نو په دې وجه هغه یو ډېل پړې سره راغلو او سوداګران او صرافان یې د هلته نه وشړل. او څاروی، ګډې او کونترې یې کولاؤ کړې او هیکل یې پاک کړو.

خو دې کال بیا سوداګران هلته ناست وو او خپل کارونه یې هغسې کول. د مقدس خدائ پاک کور لکه د بازار ښکاریدو او هلته نه لکه د غوجل په شان بوئې تللو. څنګه خلقو کولے شو چې په داسې

ځائے کښې د خدائ پاک عبادت وکړی؟
نو عیسیٰ پوهه شو چې د دی هر څۀ لری
کولو د پاره هغه بیا څۀ چل وکړی.

نو بیا عیسیٰ هغه سوداګران بهر وویستل او د صرافانو میزونه یی اولټه کړل. هغۀ د هغه خلقو هم ځایونه خراب کړل چا چې کونتری هلته خرڅولی. هغۀ څوک هم نۀ پریښودل چې په هیکل کښې یو لوښی یا منګی هم یوسی. بیا عیسیٰ هغوی ته تشریح کړه چې، "په صحیفو کښې لیکل شوی دی چې، زما کور به د ټولو قومونو د پاره د دعا کور شی. خو تاسو د دی نه د ډاکوانو غار جوړ کړے دے."

یهودی مشرانو یو قانون جوړ کړے وو چې شل یا ړاندۀ سړی به هیکل ته نۀ ننوزی. هغوی ووئیلی

وو چې صرف روغ او مکمل سړی به د
خدائ پاک وړاندې اودریږي! او هغوی دا
هیر کړی وو چې خدائ پاک بدن ته نه
بلکه د خلقو زړونو ته ګوري. نو عیسیٰ ټول شل او
ړاندۀ هیکل ته راوستل او هغوی ټولو ته یې شفا
ورکړه!

سمدستې ماشومانو وکتل چې عیسیٰ په هیکل کښې
ښۀ کارونه کوی. او دوی عیسیٰ سره ډیره مینه
لرله. او دا چغې یې وهلې، "د حضرت داؤد په
زوی دې ثناء وی،" (په دې معنی چې خدائ پاک
د مسح کړے شوی مدد وکړو). دا یوه عجیبه ورځ
وه ځکه چې د دې نه مخکښې په هیکل کښې
داسې څۀ واقعه نۀ وه شوی. او نۀ به وروستو
داسې څۀ واقعه وشی.

پکــار وو چــی کاهنــان او مشــران پــه دی

خوشحاله شوی وو چی کله هغـوی دا هـر

څۀ کتلی وو خو هغوی د خوشـحاله کیـدو

په ځائې د مخکښې نه ډیر غصه وو.

عیسیٰ د هغوی نه پوښتنه وکـړه، "چـی آیـا تاسـو

صحیفی نۀ دی لوستلی چـی پـه کښـی لیکلـی دی

چی، د وړو او تی رودونکو د خلی نه تا ثناء کامله

کړه؟"

متی ۲۱ : ۱۲ — ۱٦؛مرقوس ۱۱ : ۱۵ — ۱۸؛

لوقا ۱۹ : ۴۵ — ۴۸؛یوحنا ۲ : ۱۳ — ۱٦

دین:- د خدائ پاک داسی حمدوثناء وکړئ چی

د هغه د شان په مطابق وی. او د هغه په

وړاندی هدیی راوړئ. او په ښائسته
پاکیزګئ کښی د هغه عبادت وکړئ.

(اول تواریخ ١٦ : ٢٩)

ماشومان:- ١. عیسیٰ د سوداګرانو سره څۀ وکړل؟
٢. چا دا سندره ووئیله چی، "د حضرت داؤد په
زوی دی ثناء وی؟"
٣. آیا کاهنان او مشران په دی هر څۀ خوشحاله
وو؟

# نیک سامري

## نورو سره مینه کول او ښودل

یوه ورځ چې عیسیٰ تعلیم ورکولو نو هلته یو د شرعي عالم هم وو او هغهٔ غوښتل چې په عیسیٰ آزمیښت وکړي. نو هغهٔ د عیسیٰ نه دا پوښتنه وکړه، "مالکه! زهٔ داسې څهٔ کار وکړم چې په آسمان کښې د تل ژوندون وارث شم؟"

نو عیسیٰ د هغهٔ نه سوال وکړو، "چې په صحیفو کښې څهٔ لیکلے شوی دی؟ او تهٔ یې څنګه لولې؟"

د شرعي عالم ورته جواب ورکړو، "د خپل خدائ پاک سره د زړهٔ په راستئ او پوره په روح او پوره په طاقت او په عقل مینه لره" او "د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مینه کوه."

عیسیٰ ورته ووئیل چې، "هم دغه صحیح جواب دے. دغه شان کوه نو ژوندے به اوسې." خو په

دی د شرعی عالم مطمئین نهٔ شو. نو هغهٔ عیسیٰ نه بیا پوښتنه وکړه چې، "زما ګاونډی څوک دے؟"

نو بیا عیسیٰ دا فیصله وکړه چې دهٔ ته دی قیصئ سره تعلیم ورکړی:

یوه ورځ یو سړے د یروشلم نه یریحو ته په یو خطرناکی لار روان وو. چې ناڅاپه هغه یو څو ډاکوانو ګیر کړو. هغوی د هغهٔ نه جامې اوښکلی، وئي وهلو او پیسی یی تری نه واخستی. او بیا هغوی هغه د سړک په غاړه مرګی حال پریښودو او تری نه لاړل.

خو په هغه لار یو یهودی کاهن راروان وو چې په یروشلم کښې یی په هیکل کښې د خدائ پاک خدمت کولو. کله چې کاهن هغه سړے په وینو

کښې لت پت ولیدو نـو زر یـې خپلـه لاره بدله کړه او د سړک په بل طرف روان شو.

د هغهٔ نه پس یو لاوی په هغه لاره تیریـدو او هغهٔ هم په هیکل کښې خدمت کولو. هغـه لاوی هغه زخمي سړی ته نزدې ورغلو چې وئې ګـوری. خو هغهٔ غوښتل چې ځان د هیکل د کارونو د پاره پاک وساتی نو په دې وجه هغـه د هغـه سـړی نـه لاړو او هغه یې په زخمي حالت کښې پریښودو. خو آخر یو سامری سړے د هلته نه تیریـدو. نـو د هغـهٔ زړهٔ پـه هغـه زخمـی سـړی خـوږ شـو د دې باوجود چې یو یهودی هم هغوی سره مینه نـهٔ کـو لـه. سمدسـتی هغـه سـامری د هغـه زخمـی سـړی زخمونه پاکول شروع کړل. او د هغهٔ په زخمونو یې تیل واچول او بیا یې پټۍ کـړل. بیـا سـامری هغـه زخمی سړے په خپل خر په احتیاط سره واچولـو.

او هغه یی یو نزدی سرائے ته بوتلو او تر بل سحره یی د هغۀ خدمت وکړو.

خو بل سحر چی کله سامری د سرائے نه تلو نو هغۀ د سرائے مالک ته دوه دیناره ورکړل او هغۀ ته یی ووئیل چی، "د دی سړی تر هغه پوری خدمت وکړه ترڅو پوری چی دے ټیک شوے نۀ وی." "او کۀ نور خرچ دی پری راغے نو په واپسئ کښی به زۀ تاته درکړم."

بیا عیسیٰ هغه د شرعی عالم ته نیغ وکتل. بیا عیسیٰ د هغۀ نه پوښتنه وکړه، "چی ستا څۀ خیال دے چی په دی دری واړو کښی د هغه سړی کوم چی د غلو په لاس کښی کښیوتے وو، ګاونډی څوک دے؟"

د شرعی عالم عیسیٰ ته جواب ورکړو چی، "هغه څوک چا چی په هغۀ رحم وکړو." نو بیا عیسیٰ

هغۀ تـه ووئيـل، "چـې لاړ شـه او تـۀ هـم دغسې کوه لکه چې هغۀ وکړل."

لوقا ۱۰ : ۲۵ – ۳۷

والدين:- زما بچو! مينه دِ تش په خبرو يا په ژبه نه وی بلکه هغه په رښتيا او په عملی طور په کار ده (اول يوحنا ۳ : ۱۸)

ماشومان:- ۱. چا د هغه سړی نه جامې او پيسی واخيستې؟

۲. آيا هغه کاهن او لاوی په هغه زخمی څۀ رحم وکړو؟

۳. آيا هغه سامری سړی د زخمی سړی سره مينه وکړه؟

# عیسیٰ د مثالونو په زریعه تعلیم ورکوی

## مینه او معافی

یوه ورځ څو فریسیان او د شرعی عالمان هم د عیسیٰ د تعلیم اوریدلو د پاره راغلل. خو چې کله هغوی د عیسیٰ سره غلۀ، دروغجن، شلیان او نور پاتی خلق وکتل نو ډیر خفه شول. او په خپلو کښې یې غوریدل شروع کړل چې عیسیٰ ته نۀ دی پکار چې دا ګناهګار خلق د احترام لرونکی یهودیانو سره یو ځائې کړی او نۀ دی ورسره خوراک وکړئ.

عیسیٰ د هغوی غوریدل واوریدل. نو بیا هغۀ هغوی ته دا مثال ورکړو چې، "کۀ چری په تاسو کښې د یو تن سره سل ګډې وی او یوه تری ورکه شی نو

ولی هغه به دغه نور یو کم سل صرف تر
هغې په وابنو کښې خوشې پرې نۀ ږدی
تر څو چې یې هغه یوه موندلې نۀ وی؟ او
په هغه وخت به هغه څومره خوشحاله وی او هغه به دا خپلو اوږو ته پورته کړی، او کور ته به لاړ شی چې خپل دوستان او ګاونډیان راغونډ کړی او ورته په چغه ووائی، ما سره په خوشحالئ کښې شریک شئ! ما خپله ورکه ګډه بیا مونده."
عیسیٰ خبری کولی، "او وئی ووئیل چې خدائ پاک هم د خپلو خلقو د پاره دا احساس لری. په آسمان کښې هم په هغه یو ګناهګار سړی کوم چې په عاجزئ سره خدائ پاک ته راشی د هغو یو کم سل کسانو نه زیات خوشحالیږی کوم چې د مخکښې نه د خدائ پاک فرمانبرداری کوی."

پطروس غوښتل چې عیسیٰ نه نور هم د خدائ پاک په باره کښې زده کړي. یوه ورځ هغهٔ د عیسیٰ نه پوښتنه وکړه چې،

"مالکه، کهٔ څوک ماسره غلط سلوک وکړي نو ماته څو ځل هغه معاف کول پکار دي؟ آیا اووهٔ ځل ډیردي؟"

عیسیٰ جواب ورکړو نه پطروسه. "تر هغه پورې یې معاف کوه تر څو دا اووهٔ په اویا ځل شي. او ورته یې ووئیل چې دی مثال ته غوږ شه."

وائي چې یو بادشاه یو ځلې خپلو خادمانو سره حساب راواخستو. په اول سر کښې یو سړے داسې پیښ شو چې د هغهٔ قرضه په لکونو کښې وه، خو د هغه سره هیڅ هم نهٔ وو. نو د هغه مالک دا حکم وکړو چې هغه دې سره د ښځې، اولاد او هر څهٔ

مال حال چې لرې خرڅ کړے شي او
قرض دې ترې پوره کړے شي. سړے د
خپل مالک په پښو پریوتو او وئې ووئیل
چې ماته صبر وکړه، زۀ به ستا ټول قرض پرې
کړم. په مالک د دې خبرې دومره اثر وشو چې
سړے یې پریښودو او قرض یې ورته وبخښو.
خو هر کله چې دا سړے بهر راووتو نو د خپلو
ملګرو خادمانو نه یو خادم په مخه ورغے، په چا
چې د دۀ سل دیناره قرض وو. هغه یې ونیوو،
مرئ ته یې ورله لاس ورواچوو او ورته یې ووئیل
چې څۀ چې زما در پورې دي، هغه راکړه! هغه
ملګرے خادم د دۀ په پښو پریوتو او زارۍ یې ورته
وکړه چې ماته زړۀ لوئ کړه، زۀ به د قرض پرې
کړم. خو هغۀ ونۀ منله او په بندي خانه کښې یې

واچوو تر هغه پـوری چـی قـرض پـری نـهٔ
کړی. خو چی کله بادشاه ته د دی هر څهٔ
پته ولګیده نو ډیـر غصـه شـو. بیـا بادشـاه
هغه سـړے راوبللـو او ورتـه یـی ووئیـل چـی "اے
بدتمیزه! چی کله تا ماتـه زاری وکـړه نـو مـا درتـه
ټول قرض وبخښو. آیا په تا کښی دومـره سـړیتوب
نهٔ وو چی په ملګری خادم دی داسـی رحـم کـړے
وے لکه ما چی په تا وکړو؟ د هغهٔ مالک ډیر غصه
شو او دے یی خپل داروغه ته ترهغی حوالـه کـړو
تر څو چی یی ټول قرض واپس کړے نهٔ وی."
"عیسیٰ ووئیل یاد لرئ، "تر څو چی تاسو یو بل د
زړهٔ نه معاف نهٔ کړئ نو خدائ پـاک بـه هـم تاسـو
معاف نهٔ کړی."
متی ۱۸ : ۷ – ۱۴، ۲۳ – ۳۵ لوقا ۱۵ : ۳ – ۷

والدین:- ځکه چې ابن آدم دِ د پاره راځی
چې ورک شوی پیدا کړی او هغوی ته
خلاصون ورکړی. (متی ۱۸ : ۱۱)

ماشومان:- ۱. آیا تاسو کله هغه څۀ بیا پیدا کړی
دی کوم چې ستاسو نه ورک شوی وی؟
۲. آیا کله چې دا تاسو پیدا کړئ نو تاسو پری
خوشحاله شوی یی؟
۳. آیا خدائ پاک په دی خوشحالیږی چې خلق یو
بل معاف کړی؟

# فضول خرچه زوی

## ورک شوی زوی یا پیدا شو

عیسیٰ غوښتل چې دی خودغرضه فریسیانو ته وښائی چې خدائ پاک ښهٔ خلقو او بدو خلقو دواړو سره مینه کوی. نو عیسیٰ په دی وجه هغوی ته دا مثال بیان کړو.

چې د یو زمیندار سړی دوه زامن وو. یو ورځ کشر زوی د پلار نه د خپلی حصی پیسی وغوښتی. نو پلار هغوی دواړو ته د خپل دولت نه حصی ورکړی.

کشر زوی یی دا پیسی واخستی او یو بل لری وطن ته لاړو. هلته هغهٔ خپل مال په بدچلنئ او دوستانو سره په مختلفو پروګرامونو ضائع کړو. خو یوه ورځ په هغهٔ سخت وخت راغےکله چې د هغهٔ پیسی ختمی شوی. د هغهٔ دوستان د هغهٔ نه لاړل ځکه

چې هغۀ سره پیسې ختمې شوې. نو هغه ډیر وو ږے شو خو د قحط په وجه هغۀ ته ډوډئ نۀ ملاویده. او اوس هغه د یو خیرمار په شان غریب شو.

هغۀ صرف دا کار پیدا کړو چې د کوم زمیندار خنځیران په پټو کښې وڅروی. خو هغه دومره وو ږے شوے وو چې کۀ چرې هغۀ ته زمیندار د خنځیرانو خوراک هم ورکړے وو نو هغۀ به هغه خوراک هم خوړلې وو.

بیا هغه په هوش کښې شو او وئې ووئیل، زما د پلار څومره نوکران د خپل ضرورت نه زیاته ډوډئ لری او زۀ یم چې دلته د لوږې مرم. زۀ به کور ته لاړ شم او خپل پلار ته به ووایم چې په ما رحم وکړه.

نو هغه د پلار کور ته روان وو. خو اوس هغه د خپل کور نه لرې لرې وو چې خپل پلار هغه وکتلو نو پلار يې د هغهٔ سره ملاويدو د پاره رامنډې کړې. او د هغهٔ نه يې لاسونه راچاپيره کړل او ښکل يې کړو. خو زوی ورته ووئيل، "پلاره! زهٔ د خدائ پاک او ستا په مخکښې ګناهګار يم. او زهٔ د دې قابل نهٔ يم چې تهٔ ما ته خپل زوئ ووائې. ما تهٔ د خپلو نوکرانو په شان شماره."

"خو پلار يې خپلو نوکرانو ته ووئيل، زر شئ! زما غوره چوغه راوړئ او دهٔ ته يې ورواغوندئ او ګوته ور په لاس کړئ او څپلئ ور په پښو کړئ. يو څورب سخے راولئ او حلال يې کړئ اؤ رازئ چې خوشحالی وکړو."

خو کله چی مشر زوی د دی هـر څـۀ پـه باره کښی واوریدل نـو هغـه غصـه شـو. او هغۀ خپل ورور تـه پـه کـور کښـی د راتلـو حصه نۀ ورکوله. خو د هغۀ پلار بهر راغلو او هغـه یی پوهه کړو.

"خو مشر زوی ورتـه پـه جـواب کښـی ووئیـل، دا دومره کالونه ما ستا ځـومره تابعـداری کـړی ده او کله می هم ستا د حکم نه مخ نۀ دي اړولـې او تـا ما ته کله هم یو ورغومے قدر نۀ دے راکـړے چـی ما پری خپلو دوستانو ته میلمستیا کړے وے. خـو چی اوس ستا دا زوئ راغے چی ستا ټول جائیـداد یی خرڅ کړے دے نو تـا هغـۀ تـه څـورب سـخے حلال کړو."

پلار ورته جواب ورکړو، "زویه دا زمونږ د
پاره ضروری وو. ځکه چی ستا دا ورور مړ
وو او بیا ژوندې شو، دے ورک وو او بیا
موندے شو."

لوقا ۱۵ : ۱۱ — ۳۲

والدین:- هم په دغه جوړ زۀ تاسو ته وایم چی د یو
ګناه ګار په توبه ګار کیدو د خدائ په
فرښتو کښی هم دغه شان خوشحالی
کیږی. (لوقا ۱۵ : ۱۰)

ماشومان:- ۱. کله چی د هغه سړی کشر زوی د
خپلی برخی پیسی واخستی نو چرته لاړو؟
۲. د هغۀ پلار څۀ وکړل کله چی هغه یی کور ته
واپس په راتلو وکتلو؟
۳. آیا د هغۀ پلار هغه معاف کړو کله چی هغۀ
وکتل چی زوی یی په خپلو کړو ډیر خفه دے؟

## عیسیٰ ژاړی

# د لعزر د مرګ نه بیا ژوندی کیدل

کله چی عیسیٰ د یهودیه نه لری په یو ځائے کښی وو نو هغهٔ ته د خپلو دوستانو مریم او مرتا نه خبر ملاوو شو : چی مالکه ستا خوږ دوست لعزر ډیر بیمار دے. خو هغه یهودیی ته د خپل دوست د مدد د پاره زر راواپس نهٔ شو. او دوه ورځی هغهٔ خلقو ته تعلیم ورکولو او د ځان نه ګیرچاپیره خلقو ته یی شفاګانی ورکولی. نو بیا هغهٔ خپلو مریدانو ته ووئیل، "چی ځئ چی یهودیئ ته واپس لاړ شو." نو مریدانو ورته ووئیل چی "مالکه! څهٔ زیات وخت نهٔ دے شوے چی یهودیانو ستا سنګسار کول غوښتل، نو تهٔ بیا هم هلته ځی څهٔ؟"

خو عیسیٰ جواب ورکړو، "ولې د ورځې دولس ګینټې نۀ دی څۀ؟ کۀ څوک چرې مونږ په ورځ کښې ګرځو نو تیندک به نۀ خورو ځکه چې د دې دنیا رڼا وینو." بیا عیسیٰ خپلو مریدانو ته ووئیل، چې لعزر مړ شوے دے. زۀ هغۀ ته د شفا ورکولو د پاره ځکه لا نۀ ړم ولې چې زۀ غواړم چې تاسو ته د خدائ پاک جلال وښایم چې تاسو پرې ایمان راوړئ."

د ټولې ورځې د سفر نه پس عیسیٰ او د هغۀ مریدان تقریباً بیت عنیاه سره نزدې وو. خو اوس په دې وخت کښې د لعزر د مرګ او د ښخولو څلور ورځې شوې وې.

مرتا بهر راغله چې عیسیٰ سره ملاقات وکړي. بیا هغې عیسیٰ ته ووئیل، "مالکه! کۀ ته دلته وې نو

زما وروور به مړ شوی نۀ وو." بیا عیسیٰ
هغې ته ووئیل چې "ستا وروور به بیا
ژوندے شی."

خو مرتا عیسیٰ ته ووئیل چې "ما ته پته ده چې هغه به بیا ژوندے شی خو د قیامت په ورځ."

خو عیسیٰ هغې ته ووئیل، "زۀ قیامت یم او زۀ ژوندون یم. کۀ څوک په ما ایمان لری کۀ هغه مړ هم شی نو هغه به ژوندے وی. او کۀ څوک چې ژوندے دے او په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نۀ شی. آیا ستا په دې ایمان دے څۀ؟"

مرتا ورته جواب ورکړو، "آو مالکه په دې زما ایمان دے." نو بیا هغې مریم ته آواز وکړو او هغوی د لعزر قبر ته لاړل. او هغوی پسې د هغه خلقو یو ډله هم روانه وه چې د هغوی سره غم رازئ ته راغلی وو.

کله چی عیسیٰ د هغۀ خویندی او دوستان
په ژړا ولیدل نو د هغۀ زړۀ ډیر خفه شو.
او عیسیٰ د هغوی سره وژړل سره د دی
چی هغۀ ته پته وه چی لعزر به ډیر زر بیا ژوندے
شی.

عیسیٰ هغوی ته حکم وکړو چی، "دا ګټه لری
کړئ." د قبر کولاوولو نه مخکښی عیسیٰ داسی دعا
وکړه، "پلاره! زۀ ستا شکر کوم چی تۀ همیشه زما
دعاګانی اوری. او اوس چی دا څومره خلق دلته
دی چی د دوی ټولو باور وشی چی زۀ تا را
استولے یم چی خلقو له ژوند ورکړم."

بیا عیسیٰ په اوچت آواز ووئیل، "لعزره، بهر
راوزه!"

بیا خلقو د قبر دننه آواز واوریدو. خلقو چی کله
لعزر د سر نه تر پښو پوری په کفن کښی پټ بهر
په راوتو وکتلو نو هغوی ټول وارخطا او حق حیران

شـول. چـې دا حقيقـت دے چـې لعـزر ژوندے او روغ دے.

او په هغـه ورځ د مـريم ډيـرو دوسـتانو پـه مسيح ايمان راوړو.

يوحنا ۱۱ : ۱ — ۴۴

والدين:- په دِ حيرانيږئ مۀ ځکه چې يو داسې وخت راتلونکے دے چې هغه ټول څوک چې په قبرونو کښې دی به د دۀ آواز اؤری او وړاندی به راځی.

(يوحنا ۵ : ۲۸ — ۲۹)

ماشومان:- ۱. د لعزر د دواړو خويندو څۀ نومونه وو؟

۲. کله چې د قبر نه ګټ لرې کړے شو نو عيسیٰ څۀ ووئيل؟

۳. چا لعزر ژوندے کړو؟

## عیسیٰ په خر سور دے

# د یروشلم په ښار ژړا

کله چې د فسح د اختر وخت شو نو عیسیٰ او د هغهٔ مریدان بیت عنیاه ته راغلل. هغوی لاړل چې مرتا او مریم او د دوی ورور لعزر چې عیسیٰ د مړونه ژوندے کړے وو سره ملاو شي. هغوی ټولو د ماښام ډوډئ ښهٔ په مزه وخوړله چې مرتا تیاره کړی وه. او د هغوی د پاره دا معلومول ډیر مشکل وو چې هغوی به عیسیٰ ډیر زر پریږدی.

خو مریم محسوس کړه چې عیسیٰ خفه دے. نو هغې د قیمتی عطرو بوتل راواخستو او د عیسیٰ په پښو یې واچول. او بیا هغې د عیسیٰ پښې په خپلو لویو ویښتو وچې کړې.

دا د عیسیٰ د پاره څومره د آرام سبب وو!
ځکه چې صرف یو کس لږ پوهه شو چې
کله د عیسیٰ د مرګ وخت رانزدی وو نو
هغه څنګه وو. بیا هغۀ خپلو مریدانو ته ووئیل چې، "مریم زۀ د خپل ښخولو د پاره مسح کړم." د مریم د مینې دا قیصه اوس هم په دنیا کښې ایمانداران هم داسې یادوی لکه څنګه چې عیسیٰ د هغې په باره کښې ووئیلی وو.

بله ورځ چې کله عیسیٰ یروشلم ته تللو نو هغۀ خپل مریدان یو نزدی کلی ته ورولیږل چې د چا نه یو ځوان کوچے د لږ وخت دپاره راولئ او بیا به یې ورته ورکړئ.

مریدانو عیسیٰ ته خر راوستو. په دې خر د دې نه مخکښې هیچا هم سورلی نۀ وه کړې خو عیسیٰ پرې کیناستو او د یروشلم طرف ته روان شو.

عیسیٰ دا د دی د پاره وکړل چې د هغۀ په باره کښې هغه زړه پیشن ګوئی پوره شي. کومه چې پینځه سوه کاله مخکښې حضرت زکریا نبی داسې کړې وه، "چې یروشلم ته ووایه چې ستا بادشاه په عاجزئ سره په څوان خر سور راروان دے."

د ټول ملک نه ډیر خلق یروشلم ته د فسح د اختر د پاره راجمع شوی وو. او کله چې هغوی ته پته ولګیده چې عیسیٰ راروان دے نو هغوی د هغۀ استقبال ته په خوشحالئ لاړل او د هغۀ د خر مخې ته یې کپړې وغوړولې او د کجورو څانګې یې ورته کیښودلې. او هغوی بیا بیا دا چغې وهلې چې، "مبارک دے د اسرائیلو راتلونکے بادشاه چې د رب په نامه راځي!" او په هغه خلقو کښې ډیرو

د عیسیٰ مسیح ثناء ووئیله ځکه چی عیسیٰ هغوی ته شفا ورکړی وه.

د دی هرڅهٔ په وجه په مریدانو کښی نوی اُمید راوچت شو. او هغوی فکر وکړو چی اوس کیدے شی چی عیسیٰ د تاج بادشاه شی. خو خر ولی اودریدو؟

هغوی هغهٔ ته په حیرانتیا نیغ نیغ کتل. او عیسیٰ د یروشلم ښار ته کتل او ژړل یی.

"بیا عیسیٰ ژړل او داسی ئی ووئیل چی، "اے د یروشلم ښاره د تل امن په تا کښی وو. خو دا هر څهٔ تا اولټه کړل او اوس وخت تیر شو." ځکه چی ما څومره غوښتل چی ستا بچی ځان ته داسی راغونډ کړم لکه چی چرګه خپل بچی د خپلو وزرو لاندی راغونډوی، خو تهٔ به ما داسی کولو ته پری نهٔ ږدی."

متی ۲۱ : ۱ — ۹؛ مرقوس ۱۱ : ۱ — ۱۰؛
لوقا ۱۹ : ۲۹ — ۴۳؛
یوحنا ۱۲ : ۱۲ — ۱۹؛
حضرت زکریا ۹ : ۹

والدین:- اے دروازو! خپل سرونه اوچت کړئ. اے د تل دروازو! اوچتی شئ.چی د جلال بادشاه درننوزی. (زبور ۲۴ : ۷)

ماشومان:- ۱. مریم عطر په کوم ځائے واچول؟
۲. په کوم ځناور عیسیٰ سورلی وکړه؟
۳. چا د یروشلم په خلقو ژړا وکړه؟

# آخری مابنام

## د مینې آخری کلام

عیسیٰ غوښتل چې یو خاموشه ځائے پیدا کړی چې خپلو مریدانو سره آخری د فسح اختر مناو کړی. نو عیسیٰ پطروس او یوحنا ته ووئیل چې، "د یروشلم ښار ته لاړ شئ او هلته یو داسې سړے وګورئ چې د اوبو منګے ورسره وی. تاسو په هغهٔ پسې د هغهٔ کور ته ځئ او هغه به تاسو ته هلته پاس یوه لویه کمره وښائی. او هلته به تاسو د فسح روټئ تیاره کړئ."

هم هغه وخت یهوداه چې په مریدانو کښې یو وو په پټه مشر کاهن ته ورغلو. او هغهٔ ته یې ووئیل چې، "تاسو به ما ته څومره پیسې راکړئ چې زهٔ د عیسیٰ په نیولو کښې ستاسو مدد وکړم؟" مذهبی

مشر چې کله دا هر څۀ د عیسیٰ په مریدانو کښې د یو نه واوریدل نو هغه ډیر خوشحاله شو. او هغوی یهوداه سره وعده وکړه چې هغوی به هغۀ ته دیرش د سلورو سکې ورکړی.

زر د فسح ډوډۍ تیاره شوه او هغوی ټول د یو میز نه ګیرچاپیره کیښناستل. بیا عیسیٰ ووئیل چې، "د ډیر مخکښې نه ما د دی وخت په ډیر شوق سره انتظار کولو." "او زۀ غواړم چې زما د زحمتونو نه مخکښې زۀ داسې یو ډوډۍ بیا تاسو سره وخورم."

اګرکۀ عیسیٰ د خپلو مریدانو سره مینه کوله خو په دغه شپه د هغۀ زړۀ درونـد وو. د ډوډۍ په وخت کښې عیسیٰ هغوی ته ووئیل چې، "په تاسو کښې

به یو کس زما دشمنانو ته زما مخبری وکړی!" په دی ووئیلو مریدان غمژن شول او خپلو کښی یی یو بل ته وکتل. او هغوی یو یو کس د عیسیٰ نه پوښتنه وکړه چی، "آیا زهٔ هغه یم؟" عیسیٰ هغوی ته جواب ورکړو، "دا هغه څوک دے چی چا ته به چی زهٔ دا ډوډئ په ترکارئ کښی د وهلو نه پس ورکوم." څنګه چی هغهٔ دا ووئیل نو بیا یی هغه ډوډئ یهوداه اسکریوتی ته ورکړه. او عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل، "چی هغه هر څهٔ زر وکړه کوم چی تهٔ کوونکے یی."

بیا یهوداه په هغه توره شپه کښی لاړو کومه چی د هغهٔ د زړهٔ په شان توره وه. د هغهٔ د پاره د هغه چمکدارو پیسو اخیستلو انتظار کول ډیر مشکل وو.

په هغه شپه عیسیٰ د یهودیانو هغه زوړ د فسح اختر په نوی یعنی د مالک د ماښام په نوم بدل کړو. هغۀ اول ډوډۍ نیمه کړه او خپلو مریدانو ته یی ورکړه. او ورته یی ووئیل چی، "دا ډوډۍ وخورئ ځکه چی دا زما بدن دے."

بیا عیسیٰ د مئیو پیاله واخیسته. او هغۀ ووئیل چی، "دا مئ اوڅکئ ځکه چی دا زما هغه ژوندئ وینه ده چی د ډیرو خلقو د ګناهونو د پاره به تویه شی. او دا زما د یاد د پاره بیا بیا کوئ. او زۀ به بیا دا مئ تر هغه پوری ونۀ څښم ترڅو چی یی تاسو سره د خپل پلار په بادشاهئ کښی بیا وڅښم."

ځنګه چې آخری ماښام ختم شو، نو مریدانو په آخری ځل خپل مالک عیسیٰ[1] سره په یو ځائې حمد او سندره ووئیله.

متی ۲٦ : ۱۷ — ۳۰؛ مرقوس ۱۴ : ۱۲ — ۲٦؛ لوقا ۲۲ : ۷ — ۲۳؛ یوحنا ۱۳ : ۲۱ — ۳۰

والدین:- زمونږ هم د فسح د ګډوری، یعنی د مسیح قربانی وشوه.

(اول کورنتیان ۵ : ۷)

ماشومان:- ۱. څومره د سلورو سکی یهوداه ته ملاو شوی؟

۲. د مالک په ماښام هغوی څۀ وخوړل؟

۳. هغوی څۀ وڅښل؟

# په آسمان کښې کورونه

## د عيسیٰ آخرۍ دُعا

د آخرى ماښام نه پس عيسیٰ خپلو مريدانو سره ډير وخت خبرى وکړى. هغۀ غوښتل چې هغوى د هغه وخت د پاره تيار کړى کوم چې په هغوى راتلونکے وو. "بيا عيسیٰ هغوى ته ووئيل چې تاسو به په ما داسې ايمان لرئ لکه څنګه چې تاسو په خدائ پاک لرئ،" او بيا هغۀ هغوى ته ووئيل چې، "زۀ به ډير زر تاسو پريږدم. خو کله چې زۀ د مرګ نه پس بيا ژوندے شم نو تاسو سره به په ګليل کښې ملاؤ شم. ويريږئ مۀ او مۀ مايوسه کيږئ کۀ هر څۀ تاسو ته هر څومره ګډوډ ښکاره شى."

عیسیٰ خبرې کولې چې، "کله زۀ خپل پلار ته واپس لاړ شم نو زۀ تاسو سره وعده کوم چې تاسو به يوازې نۀ پرېږدم. زما پلار به روح القدس دې د پاره راولېږى چې تاسو ته آرام درکړى. اګرکۀ هغه به تاسو ته نۀ ښکارى خو بيا هم هغه به د صداقت په لاره ستاسو رهنمائى کوى. روح القدس به د هغه څيزونو په يادولو کښې ستاسو مدد کوى کوم چې ما تاسو ته ښودلى دى. هغه به تاسو ته تسلى هم درکوى کله چې تاسو ته زما حکمونه منل سخت شى."

عیسیٰ هغوى ته ووئيل چې، "زۀ به تاسو د پاره په آسمان کښې ښکلى ځايونه تيار کړم. او يو ورځ به بيا راشم او تاسو به خپل کور ته بوځم. تاسو ته د دې هر څۀ پته ده."

خو توما ورته ووئیل چی، "مالکه! مونږ ته دا نهٔ ده معلومه چی تهٔ چرته روان یی، نو مونږ د دی لاری نه ځنګه خبریدے شو؟" عیسیٰ هغهٔ ته جواب ورکړو، "زهٔ د خدائ پاک طرف ته لار یم. او هم زهٔ یوازی د زمکی نه آسمان ته پُل یم. او هیڅوک هم خدائ پاک ته د دی پُل نه بغیر نهٔ شی رسیدلے."

د دی نه وروستو عیسیٰ هغوی ته په مینی سره ووئیل چی، "د تللو نه مخکښی به زهٔ تاسو ته د خپل امن تحفه درکړم. دا امن د دنیاوی امن په شان نهٔ دے. زما امن به سخت او مشکل وختونو کښی تاسو مضبوط او خوشحاله ساتی."

بیا عیسیٰ ډیره ښائسته دعا وکړه. هغهٔ خپلی سترګی آسمان ته پورته کړی او ویی ووئیل، "اے

مقدس پلاره، ما دوی ته ستا په باره کښې هر څۀ ووئيل. دوی د شیطان د اختیـار او حملو نه اوساته. دوی د خپل صـداقت پـه وسيله پاک او مقدس کړه. زۀ صـرف د دوی د پـاره دعا نۀ کوم څـوک چـې اوس مـا سـره دی بلکـه د هغوی ټولو د پاره هم دعا کوم څوک چې د اوس نه تر د دنيا آخره پورې په ما ايمان لرى."

کله چې عيسىٰ مريدانو سره خبرې ختمې کړې نـو هغوی په شپه کښې روان شول. هغوی د قيدرون په خوړ کښې پورې وتـل او د ګتسمنى بـاغ تـه لاړل. هلته عيسىٰ په جوش سـره دعـا وکـړه خـو د هغـۀ مريدان اودۀ وو.

يوحنا ۱۴ — ۱۷

والدین:- خو یقیناً هغه بیا هم زمونږ
زحمتونه او غمونه په خپل ځان واخیستل.
(یشعیاه ۵۳ : ۴)

ماشومان:- ۱. عیسیٰ ځهٔ ووئیل چی هغه چرته روان دی؟
۲. عیسیٰ اوس چرته دی؟
۳. عیسیٰ د هغوی د پاره ځهٔ تیاروی ځوک چی هغه سره مینه کوی؟

# د ګتسمنی په باغ کښی شپه

## د مخبر د عیسیٰ نه ښکلول

عیسیٰ او د هغهٔ مریدان د ګتسمنی باغ ته راغلل. هغوی ټول ډیر ستړی وو. عیسیٰ پطروس، یعقوب او یوحنا ته ووئیل چې ماسره نزدی اوسئ ځکه چې زما زړهٔ ډیر دروند دے."

بیا عیسیٰ یو څو قدمه وړاندی لاړو او په زمکه پریوتو. او د هغهٔ زړهٔ د غمه ډک وو. او په ډیر جوش سره یی دا دعا وکړه چی، "اے پلاره! ستا د پاره هر څهٔ ممکن دی. دا د مصیبت پیاله له ما نه لری کړه، داسی نه لکه چی زهٔ یی غواړم، داسی لکه چی تهٔ یی غواړی." او په دغه وخت کښی یوه فرښته د آسمان نه رانازله شوه، چی یی مضبوط کړی. او چی سخت عذابیدو نو لا یی هم

په جوش کښې دعا وکړه او د هغهٔ خوله د وینو د څاڅکو په شان په زمکه څڅیدله.

په دې وخت کښې چې عیسیٰ ته د خپلو مریدانو ضرورت وو نو هغوی په درونـد خـوب اودهٔ وو. عیسیٰ هغوی دوه ځله پاڅول خو هغوی به بیا زر اودهٔ شول. آخر عیسیٰ هغوی ته ووئیـل، "چـې آیا تاسو ماسره صرف د یو ګینټې د پاره هم نهٔ شئ بیداریدے؟" بیا عیسیٰ هغوی ته ووئیل، "چې بس دے اوس تاسو پاڅئ ځکه چـې زمـا مخبـر نـزدې راغلے دے چې ما ونیسی."

ناڅاپه مریدانو د خلقو د خپو او د تورو د شرنګیدو آواز واوریـدو. بیـا هغـوی پرکیـدونکې سـتورې د لالټینونو او مشعلونو په رڼا کښې ولیـدل. د یهـودی کاهنانو، فوجیانو او مشرانو ډله د هغوی طرف تـه

راروانـــه وه. او د دی ډلـــی نـــه یهـــوداه مخکښی راوان وو!

یهوداه د عیسیٰ طرف ته لاړو او هغـه یـی ښکل کړو. خو بیا عیسـیٰ هغـهٔ تـه پـه نرمـئ سـره ووئیل چـی، "یهـوداه! تـهٔ د ابـن آدم مخبـری پـه ښکلولو کوی څهٔ؟"

بیا عیسیٰ د هغه ډلی نه پوښتنه وکړه چی، "تاسـو څوک لټـوئ؟" هغـوی ورتـه ووئیـل چـی، "عیسـیٰ ناصری. عیسیٰ جواب ورکړو، "هغه زهٔ یم." څنګـه چی هغهٔ دا ووئیل نو هغوی ټول په زمکـه پریوتـل. خو اوس هـم عیسـیٰ د تښـتیدو کوشـش ونـهٔ کـړو. عیسـیٰ هغـوی تـه صـرف دا ووئیـل چـی، "زمـا شاګردان به نهٔ ګرفتاروئ. "

خو کله چی مریدانو دا وکتل نو د عیسیٰ
نه یی پوښتنه وکړه چی، "مونږ د خپلو
تورو نه کار واخلو؟" او په دی ووئیلو سره
پطروس په تیزئ سره خپله توره راویستله او د مشر
کاهن د نوکر ښی غوږ یی پری کړو.
خو عیسیٰ هغهٔ ته ووئیل چی، "خپله توره کیږده.
څوک چی توره چلوی په تورو مری." بیا عیسیٰ د
هغه سړی په غوږ لاس کیښودو او هغه ته یی شفا
ورکړه. کومه آخری معجزه چی عیسیٰ وکړه په
هغی کښی عیسیٰ د خپلو دشمنانو سره مینه ښکاره
کړه.

متی ٢٦ : ٣٦ – ٥٢؛ مرقوس ١۴ : ٣٢ – ۴٣؛
لوقا ٢٢ : ٣٩ – ٥١؛ یوحنا ١٨ : ١ – ١١

والدین:- بلکه زما د زړۀ سره نزدی دوست
چې زما پرې باور وو او چې زما روټئ یی
خوړلی وه هغۀ اوس زما خلاف خپه اوچته
کړه. (زبور ۴۱ : ۹)

ماشومان:- ۱. چا د عیسیٰ په باغ کښې ښکل کړو؟
۲. چا د کاهن د نوکر غوږ پرې کړو؟
۳. چا د هغۀ غوږ ته شفا ورکړه؟

# عیسیٰ گرفتار کړے شو

## ازمائښت د دروغو د شهادتونو په وسیله

د عیسیٰ د نیولو منصوبه آخر کامیابه شوه. خو په دی کولو یهوداه ته ځان ډیر خوار ښکاره شو او پښیمانه وو چی آیا ما دومره بد کار وکړو؟ بیا هغه واپس هیکل ته لاړو چی کاهنان وګورئ. هغۀ هغوی ته ووئیل، "ما ګناه کړی ده چی یو بیګناه سړے می تر مرګه رارسولے دے." خو هغوی ورته ووئیل چی "زمونږ پری څۀ؟ تۀ پوه شه او کار دی پوه شه."

بیا یهوداه په مایوسئ سره هغه دیرش سکی په زمکه وویشتلی. او بهر لاړو او ځان یی پانسی کړو.

بیا هغه ډلی عیسیٰ حنا او کیفا تـه بوتلـل
چی مذهبی مشران وو. هغه هلته بـی یـاره
او یوازی الزام لګونکو کاهنانو او فریسـیانو
کښی ولاړ وو. هغوی د هغهٔ نه ځومره نفـرت کولـو
خو بیا هم همیشـه هغـه د هغـوی فخـر وو، خـو د
هغهٔ ایمان او ښهٔ والے هغوی ته ارزان او ناپاکـه وو.
خو اوس آخر هغوی د هغهٔ نه خلاص شول.
اګرکهٔ عیسیٰ ډیر ستړے وو خو خلقو هغه آرام تـه
پری نهٔ ښودو. هغوی د هغهٔ په مخ توکاڼی وتوکـل.
هغوی د هغهٔ سترګی تړلـی وی او پـه سـر بـه یـی
وهلو. "بیا به یی تـری نـه پوښـتنه کولـه چـی چـا
ووهلی." او نوری تهوقی یی هم ورپوری کولی.
په دغه وخت کښی پطروس هم هلته خپـل ځـان د
اور نزدی ګرمولو. اول یو نزدی سړی او بیا یـو بـل

کس دا ښکاره کړه چې پطروس د عیسیٰ
مرید دے. او دواړه ځله پطروس د عیسیٰ
د پیژندلو نه انکار وکړو. خو په دریم ځل
چې هغهٔ نه چا تپوس وکړو چې تهٔ عیسیٰ پیژنې
نو هغه غصه شو. او په ښیرو سرشو او قسمونه یې
وخوړل چې "زهٔ دا سړے نهٔ پیژنم."

بیا چرګ اذان وکړو او عیسیٰ پطروس ته نیغ وکتل.
او دی سره پطروس ته د عیسیٰ هغه خبره یاده
شوه چې ووئیلی یی وو چې "د چرګ د بانګ نه
اول به تهٔ زما نه دری ځله انکاری شی." هغه بهر
ووتو او په چغو چغو یی وژړل.

چې سحر شو نو یهودی مشرانو عیسیٰ د پیلاطوس
عدالت ته بوتلو چې ګورنر وو. او هغوی په عیسیٰ
دا الزام ولګولو "چې دا سړے خلق ګمراه کوی." او

خلقو تـه وایـی چـی رومـی حکومـت تـه
محصـول مـۀ ورکـوئ. او هـم د بادشـاهئ
دعویٰ کوی!" او نورو خلقو هم چغی وهلـی
او په هغۀ یی قسم قسم الزامونه لګول.

پیلاطوس زر په یهودیانو پوه شو چی هغوی عیسیٰ سره کینه لری او په دی وجه یـی عیسـیٰ راوستے دے. هغۀ پـه احتیـاط سـره د عیسـیٰ نـه پوښـتنی وکړی او هغۀ په عیسیٰ کښی څۀ جرم ښـکاره نـۀ کړو. په حقیقت کښی عیسـیٰ د یهودیـانو نـه ډیـر مهذب ښکاره کیدو.

خو پیلاطوس به څۀ کړی وو؟ ځکه چی خلق او د هغـوی چغـی شیبه پـه شـیبه زیاتیـدی. او هغـوی چغی وهلی، "چی دے پـه سـولئ وخیـژوئ او مـړ یی کړئ."

متی ٢٦ : ٢٧ — ٢٧ : ٣٢؛

مرقوس ١۴ : ٥٣ — ١٥ : ٢١؛

لوقا ٢٢ : ٦٣ — ٢٣ : ٢٦؛

یوحنا ١٨ : ١٩ — ١٩ : ١٥

والدین:- څکه چی د خدائ د مرضئ په مطابق غم داسی توبه راپیدا کوی چی د هغی انجام خلاصون دے او په هغی پښیمانه کیدل نشته، خو د دنیا غم مرګ پیدا کوی.

(دویم کورنتیان ٧ : ١٠)

ماشومان:- ١. چرګ سحر وختی څۀ کوی؟

٢. د هغه ګورنر نوم څۀ وو؟

٣. څۀ چی د هغه ډلی خلقو ووئیل آیا هم هغسی عیسیٰ سره وشول؟

# عیسیٰ مسیح په سولۍ شو

## تیره شوی عظیمه ورځ

پیلاطوس نهٔ پوهیدو چې هغه څهٔ وکړی. هغهٔ نهٔ غوښتل چې یو بې ګناه سړے مجرم کړی. د دې نه بغیر هغهٔ ته خپلې ښځې هم پیغام راولیږلو چې "دې بې‌ګناه سړی ته ګورے هیڅ ونهٔ وائی ځکه چې بیګاه په ما د دِ په وجه په خوب کښې ډېر مصیبت تیر شو."

خو د وینې تږی ډلې دا چغې وهلې چې، "دے په سولۍ کړئ! دے په سولۍ کړئ!" او هغوی ټولو دا چغې وهلې چې "برابا آزاد کړئ!" یهودیانو د دې پرواه نهٔ لرله چې برابا یو ثابت شوے مجرم دے. خو هغوی ته پته وه چې پیلاطوس عموماً په دې وخت کښې یو قیدی آزادوی. نو هغوی

غوښتل چې يو قاتل يا بل څوک دی آزاد کړے شی خو عيسیٰ دی آزاد نۀ کړے شی.

په پريشانئ سره پيلاطوس د خلقو په وړاندی خپل لاسونه ووينځل. او وئی ووئيل چې "زۀ د دی سړی د مرګ زمه وار نۀ يم." اوس هغۀ يو ځل بيا د عيسیٰ د بچ کولو کوشش وکړو. او هغۀ خپلو فوجيانو ته حکم وکړو چې عيسیٰ په کوړو ووهئ. بيا هغوی عيسیٰ په دهيکه روان کړو او هغۀ ته يی د ازغو تاج او چوغه واچوله او په لاس کښی يی ورته يوه چوکه ورکړه. بيا پيلاطوس هغه د يهوديانو وړاندی په دی سوچ راوستو چې هغوی به د عيسیٰ مسيح جامی او مخ په وينو وګوری نو په عيسیٰ به هغوی رحم وکړی نو پيلاطوس هغوی ته ووئيل چې "دی سړی ته وګورئ!"

خو د هغه ډلې نه صرف دا آواز راوچتيدو.
"دے مړ کړئ او په سولئ يې کړئ!"
آخر پيلاطوس ويريدو. او هغوی ته يې اجازت ورکړو چې عيسیٰ د ښار نه بهر ګولګتی نومې ځائے ته بوځئ او هلته يې په سولئ کړئ.
اګرکهٔ عيسیٰ دومره په سختئ کښې وو خو بيا يې هم د خپلو دښمنانو نه نفرت نهٔ کولو. او هغهٔ داسې دعا وکړه، "اے پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چې هغوی نهٔ پوهيږی چې څهٔ کوی."
په دغه ورځ د عيسیٰ دواړو طرفونو ته دوه غلهٔ هم هغهٔ سره په سولئ کړے شوی وو. په غلو کښې يو عيسیٰ ته پيغور ورکړو، "کهٔ تهٔ مسيح يې نو خپل ځان او مونږ هم بچ کړه!" خو هغه دويم ورته ووئيل چې، "مونږ خو د مرګ د سزا لايق يو خو دا سړے بې‌ګناه دے." او عيسیٰ ته ورتاو شو او

خواست یی تری وکړو چی، "اے عیسیٰ!
هر کله چی تهٔ خپلی بادشاهئ ته راشی نو
ما یاد کړه"

نو عیسیٰ هغهٔ ته زر جواب ورکړو، "زهٔ تا ته دا رښتیا وایم چی تهٔ به نن ما سره په جنت کښی یی!"

د غرمی په وخت کښی په ټوله دنیا کښی تیارهٔ خوره شوه. عیسیٰ نوری دری ګینټې هم زحمت تیر کړو. د مرګ نه لږ ساعت مخکښی هغهٔ یو د فتحی چغه ووهله. "چی پوره شوه!" او په زمکه د هغهٔ کار ختم شو. او اوس هغه ټوله دنیا د ګناه او د شیطان د ګرفت نه آزادولے شی.

کله چی عیسیٰ ساه ورکړه نو ناڅاپه زمکه په خوزیدو شوه، د خدائ پاک د کور پرده په مینځ دوه ټوټی شوه، او ډیر قبرونه کولاؤ شول. او کوم

صوبه دار چی دا هـر څـهٔ ولیـدل نـو وئـی ووئیل چی، "یقیناً دے د خدائ پاک زوی وو!"

متی ۲۷ : ۲۹ — ۴۴؛ مرقوس ۱۵ : ۱٦ — ۲۸؛ لوقا ۲۳ : ۲٦ — ۴۳؛ یوحنا ۱۹ : ۱۷ — ۲۹

والدین:- او د هغهٔ د زوی عیسیٰ وینه مونږ د هر یو گناه نه پاکوی.(اول یوحنا ۱ : ۷)

ماشومان:- ۱. عیسیٰ په کوم ځائے کښی په سولئ کړے شو؟

۲. څو سړی په سولئ کړے شوی وو؟

۳. عیسیٰ ولی مړ شو؟

# عیسیٰ بیا ژوندے شو

## په یو جلالی سحر

د عیسیٰ وفادارو دوستانو د څۀ فاصلی نه د عیسیٰ صلیب ته کتل. د بیوسئ او مایوسئ په حالت کښې هغوی د عیسیٰ چغې ساعت په ساعت اوریدلی. دا یو زړۀ ماتونکے وخت وو چې د هغوی په وړاندی د هغوی مالک مړ شو! یقیناً نن ورځ د خدائ پاک قهر کوم چې د ګناه خلاف وو د هغۀ په خپل کامل زوی باندی واچولے شو او دا د انسان په تاریخ کښې د ټولو نه سخت وخت وو. آیا عیسیٰ صرف هم په دغه هفته یروشلم ته په بهادرئ سره د خلقو وړاندی راغلو؟ خو اوس په دی څلیرش ګینټو کښې په هغه باندی مخبری وشوه، د هغۀ عدالت وشو، هغه مجرم کړے شو او

هغه مصلوب هم شو. نور هلته څۀ وو چې
د هغې د پاره ژوندے پاتې شي؟

د مصلوب کيدو په مازيګر دوه شريفان سړی چې نومونه يې يوسف او نيکوديمس وو دواړه سولئ ته راغلل. هغوی په ښکاره د عيسیٰ تابعداری نۀ کوله ځکه چې هغوی د يهودی مشرانو نه ويريدل. دی دواړو سړو چې عيسیٰ سره يې مينه کوله د عيسیٰ د پښو او لاسونو نه هغه ميخونه راوويستل کوم چې د هغۀ په پښو او لاسونو هغو خلقو ټک وهلی وو چا چې د عيسیٰ نه نفرت کولو. بيا هغوی د عيسیٰ لاش په خوشبوداری مهينه لټه کښې ونغښتو. او بيا هغوی هغه په يو نوی قبر کښې ښخ کړو.

بله ورځ څۀ کاهنان او فريسيان پيلاطوس ته لاړل. او وئې ووئيل چې "صاحبه! مونږ ته ياد دی چې

هغه فریبی چی لا ژوندے وو نو ووئیلی
یی وو چی زۀ به په دریمه ورځ بیا ژوندے
(پورته کړے) شم. بیا هغوی هغۀ ته ووئیل
چی ته دا حکم وکړه چی تر دریو ورځو دی د
هغه قبر څوکیداری وشی. هسی نه چی د هغۀ
مریدان راشی، او لاش یی په غلا وباسی او بیا
خلقو ته وائی چی هغه بیا ژوندے (پورته کړے)
شوے دے، او آخری فریب به یی د وړومبی
فریب نه هیر بد وی. نو په دی وجه پیلاطوس
حکم وکړو چی شپه او ورځ دی د قبر څوکیداری
وشی.
په بله ورځ سحر وختی یو لویه زلزله راغله او د
عیسیٰ قبر یی وخوزولو. او بیا یوه ستړګی
بریښونکی رڼا په فوجیانو او ولاړو څوکیدارانو
باندی وپرقیده. دا یوه آسمانی فریښته وه چی مخ
یی لکه د بریښنا ځلیدو او جامی یی لکه د واوری

سپینی وی. څوکیداران یی په لیدو د ویری
نه ورپیدل او لکه د مړو په شان پریوتل.
هغی فریښتی هغه کاڼی د قبر نه لری کړو
او پری کیناسته. او بیا عیسیٰ په یو لوی قدرت او
جلال کښی د مرګ نه پاڅیدو او په تیارۀ کښی د
سترګو نه پناه شو.

هم په دی وخت کښی دری ښځی چی نومونه یی
سلومی، مریم مګدلینی او یوه بله مریم وه هغوی
هم د قبر طرف ته راروانی وی. هغوی ویریدی کله
چی یی فریښته ولیده. خو فریښتې هغوی ته په
نرمۍ سره ووئیل چی، "د څۀ نه ویریږئ مه،
تاسو عیسیٰ ناصری لټوئ څوک چی په سولۍ
شوی وو. هغه بیا ژوندے (پورته کړے) شوے
دے، هغه دلته کښی نشته. زر لاړ شئ او د هغۀ
مریدانو ته دا پیغام ورکړئ."

هغوی د هلته نه په رپیدو او د خاموشئ
په حالت کښې په منډه روانې شوې. او د
هغوی زړونه د ویرې او لوئې خوشحالئ
دواړو نه ډک وو.

متی ۲۷ : ۵۵ — ۲۸ : ۱ — ۱۰؛
مرقوس ۱٦ : ۱ — ۱۴؛ لوقا ۲۴ : ۱ — ۴۹؛
یوحنا ۲۰ : ۱ — ۲۳

والدین:- خو د قدوسیت د روح په مطابق له مړو نه
د بیا ژوندی کیدو په وسیله هغه په قدرت
سره د خدائے زوئ اظهار شو، یعنی
زمونږ مالک عیسیٰ مسیح. (رومیان ۱ : ۴)

ماشومان:- ۱. چا د قبر څوکیداری کوله؟
۲. چا د قبر نه کاڼے لرې کړے وو؟

## ۳. فرېښتې ښځو ته څهٔ ووئیل؟

# شکی توما

## بغیر د کتلو نه په عیسیٰ باندی د ایمان لرلو فضیلت

مریم، سلومی او مریم مګدلینی په منډه لاړی چی پطروس او یوحنا پیدا کړی. او هغوی پطروس او یوحنا ته ووئیل چی، "کله مونږ قبر ته راغلو نو یوه فرښته دلته وه. او هغی مونږ ته ووئیل چی عیسیٰ ژوندے شوے دے!"

آیا دا رښتیا دی؟ بیا زر پطروس او یوحنا د قبر طرف ته منډه کړه خو یوحنا اول هلته ورسیدو. هغه بهر ودریدو او دننه یی وکتل. بیا پطروس د هغهٔ پسی راورسیدو او سیدها قبر ته ننوتو. هغوی وکتل چی کفن په خپل ځائے پروت دے. نو وئی ووئیل چی کهٔ یقیناً د هغه لاش چا پټ کړے وو

نو کېږه به يې هم ورسره ورې وه. بيا هغوی د قبر نه لاړل.

مريم مګدليني قبر ته واپس لاړه. هغه هلته ناسته وه او ژړل يې چې په دې کښې يې په قبر کښې دننه دوه فريښتې ناستې وکتلې.

فرښتو د هغې نه پوښتنه وکړه چې "اے ښځې! ته ولې ژاړې؟" مريم هغوی ته ووئيل چې، "ماته نۀ ده پته چې زما مالک چرته دے."

د دې خبرو نه پس چې مريم مخ راواړولو نو عيسیٰ هلته ولاړ وو، خو د هغې خيال دا وو چې دا کوم مالي دے. عيسیٰ د هغې نه پوښتنه وکړه "چې تۀ ولې ژاړې؟" نو هغې ورته ووئيل چې، "صاحبه، کۀ چرې تا مړے د دې ځائے نه وړے دے نو ما ته دا ووايه چې هغه د کوم ځائے ښخ کړے دے."

بيا عيسىٰ هغې ته ووئيل چې، "مريمې!" هغې هغهٔ ته په خوشحالئ مخ وروګرزوو او وئې ووئيل، "ربونی!" يعنی استاذه!"

مريدانو هغه ټوله شپه د بندو دروازو په شا تيره کړه ځکه چې هغوی د يهوديانو نه ويريدل. چې ناڅاپه عيسىٰ د هغوی په مينځ کښې ظاهر شو. هغهٔ هغوی ته ووئيل، "په تاسو دې سلامتيا وی!" نو هغوی چې کله عيسىٰ وليدو نو ډير خوشحاله وو.

خو په دغه شپه په مريدانو کښې يو مريد چې نوم يې توما وو هغه نهٔ وو. نو چې کله هغه راغلو نو مريدانو هغهٔ ته حال ووې، "چې مونږ مالک وليدو! هغه په رښتيا د مړو نه بيا ژوندے شوے دے!"

خو توما ووئيل چې "تر څو چې ما د هغهٔ په لاس د ميخونو سورې ليدلې نهٔ وی، او خپلې ګوتې مې

پرى نۀ وى لګولى په کوم ځائے کښى چى
ميخونه ټک وهلى شوى وو او خپل لاسونه
د هغه په پوښتئ ونۀ لګوم نو زۀ به دا
يقين ونۀ کړم."

يو هفته وروستو مريدان بيا يو ځائے راجمع شول. دا ځل توما په هغوى کښى موجود وو. ځنګه چى هغوى ټولو وکتل نو عيسىٰ بيا د هغوى په مينځ کښى ولاړ وو.

عيسىٰ بيا د مخکښى په شان ووئيل، "په تاسو دى سلامتيا وى." بيا عيسىٰ سيدها توما ته وکتل او ورته يى ووئيل، "خپلى ګوتى دلته کيږده او زما لاسونه ووينه او خپل لاس وړاندى کړه او زما په پوښتئ يى ولګوه او نور شک مۀ کوه خو يقين وکړه."

په حیرانتیا سره توما اقرار وکړو او وئې ووئیل، "زما مالکه او زما خدایه!" "عیسیٰ هغۀ ته ووئیل، په دې چې تا زۀ ولیدم نو ایمان دې راؤړو. بختور دی هغوی چې زۀ یې نۀ یم لیدلے او ایمان راؤړی."

یوحنا ۲۰ : ۱ – ۳۱

والدین:- په دے حالت کښې چې د کوم امید چې مونږ اقرار کوو هغه امید به ټینګ ونیسو ځکه چې خدائ په خپل لوظ پوره کولو کښې وفادار دے. (عبرانیان ۱۰ : ۲۳)

ماشومان:- ۱. کومو دوو سړو قبر ته منډې کړې؟

۲. په باغ کښې بی‌بی مریم څوک وکتل؟

۳. کوم مرید د هغۀ په بیا ژوندی کیدو باور نۀ لرلو؟

# د اماؤس په لاره باندی

## د مسیح د حضور ښکاره کیدل

د مسیح دوه مریدان د یروشلم نه اووۀ میله لری اماؤس کلی ته خپل کورونو ته روان وو. هغوی په دی خفه او پریشانه وو. چی آیا عیسیٰ باندی څۀ چل وشو؟ ځکه چی څۀ خلق وائی چی د عیسیٰ لاش پټ کړے شوے دے. څۀ ښځو د هغو فرښتو په باره کښی څۀ عجیبه قیصی کولی کومو چی هغوی ته ووئیلی وو چی عیسیٰ ژوندے دے. چا به ووئیل چی کوم اولیاء ډیر مخکښی ښخ کړے شول نو بیا به هغوی د یروشلم په کوڅو کښی ګرځیدل.

چی هغوی په خپلو کښی یو بل سره په دی بحث کولو نو عیسیٰ هم پخپله راغے او د دوی سره شو خو هغوی عیسیٰ ونۀ پیژندلو. نو عیسیٰ د هغوی نه

تپوس وکړو چی "تاسو په خپلو کښی په څۀ بحث کوئ چی تاسو پری خفه یی؟"

کلیوپاس د هغۀ نه پوښتنه وکړه "چی د دی مطلب دا دے چی تا هیڅ نۀ دی اوریدلی؟" "داسی ښکاری چی تۀ په دی علاقه کښی مسافر یی. زمونږ مالک عیسیٰ یو ډیر زورآور نبی وو خو هغه خلقو مرګ ته په حواله کړو. خو زمونږ دا طمع وه چی هم دا هغه سړے دے چی اسرائیلیانو له به خلاصون ورکړی. خو اوس زمونږ امید ختم شو!" خو دی یو څو ورځو کښی دی نه یوه عامه واقعه جوړه شوی ده.

نو بیا عیسیٰ هغوی ته جواب ورکړو چی "اے ناپوهه خلقو او د نبیانو په ټولو خبرو ایمان راوړلو ناراسته زړونو! ولی تاسو د هغه هر څۀ نه نۀ یی خبر چی پیغمبرانو د مسیح په باره کښی لیکلی

دی؟ چی عیسیٰ به ضرور د هغه ګناه د
پاره مړ شی کومه چی هغهٔ نه ده کړی.
هغه په دی وجه د خلقو د ګناهونو په بدل
کښی مړ شو چی په هغوی کښی امن راشی او
معافی ورته ملاو شی."
د دی نه پس عیسیٰ هغوی ته د مقدس کتاب د
پیدایښت د کتاب نه تر ملاکی تعلیم شروع کړو.
هغهٔ هغوی ته دا تعلیم داسی تشریح کړو چی
مسیح به وعذابولی شی، مړ به کړے شی او بیا به
د هغوی د بادشاه کیدو نه مخکښی ژوندے شی.
په دی خبرو کولو کښی هغوی اماؤس ته ورسیدل.
بیا کلیوپاس د میلمستیا ښودلو په وجه هغه مسافر
(عیسیٰ) ته د ډوډئ دعوت ورکړو. کله چی عیسیٰ
په روټئ باندی د خدائ پاک برکت وغوښتو نو
ناڅاپه هغوی دواړو هغه وپیژندو چی څوک دے.

خو هم هغه ساعت هغه د هغوی د نظر نه غائب شو.

بیا کلیوپاس او د هغهٔ دوست خپله لوګه او ستوماني هیره کړه او واپس یروشلم ته روان شول. هغوئ خپلو کښې یو بل ته ووئیل، "چې دا څهٔ عجیبه نهٔ وه چې کله عیسیٰ مونږ سره په لاره خبرې کولې نو زمونږ په زړونو کښې جوش راوچت شو!" او په یروشلم کښې هغوی هغه نور یولس مریدان ولیدل.

بیا دې دواړو هغوی ته ووئیل چې "دا ربښتیا دی چې مالک پاڅیدلے دے!" کله چې دوی دا خبرې کولې نو عیسیٰ بیا د هغوی په مینځ کښې راڅرګند شو. او عیسیٰ هغوی ته په نرمئ سره ووئیل چې، "په تاسو دې سلام وی." د عیسیٰ په بیا لیدو مریدان ډیر خوشحاله وو!

لوقا ۲۴ : ۱۳ — ۴۹؛

مرقوس ۱٦ : ۱۲ — ۱۳

آیین:- او کۀ چری مسیح نه وو راژوندے شوے نو ستاسو ایمان بی فائدی دے او تاسو هم هغه شان په خپلو ژړو ګناهونو کښې راګیر یئ.

(اول کورنتیان ۱۵ : ۱۷)

ماشومان:- ۱. کلیوپاس او د هغۀ دوست ولی خفه وو؟

۲. کله چی هغوی اماؤس ته تلل نو څوک ورسره ملګری شو؟

۳. څوک مړ شو چی د هغی په وجه مونږ ته امن او معافی ملاو شوه؟

## لوئې خدمت

# د انجيل زيرے ورکول

اوس دا هغه وخت راغلو چې مريدان د يروشلم نه ګليل ته لاړ شي. ځکه چې د قبر سره هغه فرښتو هغوی ته ووئيلي وو چې عيسیٰ به تاسو سره هلته ملاو شي. خو څۀ مريدانو اوس هم په دې باور نۀ لرلو چې عيسیٰ د مړو نه ژوندے شوے دے. خو کله چې عيسیٰ راښکاره شو نو د هغوی ټولو هغه سرکشي او بې‌يقيني ختمه شوه.

نو بيا عيسیٰ د هغوی ذهنونه روښانه کړل چې په صحيفو پوهه شي. عيسیٰ هغوی ته ووئيل چې، "هغه هر څۀ رایاد کړئ څۀ چې ما تاسو ته ووئيلي وو؟" عيسیٰ هغوی ته ووئيل چې ما تاسو ته ووئيلي وو چې د حضرت موسیٰ په شريعت

کښې، د نبیانو په صحیفو کښې او په زبور کښې هر څۀ چې زما په حقله لیکلے شوی دی، هغه به ضرور پوره کیږی. ځکه چې د دی کتاب لیکونکو داسی پیشن گویانی کړی وی چې مسیح به زحمت وزغمی او په دریمه ورځ به له مړو نه بیا ژوندے پاځی. او دا یی هم لیکلی دی چې زما د نوم په وجه به د خلقو زړونه بدل شی او گناهونه به یی معاف شی.

بیا عیسیٰ هغوی ته ووئیل چې، "اوس تاسو لاړ شئ او د ټولی دنیا خلقو ته زما د خلاصون زیرے ورکړئ." "هر څوک چې په دی ایمان راوړی او بپتسمه واخلی نو هغه به خلاصون بیا مومی، هر څوک چې پری ایمان رانۀ وړی هغه به مجرم شی. او خلقو ته دا تعلیم هم ورکړئ چې هغوی دی په

هغه ټولو خبرو عمل کوی کومی چی ما ورته د کولو حکم کړے دے. او دا هم یاد ساتئ چی زۀ به تاسو سره تل تر تله د دنیا تر آخره پوری یم. او څنګه چی زۀ پلار راستولی یم نو داسی زۀ هم تاسو استوم."

عیسیٰ هغوی ته دا هم ووئیل "چی د ایمان په راوړلو به د خلقو نه دا معجزی څرګندیږی چی زما په نوم به پیریان لری کوی او په نا آشنا ژبو به خبری کوی. او کۀ هغوی مارانو ته لاسونه وروړی یا زهر وخوری نو هغوئ ته به ضرر نۀ رسی، او هغوی چی په کومو بیمارانو لاسونه کیږدی نو هغوی به جوړ شی. او زۀ د هغوی د حفاظت وعده کوم څوک چی په ما په رښتیا ایمان لری."

آخر عیسیٰ په مریدانو خپل روح پوه کړو او هغوی ته یی ووئیل چی، "روح القدس حاصل کړئ." هم داسی خدائ پاک په اولنی انسان یعنی حضرت آدم کښی هم د ژوندی کیدو د پاره ساه اچولی وه. د ژوند په دی روحانی ساه عیسیٰ خپل مریدان د لوئ کار د کولو د پاره تیارول. عیسیٰ غوښتل چی د هغۀ د آسمان ته د تلو نه وروستو مریدان د هغۀ د خلاصون زیرے خلقو ته ورسوی. او هغه اوس هلته د هغوی د پاره ابدی کورونه جوړوی څوک چی د هغۀ سره مینه کوی او د هغۀ په حکمونو عمل کوی.

متی ۲۸ : ۱٦ — ۲۰؛ مرقوس ۱٦ : ۱۴ — ۱۸؛

لوقا ۲۴ : ۴۴ — ۴۹

والدین:- بختور دی هغوئ چی زۀ یی نه یم لیدلے خو ایمان راوړی.

(یوحنا ۲۰ : ۲۹)

ماشومان:- ۱. مریدان دِ چا له د خلاصون زیری ورکړی؟

۲. آیا عیسیٰ د همیشه د پاره د خپلو مریدانو سره د کیدو وعده وکړه؟

۳. آیا عیسیٰ اوس هم د خپلو خلقو حفاظت کوی؟

# د عیسیٰ آخری ملاقات او آسمان ته ختل

## او څلویښت عجیبه ورځې

د عیسیٰ د ژوندی کیدو نه پس څلویښت ورځې عیسیٰ په مختلفو ځایونو کښې په مختلفو ورځو خپلو دوستانو ته ښکاره شو. خو هغهٔ صرف هغه خلقو ته ځان څرګند کړو چا چې په هغهٔ ایمان لرلو. او څوک چې د هغهٔ نه نفرت کوی هغوی به په زمکه دوباره هیڅ کله هم عیسیٰ ونهٔ ګوری.

په دی وخت کښې د عیسیٰ په ژوندی کیدو کښې د چا دومره نور شک نهٔ وو. اګرکهٔ هغه به په بندو دروازو کښې تیریدو او د نظر نه به ډیر زر غائبیدو خو یقیناً هغه پیرے نهٔ وو. د هغهٔ دوستانو هغهٔ ته لاسونه وروړی وو. او د دریاب په غاړه یې

ماهیګیرو سره کب او ډوډئ هم خوړلی وه. یو ځل هغهٔ د پینځو سوو ایماندارانو ډلی ته ځان څرګند کړو چی د غرهٔ په لمنه کښی راغونډ شوی وو.

نن د دنیا په کلینډر کښی دری خاص ورځی دی : یعنی کرسمس، ګوډفرائیډے او ایسټر. د دی ورځو مطلب دعیسیٰ پیدایښت، مړ کیدل او د مرګ نه بیا ژوندی کیدل دی.

د عیسیٰ مسیح د مصلوب کیدو په وخت کښی داسی ښکاریدو چی خدائ پاک خپل قدرت استعمال نهٔ کړو. خدائ پاک عیسیٰ د دومره خطرناک او دردناک مرګ نه بچ نهٔ کړو. مریدان اوس هم کمزوری وو او د یهودیانو نه ویریدل. خو د عیسیٰ د ژوندی کیدو نه پس په څلویښت ورځو

کښې عیسیٰ خپلو مریدانو ته نوی ځیزونه وښودل. مریدانو د عیسیٰ نه په انسانی ویری د غالب کیدو قدرت حاصل کړو. او هغوی د جنګونو په وجه نه بلکه د خدائ پاک د مینی په قدرت ډیر مضبوط او آزاد شول.

یو ورځ عیسیٰ خپلو مریدانو ته د زیتون په غرهٔ باندی وعظ کولو چی بیتنی ته نزدی وو. هغهٔ ووئیل چی، "زهٔ به ډیر زر د خپل پلار کور ته لاړ شم،" " او دی نه پس به بیا ما تاسو ونهٔ ګورئ. خو تاسو اول په یروشلم کښې او بیا په ټوله دنیا کښې زما ګواهان یی. او تاسو خلقو ته زما د پیروئ کولو تعلیم ورکړئ."

بیا عیسیٰ هغوی ته ووئیل چی، "په یروشلم کښې تر هغه وخته پوری اوسئ ترڅو چی زهٔ تاسو ته

روح القدس راولیږم." "هغه به په صحیح لاره ستاسو رهنمائی کوی او تاسو ته به قوت، حکمت او تسلی درکړی."

بیا عیسیٰ خپل لاسونه اوچت کړل چې خپلو مریدانو ته برکت ورکړی. بیا ناڅاپه هغوی وکتل چې عیسیٰ پاس آسمان ته اوچتیږی او هغه اوچتیدو او بیا په وریځو کښې غائب شو. مریدانو هغهٔ ته تعجب سره کتل. هغوی به څومره غوښتل چې عیسیٰ هغوی سره په زمکه د همیشه د پاره پاتې شی.

د دی نه پس دوه سړی هغوی سره په پړقیدونکو جامو کښې راغلل او اودریدل. او فرښتو بیا د هغوی نه پوښتنه وکړه چې، "تاسو ولی آسمان ته ګورئ؟" بیا هغوی مریدانو ته ووئیل چې، "هم دا

عیسیٰ چی په کومه لاره وختلو یو ورځ بـه بیا هم په دی لاره راځی."

بیا مریدان په خوشحالئ سره یروشلم تـه واپس لاړل. بیا هغوی تر هغه پوری په هیکل کښی د خدائ پـاک ثنـاء ووئیلـه تـر څـو چـی هغـوی د روح القدس د نازلیدو انتظار کولو.

متی ۲۸ : ۱٦ — ۲۰؛ مرقوس ۱٦ : ۱۵ — ۱۸؛

لوقا ۲۴ : ۴۹ — ۵۳؛

اعمال د رسولانو ۱ : ۸ — ۱۱

والدین:- او کۀ هلته زۀ لاړ شم او تاسو ته ځائ تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو

په د ځان سره بوزم، ځکه چی چرته چی
زۀ یم هلته به تاسو هم یئ.

(یوحنا ۱۴ : ۳)

ماشومان:- ۱. عیسیٰ مریدانو سره د خبرو کولو نه
پس چرته پورته کړے شو؟
۲. هغوی هغه چرته په ختو ولیدو؟
۳. اوس عیسیٰ چرته دی؟ آیا هغه به بیا راځی؟

## د پینتیکاست په ورځ

## خدائ پاک روح القدس راولیږلو

اوس عیسیٰ په آسمان کښې خپل کور کښې دے. د هغهٔ مریدانو هغه ښکاره آسمان ته په ختلو او بیا په وریځو کښې په غائبیدو کتلے وو. اګرکهٔ مریدان خفه وو کله چې عیسیٰ لاړو خو مایوسه نهٔ وو. هغوی د عیسیٰ په آخری حکم فکر وکړو. چې هغهٔ ورته ووئیلی وو چې، "یروشلم ته واپس لاړ شئ او هلته د روح القدس د نازلیدو انتظار وکړئ." او زهٔ به تاسو ته قوت او قدرت درکړم چې تاسو زما ګواهان شئ.

دا هر څهٔ د مریدانو د پاره بلکل نوی وو. او هغوی دا سوچ کولو چې هغوی ته به څنګه قوت ورکړے شی؟ او روح القدس څوک دے؟ خو د دی باوجود

چې هغوی په دې هر څۀ نۀ پوهېدل خو
بیا یې هم د عیسیٰ د حکم تابعداري وکړه.

بیا په یروشلم کښې یو سل او شل ایمانداران په یو کور کښې راغونډ شول. هلته هغوی لس ورځې د زړۀ په یوالي سره دعاګانې او عبادتونه کول. او هغوی په ډېر شوق د هغه روح القدس په انتظار وو د کوم چې هغوی سره عیسیٰ وعده کړې وه.

ناڅاپه هغوی په هغه کور کښې لکه د تیز طوفان په شان درُوند آواز واورېدو. بیا هغوی وکتل چې د اور شغلې د هغوی په سرونو باندې کیناستې. خو د دې اور شغلو دوی ته څۀ نقصان ونۀ رسولو. بلکه د دې په وجه هغوی د آسماني روح القدس نه داسې معمور شو څنګه چې عیسیٰ هغوی ته

ووئیلی وو! او د دی روح القدس په وجه
هغوی کښی خاص خاصیتونه پیدا شول.

دا خاص خاصیتونه څۀ وو؟ خدائ پاک دا خاصیتونه ډیر زر د مریدانو په وسیله ښکاره کړل. د دی نه مخکښی هغوی ډیر کمزوری او ویریدونکی وو. خو اوس هغوی د خپل مالک په باره کښی چپ نۀ شو پاتی کیدلی. په هیکل کښی هغوی یوه لویه عبادت کونکی ډله وکتله چی د تقریباً اتلسو ښارونو او ملکونو نه په کښی خلق راغلی وو.

خلقو په غور سره د مریدانو خبرو ته غوږ نیولے وو. هغوی ډیر حیران وو ځکه چی هغوی ټولو هغه هر څۀ په خپلو خپلو ژبو کښی اوریدل. دا یوه معجزه وه! ځکه چی مریدانو په هغو ژبو خبری کولی

کومی چی هغوی کله نهٔ وی زده کړی! بیا
ډیرو خلقو د خدائ پاک ثناء ووئیله.

په هغه ورځ پطروس وښودل چی
روح القدس هغه څومره بدل کړے دے. یوه هفته
مخکښی هغهٔ د عیسیٰ نه انکار کړے وو خو اوس
هغه یو آزاد او نهٔ ویریدونکے تعلیم ورکوونکے دے.
د هغهٔ د عیسیٰ د خلاصون او فضل په باره کښی
تعلیم دومره اثرناک او طاقتور وو چی دری زره
خلقو توبه وویستله او ایمانداران هم شول.
او داسی د روح القدس په قدرت د عیسایانو کلیسا
پیدا شوه.

اعمال د رسولانو ۱ : ۸ — ۱۴، ۲ : ۱ — ۳۶

والدین:- او د دی نه وروستو به زۀ په هر یو ژوندی بشر باندی روح القدس رانازل کړم. (یوایل ۲ : ۲۸)

ماشومان:- ۱. کوم یو مرید د ټولو نه زیات اثرناک تعلیم ورکړو؟

۲. په هغه ورځ څومره کسان ایمانداران شول؟

۳. آیا روح القدس اوس هم د خلقو مدد کوی؟

# ستفانوس - اولنی شهید

## ځلیدونکے ګواه

د روح القدس حاصلولو نه پس مریدانو ډیرو خلقو ته په آزادئ سره د عیسیٰ د خلاصون د زیری تعلیم شروع کړو. او په داسی کولو ډیر خلق په یروشلم کښی ایمانداران شول.

په دوی کښی یو تکړه وعظ کونکے ستفانوس وو. اګرکۀ هغه نوے غوره شوے وو خو هغۀ بیا هم په ډیر لوئ قدرت سره دا وعظ وکړو. او دا یی خلقو ته واضحه کړه چی، "د عیسیٰ زیرے صرف د یهودیانو د پاره نۀ دے بلکه د هغوی ټولو د پاره دے څوک چی په هغۀ ایمان لری." د ستفانوس دا خواهش وو چی غیر یهودیان خلق هم ایمانداران وبللے شی په باوجود د دی کۀ ډیر یهودیان د هغوی سپکاوی هم وکړی.

کله چې یهودیانو ستفانوس سره بحث وکړو نو هغوی د هغهٔ خبری برداشت نهٔ کړے شوی. هغهٔ خلقو ته په کلکه ووئیل چې واقعی عیسیٰ مسیح وو. خو په دی هغوی غصه شول ځکه چې هغوی د عیسیٰ نه نفرت کولو. نو په دی وجه هغه خلق د ستفانوس خلاف شول. هغوی هغه ونیولو او د جرگې وړاندی یی راوستو.

هغوی د دروغو گواهئ تیری کړی او وئی ووئیل چې "دا سړے د شروع نه د خدائ پاک د دی کور او د حضرت موسیٰ د شریعت په خلاف خبری کوی. ځکه چې مونږ د دهٔ نه دا خبری آوریدلی دی چې هغه عیسیٰ ناصری به دا د خدائ پاک کور وران کړی او حضرت موسیٰ چې مونږ ته کوم رسمونه راکړی دی هغه به بدل کړی." یقیناً خو دا

رښتیا نهٔ وو. هغوی د هغهٔ کلام داسی بدل کړو لکه څنګه چی هغوی د عیسیٰ بدل کړے وو. په حقیقت کښی دا هر څهٔ هم په یو ځائے کښی پیښ شول.

بیا په جرګه کښی ناستو خلقو هغهٔ ته نیغ نیغ وکتل او د هغهٔ مخ ورته د فرښتی د مخ په شان ښکاره شو. هغه لکه د عیسیٰ په شان خپلو دښمنانو ته په مینی سره ځلیدو.

بیا مشر کاهن د هغهٔ نه پوښتنه وکړه، "آیا دا الزامونه رښتیا دی؟"

بیا ستفانوس هغوی ته د یهودیانو زوړ تاریخ را شروع کړو. او هغوی ته یی دا واضحه کړه چی، "یهودی قومونو مخکښی هم په مختلفو دورونو کښی د خدائ پاک د رالیږلے شوو رهبرانو د خبرو د اوریدلو نه انکار کړے وو." "او اوس تاسو د

خدائ پاک زوئ عیسیٰ مسیح هم رد کړو او
مړ مو کړو چې د ټولو نه لوئ نبی وو!" بیا
د جرګې خلق په دې خبره ډیر غصه شول
او په غصه کښې یې هغۀ ته غابښونه چیچل. بیا
ستفانوس د روح القدس نه معمور شو او د آسمان
طرف ته یې وکتل او ویې ووئیل، "ګورئ! آسمان
پرانستے دے او زۀ ابن آدم د خدائ پاک په ښی
لاس ولاړ وینم!"

په دې یهودیانو په زوره چغې کړې او خپل
غوږونه یې بند کړل. بیا هغوی په هغۀ ورمنډې
کړې، او هغه یې د ښار نه بهر وویستو چې
سنګسار یې کړي.

چې کله تیرۀ کاڼو د هغۀ بدن زخمی او خوږ کړو.
نو هغه په زنګنونو شو او په زوره یې چغه کړه،

"مالکه! دوی په دی ګناه مۀ نیسه!" او دی
ووئیلو سره یی ساه ورکړه.
اعمال د رسولانو ٦ — ٧

والدین:- دا هغه کسان دی چی د لوئ تنګسیا نه
راغلی دی، هغوی خپلی جامی د ګډوری
په وینو وینځلی او سپینی کړی دی.
(مکاشفه ٧ : ١۴)

ماشومان:- ١. یهودیانو ستفانوس ولی په کاڼو
وویشتو؟
٢. آیا ستفانوس یهودیانو ته غصه شو؟
٣. آیا ستفانوس د هغوی د پاره دعا وکړه؟

# فیلیپوس او حبشی خواجه

## د اوږی زړهٔ جواب

د ستفانوس د سنګساریدلو نه پس ډیر زر ټول ایمانداران لکه د مجرمانو په شان وربرولے شول. دا ټولی حملی ساؤل نومی سړی په دوی باندی کولی ځکه چی هغه یو کلک فریسی وو. ساؤل سوچ کولو چی د دی دهوکا بازانو په ختمولو هغه خدائ پاک خوشحالوی. د هغه په فرمان ټول ایمانداران ښځی او سړی په جیلونو کښی واچولے شول. ډیر عیسایان د یروشلم نه لری لری ځایونو ته وتښتیدل.

په دی وخت کښی د ستفانوس یو شاګرد چی نوم یی فلیپوس وو سامریی ته لاړو. هلته هغهٔ ډیرو خلقو ته وعظ وکړو. د عیسیٰ په نوم هغهٔ ډیرو شلو

او ګډو خلقو ته شفا ورکړه. په ښار کښې لویه خوشحالی وه.

هم په دی ښار کښې یو بل سړے هم وو چې نوم یی شمعون وو. د ډیر وخت نه هغهٔ خلق خپل ځان ته په جادو راړولی وو. هغوی دا دعوىٰ کوله چې هغه د خدائ پاک لوئ قدرت دے. خو د فلیپوس د تعلیم په وجه شمعون او د هغهٔ ډیر مریدان ایمانداران شول.

شمعون په فلیپوس او پطروس کښې د روح القدس قدرت وکتلو، چې د فلیپوس مدد یی کولو. شمعون د دی قدرت حاصلولو د پاره هغوی ته پیسې وړاندی کړی.

خو پطروس ورته ووئیل چې، "ستا پیسې دی تا سره غرقې شی ځکه چې ستا دا خیال وو چې د خدائ پاک بخښنه په بیعه خرڅیږی! خو ستا زړهٔ

د خـدائ پـاک خـوښ نـۀ دے. او د دی مکارئ په وجه تۀ ضرور د خدائ پـاک نـه معافی وغواړه.

بیا د خدائ پاک فرښتی فلیپوس ته ووئیـل چـی د دی مصروف ښار نه په هغه سـړک لاړ شـه چـی د صحرا طرف ته تللے دے. هغۀ هلته په ټانګه کښی یو سړی ته وعظ وکړو. دا سړے حبشی خواجـه وو او د کنداکی ملکی لوئ عهدیدار او د هغی د ټولی خزانـی واکمـن وو. بیـا هـم دی سـړی د ریښـتونی خدائ پاک په باره کښی اوریدلی وو او په دی وجه یروشلم ته راغلے وو چـی هلتـه د ریښـتونی خـدائ پاک عبادت وکړی. او اوس هغه کورتـه واپـس روان وو. هغـه پـه خپلـه ټانګـه کښـی ناسـت وو او د حضرت یشعیاه نبی صحیفه یی په زوره لوسته.

بیا فلیپوس هغهٔ ته نزدی ورغلو او پوښتنه
یی تری وکړه چی، "تا چی څهٔ ولوستل
آیا تهٔ په دی پوهیږی؟"

حبشی ورته جواب ورکړو، "چی زهٔ پری څنګه پوهیدے شم تر څو یی چی څوک راته تشریح ونهٔ کړی؟" هغهٔ د خدائ پاک د هغه خادم په باره کښی لوستل څوک چی مړ شو او لکه د یو بی‌ګناه ګډوری په شان حلال کړے شو.

بیا فلیپوس هغهٔ ته د عیسیٰ په باره کښی دا خبری وکړی، چی هم عیسیٰ د خدائ پاک ګډورے دے، څوک چی د ټولی دنیا د ګناهونو د پاره مړ شو.

"ګوره! دلته اوبهٔ هم شته، نو ما اوس د پپتسمه آخستلو نه څهٔ شے منع کولے شی؟"

فیلیپوس ووئیل "کۀ تۀ د زړۀ ایمان لری نو
بیا یی آخستے شی." نو بیا فیلیپوس هغۀ
ته بپتسمه ورکړه او بیا حبشی خواجه کور
ته په خوشحالئ سره روان شو.

اعمال د رسولانو ۸ : ۴ — ۴۰

والدین:- صحیفه وائی چی : ((هر څوک چی په
هغۀ ایمان لری، هغه به شرمولے نه شی.))
(رومیان ۱۰ : ۱۱)

ماشومان:- ۱. فرښتو فیلیپوس ته څۀ ووئیل چی
چرته لاړ شه؟
۲. هغه حبشی خواجه په څۀ کښی سور وو؟
۳. هغۀ د مقدس کتاب کومه سیپاره لوستله؟

# د ساؤل بدلیدل

# د خدائ پاک غوره کړے شوے منونکی

ساؤل د ترسوس د ښار یو روښانه ځوان یهودی وو. هغه یو فخر کونکی فریسی وو او هغه په یروشلم کښی د یو مشهور استاد ګملائیل سره سبق ووئیلی وو. کله چی هم ساؤل څۀ کړی وو هغه بلکل صحیح کړی وو.

کله چی خلقو ستفانوس په کانړو ویشتو نو ساؤل هم هلته موجود وو. د هغۀ یقین وو چی د عیسیٰ په باره کښی کوم نوے وعظ کیږی دا بلکل غلط دے. نو په دی وجه هغۀ نه چی په یروشلم کښی د کلیسا ختمولو د پاره څۀ کیدل نو وئی کړل. د دی نه وروستو هغۀ فیصله وکړه چی په هغه ایماندارانو حمله وکړی کوم چی په خوا او شا علاقو کښی

پټ وو. هغهٔ غوښتل چې هغوی ونیسي،
وئی تړی او واپس یې یروشلم ته د سزا د
پاره راولی.

بیا ساول د مشر کاهن په اجازت خپل کسان را یوځائے کړل. او هلته نه د اتو ورځو په سفر دمشق ته روان شو کوم چې د سائریا دارالخلافه وه. هغوی لا په لاره وو او دمشق ته ورنـزدی وو چې ناڅاپه له آسمان نه یوه رڼا د هغوی نه ګیرچاپیره وځلیده. هغه رڼا دومره تیزه وه چې ساول په زمکه پریوتو او بالکل ړوند شو. او بیا هغهٔ یو آواز واوریدو چې "ساوله! ساوله! تهٔ ما ولې ربړوې؟"

ساول د هغهٔ نه تپوس وکړو، "مالکه! تهٔ څوک یې؟"

جواب راغے چې "زهٔ عیسیٰ یم چې تهٔ ما او زما مریدان ربړوې!"

بیا ساول په حیرانتیا او ویری سره د هغۀ
نه پوښتنه وکړه "مالکه! تۀ ما باندې څۀ
کول غواړې؟"

مالک ورته جواب ورکړو چې، "ښار ته لاړ شه او تا ته به وښیلے شي چې تا ته څۀ کول پکار دي."

نو ساول د یهوداه کورته بوتللے شو. هغۀ درې ورځې هلته نۀ څۀ وخښل او نۀ څۀ وخوړل خو صرف د مالک نه یې د رهنمائۍ د پاره په شوق سره دعا وغوښتله. بیا یو خاص رویا کښې خدائ پاک ساول ته وښودل چې یو سړے به ستا د مدد د پاره راشي.

هم هغه وخت یو مرید چې نوم یې حننیاه وو هغه هم مالک په رویا کښې ولیدو. مالک هغۀ ته ووئیل چې ساول سره د یهوداه په کور کښې ملاو شه او

په هغهٔ خپل لاس کیښوده. په حقیقت کښې حننیاه نهٔ غوښتل چې هلته لاړ شي ځکه چې هغهٔ ته پته وه چې ساول ایماندارانو ته ډیر تکلیفونه ورکړی دی. خو د هغهٔ په مالک باندې ایمان وو نو ځکه هغه هلته لاړو. او څنګه چې حننیاه په ساول خپل لاسونه کیښودل نو ورته یې ووئیل چې، "زما وروره ساوله! مالک عیسیٰ چې په تا په لارې پیښ شوے وو، هغهٔ زهٔ تا ته په دې غرض راستولے یم چې ستا نظر بیا روغ شي او تهٔ په روح القدس معمور شې."

داسې سمدستي د ساول نظر واپس راغلو هر څهٔ ورته بیا ښکاره شول! نو بیا هغه پاڅیدو او بپتسمه یې واخیستله. او داسې ساول چې یو خاص سړے وو د مالک عیسیٰ یو حلیم او خاکساره خادم شو.

داسی ډیر زر د هغهٔ نوم د ساول نـه بـدل
شو او پولوس شو چی مطلب یی "ورکـوټے"
دے.

اعمال د رسولانو ۹ : ۱ — ۲۰

والدین:- آزمیښت وکړئ او وګورئ چی خدائ پاک
څنګه مهربان دے. بختور دی هغه خلق
چی په هغهٔ باندی توکل کوی.
(زبور ۳۴ : ۸)

ماشومان:- ۱. ساول دمشق ته د څهٔ د پاره روان
وو؟
۲. دمشق ته د رسیدو نه مخکښی په ساول څهٔ
چل وشو؟
۳. هغهٔ ته چا آواز وکړو چی "ساوله، ساوله؟"

# د پطروس رویا

## د ټولو د پاره خلاصون

یوه ورځ چی پطروس په یافا کښی وو، نو هغه په یو کور کښی پاس د چت د پاسه وختو چی هلته دعا وکړی. نو هغهٔ پاس په کوټه یو رویا ولیده. هغهٔ په آسمان کښی یو چونډے ولیدلو او څهٔ ګوری چی یو څیز چی د یو لوئ څادر په شان دے ښکته راکوزیږی چی په څلورو ګوټونو راځوړند او مزکی ته راښکته کیږی. په هغی کښی هر قسم حلال او حرام ځناور، چینجی او د هوا مارغان وو. په زړه عهد نامه کښی ووئیلی شوی دی چی حرام څیزونه ونهٔ خورئ.

بیا یو آواز راغے، "پاڅۀ، پطروسه! حلال یی کړه او وئی خوره!"

پطروس ډیر ورېږے وو خو هغۀ ورته ووئیل چی "نه مالکه! نه! ما هیڅ کله هم حرام او ناپاک څیز نۀ دے خوړلے." داسی دری ځل وشول او بیا هغه څادر دوباره آسمان ته پورته کړے شو. خو پطروس لا په هغه رویا فکر کولو چی روح القدس هغۀ ته ووئیل چی "دری سړی دلته ستا په لټون دی. نو بیا هغه زر لاندی راکوز شو او هغوی سره ملاو شو. هغه سړو هغۀ ته ووئیل، "چی مونږ د خدائ پاک نه ویریدونکی رومی چی نوم یی کورنیلیوس دے هغۀ رالیږلی یو چی تا راپیدا کړو." بیا پطروس هغوی ته د شپی د پاتې کیدو دعوت ورکړو. د

پطروس اراده دا وه چی هغه به دوی سره
صبا د نورو شپږو سړو واپس لاړ شی.

کله چی دوی د کورنیلیوس کور ته راورسیدل نو هلته د مخکښی نه د خلقو یو لویه ډله راجمع شوی وه. بیا پطروس هغوی ته ووئیل چی "تاسو ته ښۀ پته ده چی زما د پاره د یو غیر قومی سړی کور ته داسی ننوتل په یهودی شریعت کښی ناروا دی. خو خدائ پاک ماته په رویا کښی وښودل چی مونږ ته نۀ دی پکار چی خپل ځان د بل چا نه ښۀ وګڼو. او زۀ تاسو نه دا پوښتنه کوم چی تاسو ولی ما پسی راغلی وئی؟"

نو کورنیلیوس ورته ووئیل چی "څلور ورځی مخکښی زما روژه وه او عبادت می کولو چی په

دی کښی یو سپینو پړقیدونکو جامو والا سړے زما په وړاندی ودریدو. او ما ته یی ووئیل چی تا پسی څوک واستوم او ستا د پیدا کولو د پاره یی راته پته هم راکړه. نو اوس مونږ ټول په ډیری مینی دلته رایوځائے شوی یو چی ستا نه د خدائ پاک کلام واورو."

پطروس هغوی ته ووئیل چی "په حقیقت کښی خدائ پاک نۀ د یو خاص قوم طرفدار دے او نۀ صرف یهودیان د هغۀ خاص خلق دی. خو هغه خلق چی څوک هغه څۀ کوی څۀ چی صحیح وی او د خدائ پاک په وړاندی په عاجزئ سره ځی نو هغوی به خلاصون حاصل کړی."

بیا پطروس هغوی ته د عیسیٰ قیصه وکړه.

هغهٔ هغوی ته ووئیل چې عیسیٰ غواړی چې هر څوک کهٔ یهودی وی او کهٔ غیر یهودی خو چې په هغهٔ ایمان راوړی هغه به خلاصون بیا مومي.

کله چې پطروس تعلیم ورکولو نو چا چې د هغهٔ تعلیم واوریدو هغوی ټول د روح القدس نه معمور شول. او دا د یهودیانو د پاره یو ثبوت شو چې غیر یهودیان هم په یو حقیقی کلیسا کښې حصه لری.

اعمال د رسولانو ۱۰ : ۱ — ۳۸

والدین:- نو دلته په یهودی او په غیر یهودی کے هیڅ فرق نشته ځکه چی هم دغه یو خدائ د ټولو مالک دے او د هر چا د پاره چی هغه ته زاری کوی، غنی دے.

(رومیان ۱۰ : ۱۲)

ماشومان:- ۱. پطروس چرته وو کله چی هغۀ رویا وکتله؟

۲. هغه څادر چی د ځناورو نه ډک وو د چرته نه رابنکته شوی وو؟

۳. هغۀ خلقو ته څۀ ووئیلے شول څوک چی یهودیان نۀ وو؟

# پطروس په جيل کښې

## د فرښتې په مدد آزاديدل

په ټول فلسطين کښې ډير خلق ايمانداران کيدل. او زحمتونه د څۀ وخت د پاره ودريدل او ټولې کليساګانې ډيرې خوشحاله وې.

خو بيا هيروديس بادشاه ته پته ولګيده چې په ايماندارانو د ظلم کولو په وجه يهودى رهبران هغه ډير خوښه وى. هغه د حضرت يعقوب رسول په وژلو ډير مشهور وو. نو په دې وجه بادشاه پطروس هم مجرم کړو. هغه په خپلو فوجيانو پطروس د فسح د اختر په ورځ ګرفتار کړو او په جيل کښې يې واچولو. د بادشاه خيال دا وو چې د ميلې په اوومه ورځ به پطروس ته د عوامو په وړاندې سزا ورکړم.

هغۀ توله هفته مريدانو پطروس د پاره شپه او ورځ دعا وکړه. آخر د هغۀ د مرګ نه يو شپه مخکښې. آيا خدائ پاک هغه آزاد کړو؟

په جيل کښې دننه څلورو فوجيانو د پطروس نه ګيرچاپيره د هغۀ څوکيدارى کوله. پطروس د دوو فوجيانو په مينځ کښې په دوو ځنځيرونو تړلے پروت وو او بهر دوو نورو څوکيدرانو د دروازې څوکيدارى کوله. او پطروس هلته داسې لکه د ماشومانو په شان په کلک خوب اودۀ وو.

ناڅاپه يوه فرښته د هغۀ په وړاندې په جلالى نور کښې ودريده. هغې پطروس وخوزولو او بيدار يې کړواو ورته يې ووئيل، "زر شه! پاڅۀ!" او زنځيرونه د هغۀ د مړوندونو نه پريوتل. بيا فرښتې

هغۀ ته ووئیل چې "خپل پیزار په پښو کړه او خپله چوغه واچوه او په ما پسې راځه."

پطروس د هغۀ ومنل خو دا فکر یې کولو چې هغه خوب ګوری. خو دوی د فوجیانو اولنئ څوکئ ته ورسیدل، بیا دویمې ته او آخر د اوسپنې هغې دروازې ته ورسیدل کومه چې ښار ته وزی. او دروازه ورته په خپله خلاصه شوه او دغه شان هغوی بهر راووتل او په یوه کوڅۀ تیر شول او بیا فرښته د هغۀ نه لاړه.بیا پطروس په خود شو او هغۀ ووئیل چې "اوس دا حقیقت دے چې مالک خپله فرښته راولیږله او زۀ یې د خپلو دښمنانو نه بچ کړم!"

بیا پطروس د هلته نه سیده یو د دعا میټنګ ته لاړو. خو کله چې هغۀ دروازه وټکوله نو روده نومې

یو جینئ سوال جواب ته راغله خو چی
کله هغی د هغهٔ آواز واوریدو نو هغی
سمدستی د پطروس آواز وپیژندو. نو بیا
هغی د دروازی کولاولو په ځائے نورو ته د
خوشخبری ورکولو د پاره منډه کړه.
خو خلقو هغی ته ووئیل چی "ته لیونئ یئ!" خو
هغی ورته ووئیل "نه، زهٔ لیونئ نهٔ یم." بیا هغوی
خپلو کښی په دی خبره کلک شول چی "دا به
ضرورد هغهٔ فرښته وی." خو پطروس دروازه بیا بیا
ټکوله ترڅو هغوی دروازه کولاو کړه. هغوی ډیر
حیران وو چی کله هغوی پطروس وکتلو! بیا هغوی
ډیر خوشحاله شول او پوهه شول چی واقعی خدائ
پاک په رښتیا سره د خپلو خلقو دعا اوری.
اعمال د رسولانو ١٢ : ١ – ١٩

والدين:- ځکه زۀ تاسو ته وايم چې د هر
څۀ د پاره چې تاسو دعا يا سوال کوئ نو
په دے يقين ولرئ چې دا تاسو حاصل
کړو، نو ستاسو به شي.

(مرقوس ١١ : ٢٤)

ماشومان:- ١. کله چې پطروس په جيل کښې وو نو
مريدانو به څۀ کول؟
٢. چا پطروس د جيل نه آزاد (بچ) کړو؟
٣. چا د پطروس آواز وپيژندو؟

# پولوس او سیلاس په جیل کښې

## په شپه کښې ثناء او حمد ووئیل

څنګه چې کلیسا لوئیده نو ایمانداران د یروشلم نه خوریدل. او محنت کونکو جماعتونو د عیسیٰ "هغه لوئ کار" مکملولو چې ووئیلې وو چې زیرے (انجیل) په ټوله دنیا کښې خور کړئ.

پولوس او سیلاس په شمالی یونان کښې فیلیپی ته سفر وکړو. هلته هغوی څۀ خلقو ته تعلیم ورکړو څوک چې به اکثر هلته د دریاب په غاړه د دعا د پاره یو ځائے کیدل.

یوه ورځ پولوس او سیلاس یوی وینځې سره ملاو شول چا چې خپل مالکانو ته په غیب ووئیلو ډیری پیسی ګټلې. په دی د پولوس زړۀ ډیر خفه شوکله چې هغۀ ته پته ولګیده چې بدروح د هغې

په وسیله کار کوی. نو پولوس هغه بدروح ته مخ ورواړولو او ورته یی ووئیل چی "زۀ تا ته حکم درکوم چی دعیسیٰ مسیح په نوم د دی نه بهر راوزه!" هغوی په هغه ساعت د هغی نه ووتل.

کله چی مالکانو وکتل چی د دوی د گټی آسانه طریقه ختمه شوه نو هغوی پولوس او سیلاس ته ډیر غصه شول. هغوی پولوس او سیلاس ونیول او جج ته یی بوتلل. "دا سړی زمونږ په ښار کښی گړبړ پیدا کوی بلکه دوی یهودیان دی. دوی د هغه رسمونو تعلیم ورکوی کوم چی مونږ رومیانو ته منل او پری عمل کول منع دی."

ډیر زر پری گڼی حمله وکړه. او هغوی پولوس او سیلاس په کوړو وهل او بیا یی په جیل کښی واچول.

پولوس او سیلاس د درد او زخمونو نه باوجود هم خوشحاله او په امن وو. بیا په جیل کښې په نیمه شپه هغوی دعا او د مالک حمدوثناء وکړه. د دې نه مخکښې نورو قیدیانو داسې هیڅ نۀ وو اوریدلی. په یورپ کښې دا اولنے "روحانی مجلس" وو! د دې په وجه به د عیسیٰ مسیح زړۀ څومره خوشحاله شوی وی.

بیا ناڅاپه یو زوراوره زلزله راغله او د جیل ټول بنیادونه یې وخوځول. دروازې کولاو شوې او د ټولو جیلیانو زنځیرونو پخپله کولاؤ شول! خدائ پاک په رښتیا د هغوی د دعا جواب ورکړو. کله چې د جیل ساتونکے پاڅیدو او کولاو دروازې یې وکتلې. دا د هغۀ د پاره ډیر عجیبه وو ځکه چې هغۀ سوچ کولو چې ټول قیدیان تختیدلی دی. نو یقیناً هغۀ باندې به د بې‌احتیاطۍ الزام لګیدو. بیا

هغۀ په مایوسئ سره خپله توره راوویستله
چې ځان مړ کړی.

خو پولوس هغۀ ته آواز وکړو چې "ځان ته
څۀ نقصان مۀ رسوه ولې چې مونږ ټول دلته یو!"
نو بیا د جیل ساتونکی رڼا راوغوښتله، ورمنډې یې
کړې او د پولوس او سیلاس په وړاندې په مزکه
پریوتو او د ویرې نه رپیدلو. بیا هغۀ هغوی رابهر
کړل او وئې ووئیل چې "ائ صاحبانو! زۀ څۀ وکړم
چې خلاصون حاصل کړم؟" هغوی ورته ووئیل چې
"په مالک عیسیٰ باندې ایمان راوړه نو ته او ستا
کورنئ به خلاصون ومومی."

دا د جیل د ساتونکی او د هغۀ د کورنئ د پاره
څومره ښۀ شپه وه! د پولوس او سیلاس په زخمونو
د پټئ کولو نه پس هغوی ټولو ته سمدستې بپتسمه
ورکړې شوه. او بیا یو مزیداره روټئ هغوی ته

وړاندی کړے شوه او هغوی ټول د عیسیٰ په نوی ایمان کښی ډیر خوشحاله وو.

اعمال د رسولانو ١٦ : ١٦ — ۴۰

والدین:- ځکه کۀ ستا په خله دا اقرار وی چی عیسیٰ مالک دے او په زړۀ کښی د دا ایمان وی چی خدائ هغه د مړو نه راپاڅولو نو ته به خلاصون بیامومی.

(رومیان ١۰ : ۹)

ماشومان:- ١. کله پولوس او سیلاس حمدوثناء شروع کړه؟

٢. داروغه ولی ډیر پریشانه شو؟

۳. پولوس او سیلاس د جیل ساتونکی ته د څۀ کولو ووئیل؟

## ګورئ، زۀ ټول څيزونه نوی کوم

یوحنا هغه مرید وو چې عیسیٰ ورسره مینه کوله او تر بوډا توب پورې ژوندے وو. هغۀ به د عیسیٰ په باره کښې خبرې کولې او د خدائ پاک د کلام نه به یې تعلیم ورکولو نو په دې وجه د روم ظالم بادشاه هغه د اسرائیلو نه وشړلو او یو کاڼیزې او خشکې جزیرې ته ولیږلے شو چې ورته پتموس وائی.

یو سحر چې د مالک ورځ وه، یوحنا عیسیٰ په یو رویا کښې ولیدو. عیسیٰ هغۀ ته ووئیل چې، "په یو کتاب کښې هغه هر څۀ ولیکه څۀ چې تۀ وګورې." بیا یوحنا د آسمان دروازه کولاو وکتله. چې په کښې یو کس په تخت ناست وو او د

تخت نه چاپیره د بوډئ ځلیدونکے تال
وو. د هغهٔ په لاس کښې یو کتاب وو چې
د مستقبل په باره کښې وو. دا کتاب په
مضبوط مهرونو باندې بند کړے شوے وو.

بیا عیسیٰ هغه کتاب واخستو. صرف هم هغه د دې قابل او لائق وو چې هغه مهرونه کولاؤ کړی. بیا سمدستې په زرګونو او لکونو فرښتو او مشرانو د هغهٔ دا حمدوثناء شروع کړه چې، "هغه ګډورے چې حلال کړے شو، د دې لائق دے چې ټول قدرت، دولت، حکمت، لوئی، عزت، شان او تعریف ومومی!"

بیا عیسیٰ هغه مهرونه یو یو کولاؤ کړل. د هر مهر په کولاوولو یوحنا نوی واقعې او کارونه کتل، خو دنیا همیشه د خدائ پاک په قابو کښې ده. شیطان

چې د خدائ پاک دښمن دے هغه دنيا په
ګناه او زحمتونو کښې ډوبوی. خو عيسیٰ
هغۀ ته شکست ورکړو کله چې هغه مړ شو
او بيا ژوندے شو.
خدائ پاک هغه ټول زاړۀ څيزونو چې بدرنګ يا
ګډوډ وو ختم کړل. بيا يوحنا د عيسیٰ دا وينا
واوريده چې، "وګورئ! زۀ ټول څيزونه نوی کوم."
بيا مې يو نوے آسمان او زمکه وليده چې مکمله،
ښکلې او ښائسته وه. او بيا سمدستي مقدس ښار
يروشلم په آسمان کښې داسې ښکلې راښکاره شو
لکه چې ناوې د خپل وادۀ په ورځ ښکلې وی.
د دې نه پس يوحنا دا آواز واوريدو چې دا يې
ووئيل چې "ګورئ! اوس خدائ پاک د بنی آدمو په
مينځ کښې استوګنه کوی، هغه به د هغوی سره

پخپله اوسيږی. او خدائ پاک به د هغوی
د سترګو نه ټولی اوښکی وچی کړی. هغه
به سمندر او شپه ختمه کړی. او هلته به
غم، درد يا مرګ نهٔ وی."

د سمندر ختميدل مطلب نهٔ نوره جدائ، نهٔ نوره بی آرامی، او نهٔ نور د سمندر د چپو په شان ناقلاری.

د شپی ختميدلو مطلب نهٔ نور ړوندوالی، نهٔ تيارهٔ، نهٔ سوری او نهٔ نور خوبونه.

د غمونو د ختميدلو مطلب نهٔ نور تکليفونه، نهٔ تباهئ، نهٔ خفګان، نهٔ آفتونه او نهٔ نوری سزاګانی.

د ژړا د ختميدلو مطلب نهٔ نور ځوريدنه، نهٔ مايوسئ، نهٔ د زړهٔ درديدل او نهٔ نور غمونه.

د درد ختمیدلو مطلب نۀ نور دردونـه، نـۀ
خوارئ، نۀ زحمتونه، نۀ ستومانئ او نـۀ
نور تشدد.

د مـرګ ختمیـدلو مطلـب نـۀ نـوری بیمـارئ، نـۀ
خرابیدل، نۀ حادثه او نۀ نوره تنهائی.

بیا یوحنا دا ولیکل، "چـی بختـور دی هغـه خلـق
څوک چی د خدائ پاک حکمونه منی، هغوئ به د
ژوندون د ونی حق ومومی او ښار ته بـه پـه دروازو
ورننوزی."

عیسیٰ ووئیل "زۀ زر بیا راځم."

یوحنـا ورتـه د دنیـا د ټولـو ایمانـدارانو پـه ځـائے
جواب ورکړو. چی " آمین، مالک عیسیٰ راشه!"

مکاشـــفه ۱ : ۹ — ۱۱، ۴ : ۱ — ۳، ۵ : ۱۱ —
۱۲، ۲۱ : ۱ — ۲۷، ۲۲ : ۱۴

والدین:- نو بیا چی مونږ د هغه په
بادشاهۍ کښی شریک شوی یو چی لړزولی
نه شی نو ځکه دِ مونږ د هغۀ فضل
ونیسو، نو مونږ دِ د خدائ په ویری او زړۀ سواندی
سره د خدائ عبادت وکړو ځکه چی دا هغه
خوښوی. (عبرانیان ۱۲ : ۲۸)

ماشومان:- ۱. ولی یوحنا یوازی په یو جزیره کښی
وو؟
۲. چا په آسمان کښی حمدوثناء ووئیله کله چی
عیسیٰ د مستقبل کتاب کولاؤ کړو؟
۳. څوک به د خلقو د سترګو نه اوښکی وچی
کړی؟